

افغانیک

# افـــــغانان
# په استراليـــــــــاکي




پوهاند حمیدالله امین

۱۳۹۵

افـــــغانان په استراليـــــــاکي

Afghans In Australia

Afghanic




# Afghans
# In Australia

Prof. Hamidullah Amin

ISBN 978-9936-620-33-9

2016

# افغانان په استراليا کې

-دوهم چاپ-

ليکوال:
پوهاند حميدالله امين
۱۳۹۵

بسم الله الرحمن الرحيم


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | افغانان په استراليا کې |
| ليکوال | پوهاند حميدالله امين |
| خپروونکی | افغانيک |
| چاپکال | ۱۳۹۵، دوېم چاپ |
| چاپشمېر | ۱۰۰۰ |
| چاپځای | سهر مطبعه، کابل، افغانستان |

ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۲۰-۳۳-۹



د خپرندويې ادارې له ليکلې موافقې وروسته دغه کتاب بيا چاپېدلی شي.

# اهداء

هغو سپېڅلو قهرمانو افغانانو ته چې په پردي هېواد کې يې له وياړه ډکې کارنامې ترسره کړې دي.

# فهرست


د خپرندوی یادښت.......................................................أ

«افغانان په استرالیا کې»..........................................ب

پیلیزه.........................................................................ه

سریزه.........................................................................ل

**لومړی فصل**

اوښان په استرالیا کې...............................................۱

**دویم فصل**

استرالیا ته د افغانانو مهاجرت..................................۸

استرالیا ته راغلي افغانان څوک وو؟............................۱۱

**دریم فصل**

افغانان او د استرالیا په بېدیاوو کې علمي څېړنې.........۱۳

**څلورم فصل**

په ټوله استرالیا کې د افغانانو خپرېدل.........................۲۴

افغانان په جنوبي استراليا کې ........................ ۲۲
افغانان په نیو ساوت ویلز کې ........................ ۲۸
افغانان په لوېدیزه استرالیا کې ........................ ۳۱
افغانان په کوینزلند کې ........................ ۳۷
افغانان په مرکزي استرالیا کې ........................ ۳۸

## پنځم فصل

د افغانانو ستونزې ........................ ۴۳
اوښان او سپین پوستي ........................ ۵۱
افغانان او د سپینې استرالیا پالیسي ........................ ۵۳

## شپږم فصل

ملایان، جوماتونه او دیني مناسک ........................ ۶۳
جوماتونه ........................ ۶۴

## اووم فصل

مېرمنې او ودونه ........................ ۸۴
په افغاني کلیو کې ژوند ........................ ۹۳

## اتم فصل

وروستي کلونه ........................ ۱۰۲
د افغانانو د دورې پای ........................ ۱۱۷

## نهم فصل

د افغانانو کلي او هدیرې ........................ ۱۲۱

د بیلتانه کلی Beltana Ghantown ............................................ ۱۲۲
د فارینا کلی Farina Ghantown............................................ ۱۲۲
د خرماوو باغونه............................................ ۱۲۳
د مري کلی Marree............................................ ۱۲۵
د اودناداتا کلی Oodnadatta............................................ ۱۲۶
د الیس سپرنګز کلی Alice Springs............................................ ۱۲۷
د برک کلی Bourke............................................ ۱۲۸
د بروکن هل کلی Broken Hill............................................ ۱۲۹
د کولګاردي کلی Coolgardie............................................ ۱۳۱
په ادیلاید کې د افغانانو هدیره............................................ ۱۳۳
د کلانکري کلی Cloncurry............................................ ۱۳۴


لسم فضل

هغه څه چې له افغانانو څخه پاتې شول............................................ ۱۳۷
اوښان په اوسنۍ استرالیا کې............................................ ۱۴۷


یوولسم فصل

د افغانانو کلتوري انحلال............................................ ۱۵۴


دولسم فصل

استرالیا ته د افغانانو د هجرت دوهم پړاو ............................................ ۱۶۰

# د خپرندوی یادښت

افغانانو په پخوانیو پېړیو کې هم ګاونډیو او د سیمې هېوادونو ته سفرونه او مهاجرتونه کړي دي، خو هغه افغانان چې یو سلو پنځوس کاله مخکې استرالیا ته تللي دي، لومړۍ ډله افغانان دي چې خپل هېواد یې پرېښی او په زرګونو کیلو متره لرې بلې لویې وچې ته تللي او هلته مېشت شوي دي.
د دغه کتاب موضوع همدا ده. که څه هم کله چې یو تعداد خلک خپل پلرنی ټاټوبی پرېږدي او بل ځای کې ژوند کوي، دا لومړنی ځای او هېواد ته یوه ضایع ده او په ضرر یې تمامېږي، خو که مهاجرین بیا خپل کلتور او ژبه په پردیو هېوادونو کې وساتي او وپالي او هم د خپل لومړني ټاټوبي سره پوره اړیکې ونه شلوي، کله نا کله بیا راشي او حتی کار وکړي، نو بیا مهاجرت د دواړو هېوادونو لپاره په ګټه تمامېږي. پر دې سربېره دغه خلک د یو کور پر ځای دوه کورونه پیدا کوي.
د دغه کتاب لیکوال ښاغلی پوهاند حمیدالله امین له همدې جملې څخه دی. په استرالیا کې ژوند کوي، کورنۍ، بچیان او لمسیان یې هلته دي، خو دی د کلونو راهیسې خپل لومړني ټاټوبي افغانستان ته راځي، دلته د هېواد د راتلونکي نسل په روزلو کې مهمه ونډه اخلي. پوهاند صاحب امین په وروستیو کلونو کې د لوړو زده کړو په وزارت کې د امتحاناتو د کمېټې رییس، د کابل پوهنتون رییس، د لوړو زده کړو خصوصي موسساتو رییس او اوس د لوړو زده کړو وزارت د مشاور په توګه خپلو خلکو او هېواد ته خدمت کوي.
خدای دې ده ته ښه ژوند او ښه روغتیا ورکړي، چې نور هم دلته پاتې شي او له استرالیا او نورو هېوادونو څخه همداسې تکړه افغانان د لنډ یا دایمي وخت لپاره راستانه شي.

په همدې هیله
یحیی وردک

# «افغانان په استراليا کې»

# زمونږ د تاریخ یوه بله پاڼه

افغانانو د تاریخ په اوږدو کې له ویاړه ډکه ډېرې کارنامې کړې، خو دا کارنامې لکه څنګه چې دي، هغسې د لیک په دایره کې نه دي راغلې او له خپل شان او کیف سره سمې نه دي ځلول شوې. نه یوازې تر هېواده بهر د افغانانو د اتلولیو د تاریخ ډېر ګوټونه ناڅرګند پاتې، بلکې په کور د ننه کې هم داسې سترې تاریخي پېښې او تاریخي شخصیتونه شته، چې پوره او کره څرګندتیا او ځلا یې لا اوس هم ډېر کار او زیار غواړي.

له نېکه مرغه په دې تېرې یوې، یوې نیمې لسیزې کې د افغانانو د تاریخ په تېره بیا معاصر تاریخ په باب ګڼ شمېر اثار چاپ شوي. دې اثارو کې د بهرنیو افغانپوهانو او خپله د افغان لیکوالو دواړو اثار شامل دي، چې د افغانستان د تاریخ ډېر تیاره ګوټونه یې روښانه کړي دي. دا دی «افغانان په استرالیا کې» تاریخي اثر د دې لړۍ یوه بله مهمه کړۍ ده، چې د هېواد پیاوړي لیکوال استاد پوهاند حمیدالله امین لیکلی دی.

دا تاریخي اثر لکه څنګه چې له نامه څخه یې ښکاري، په استرالیا کې د افغانانو ژوند، مهاجرتونو، کار، فعالیت او تجارت ته مختص شوی دی.

په دې کتاب کې استرالیا ته د افغانانو د لومړي مهاجرت، د لارې د ستونزو، هلته د مېشته کېدنې، په استرالیا کې د دوی پر وړاندې د تبعیضي چلند، د افغانانو د کار، فعالیت، تجارت او په مجموعي ډول د افغانانو د کارنامو په باب هر اړخیز معلومات وړاندې شوي.

لیکوال په ډېر دقت سره د هغو بهرنیو لیکوالو اثار چې په استرالیا کې د افغانانو په باب لیکل شوي له نظره تېر کړي او خپله یې هم د معلوماتو د راټولولو لپاره استرالیا مېشتو پخوانیو او اوسنیو افغانانو ته د لومړي لاس د اخځ په توګه مراجعه کړې او کره معلومات یې ترې راټول کړي دي. د استرالیا بېلا بېلو سیمو ته چې کوم ځای کې د افغانانو د ژوند څرک

لګېدلی یا ترې د کورونو او مسجدونو په څېر د ژوند نښې پاتې، ورغلې او په تصویري او نقشه ییز ډول یې دا اسناد په کتاب کې خوندي کړي دي.
د دې کتاب له لوستو څخه سړی دا نتیجه اخستلای شي، لکه څنګه چې افغانان په جنګ، توره او مېړنتوب کې مشهور دي، تر هغه زیات په زغم، تحمل، فرهنګ جوړونه او تمدن جوړونه کې ښه استعداد لري، خو د افغانانو د استعداد دې اړخ ته لیکوالو خصوصاً بهرنیو لیکوالو ډېره پاملرنه نه ده کړې. له نېکه مرغه چې په دې اثر کې پر دې اړخ باندې هم زیاته رڼا اچول شوې. لیکوال په استرالیا کې د افغانانو په باب لیکي: «دوی د پنځو شپېتو کلونو لپاره د استرالیا په لویې وچې کې د ترانسپورتي نظام بشپړ کنترول په لاس کې درلود، ځکه نو د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي او د شلمې پېړۍ په لومړیو شلو کلونو کې په استرالیا کې د تجارت او اقتصاد وده او همدا شان د استرالیا په مرکزي برخو کې د علمي څېړنو پرمختګ ټول د دوی د زیار او هاند نتیجه ده.»
لیکوال زیاتوي: «اوس د استرالیا حکومت هغه جوماتونه چې دوی (افغانانو) جوړ کړي وو، د دوی یو شمېر کلي او حتی هدیرې د هېواد د تاریخي آثارو په توګه پېژني او د هغو ساتنه کوي، ځینې پارکونه، سړکونه او حتی د غرونو څوکې د دوی په نومونو یادېږي او هغو اورګاډو چې په جنوبي استرالیا کې د ادیلاید له ښار څخه په شمالي استرالیا کې د Alice Springs ښار ته په پخوا وختونو کې تګ راتګ کاوه او د افغانانو په نوم یادېده، یو ځل بیا یې (Ghan Express) په نامه چې هماغه تاریخي نوم دی، په فعالیت پیل کړی دی.
افغانان په استرالیا کې، اثر پر یوې پیلیزې او سریزې سربېره یوولس څپرکي لري، چې «اوښان په استرالیا کې» پر موضوع پیل او د «افغانانو کلتوري انحلال» پر موضوع پای ته رسېږي.
لیکوال د هرې موضوع په باب مستند شواهد، تصویرونه او اسناد وړاندې کوي او لوستونکو ته د افغانانو د ژوندانه په هکله یو روښانه تصویر

وړاندې کوي.
د کتاب او چتې معیاري ژبې او کیسه ییز بیان، د اثر خوږلني نوره هم زیاته کړې ده او لوستونکی تر پایه له ځانه سره ساتي.
زه قدرمن استاد پوهاند حمید الله امین ته د دغه خورا مهم کتاب د لیکلو او چاپ لـه املـه مبارکي وایم او رڼا علمي مرکز ته کور ودانی، چې دا قیمتي اثر یې چاپ کړ او درنو لوستونکیو ته هم د دې مهم کتاب د چاپ مبارکي وایم او د لوستو بلنه ورکوم.

په مینه او درنښت

اسمعیل یون

# پيلـيزه

د انسانانو په ژوند انه کې مهاجرت، يا له يو ځای څخه بل ځای ته تلل، ډېره پخوانۍ پديده ده. انسانان د نړۍ پر مخ د دوی د پيدا ايښت لـه لومړيـو وختونو څخه را پـه د بخوا تـل د مختلفو فزيکي، اجتماعي، اقتصادي او سياسي عواملو له امله له يو ځای څخه بل ځای ته کډه شوي دي. طبيعي ده چې پـه لومړيـو وختونـو کـې کلـه چـې تکنـالوژۍ پرمختـګ نـه و کـړی، نـو مهاجرتونه هم محدود وو او يوازې به په لنډ واټن کې پرتو سيمو تـه تـر سره کېدل، خو له اتلسمې پېړۍ او په خاصه توګه له صنعتي انقلاب څخه را پـه د بخوا د دې ډول مهاجرتونو په څرنګوالي کې د مهاجرو د شمېر او د دوی د سفر د واټن په برخه کې څرګند بدلون رامنځتـه شو او مهاجرتونـه، حتـی لـه يوې لويې وچې څخه بلې لويې وچې ته هغه هم په زيات شمېر سره پيل شول. شک نشته چې وروسته بيا کله چې هېوادونه په اوسنۍ بڼه را څرګند شول، نـو پـه تـدريجي ډول د آزادو مهـاجرتونو پـر وړانـدې خنډونـه هـم را منځتـه شول.

مهاجرتونه که هر ډول وي، خو دواړو سيمو يعنې هغه سيمې چې مهاجر لـه لاسه ورکوي او يـا هغـه سيمې چې مهـاجر منـې پـر ټـولنيز، اقتصـادي او سياسي چاپېريال د پاملرنې وړ اغېزې لرلای شي چې ممکن لـږ او يـا خـورا څرګندې وي. نن سبا په نړۍ کې داسې هېوادونه هم شته چې د دې ټولنې د همدې ډول مهاجرتونو لـه املـه چې لـه اتلسـمې پېړۍ را پـه د بخوا تـر سره شوي، جوړ دي. له دې هېوادونو څخه يو استراليا دی چې نـن سبا پـه کـې د زياتو قومونو خلک استوګنه لري، چې ټولـو يـې د دې هېـواد پـه پرمختـګ کې ونډه لرلې ده. د هغو قومونو په لړ کې چې استراليـا تـه مهـاجر شوي او د دې هېواد په ودانولو کې يې برخـه اخيسـتې، افغانـان هـم د يـادونې وړ دي. افغانان هم د نورو خلکو په شان د نړۍ ګوټ ګوټ ته مهاجر شوي، خـو هغـه

ونډه چې دوی د استرالیا په ودانولو کې لرلې، په بل هېڅ هېواد کې هم نه ده لیدل شوې. حیرانوونکې خبره دا ده چې د افغانانو د دې کارنامو په اړه نړۍ خو لا پرېږدئ چې په افغانستان او استرالیا کې هم ډېر لږ معلومات خپاره شوي او ډېر لږ خلک له هغوی څخه خبر دي. رښتیا خبره خو دا ده چې زه پخپله هم سره له دې چې په پوهنتون کې د تاریخ او جغرافیې د څانګې محصل وم، خو له دې څخه چې یو زیات شمېر افغانان په نولسمې پېړۍ کې د کار په لټه استرالیا ته رسېدلي او مخصوصاً دا چې دوی د خپلې استوګنې په موده کې د ویاړ وړ کارونه سرته رسولي وو، هېڅ خبر نه وم، یوازې ډېر پخوا کله چې ماشوم وم له خپل پلار څخه مې اورېدلي و چې یو شمېر افغانان د کار په لټه کې حتی استرالیا ته هم تللي وو. هغه وخت ما په دې اړه زیاته مینه ونه ښودله ځکه نو خبره همدلته پاتې شوه. د دې ناپوهۍ علت ممکن دا و چې له جغرافیایي پلوه استرالیا لرې پروت هېواد و او د نړۍ په اقتصاد او سیاست کې یې زیات اغېزمن رول نه درلود. استرالیا ته تګ راتګ ډېر ګران و. په استرالیا کې چې د سپینې استرالیا پالیسي پکې روانه وه، له افغانانو سره ډېر ناوړه چلند کېده، ځکه نو که څه هم استرالیا ته د تللو په وخت کې له دوی سره قراردادونه لاسلیک شوي او دوی ته سره او شنه باغونه ښودل شوي و، خو هغه د چا خبره چې یو ځل له تورو اوبو واوښتل، نور نو د دوی پته ونه لګېده؛ ځکه چې نه د دوی لیک او لوست زده و او نه یو منظم پوستي نظام وجود درلود. په دې سربېره دوی چې ټول کوچیان وو، تل له خپلو اوښانو سره د استرالیا په لویې وچې کې له یو ځای څخه بل ځای ته په خوځېدو کې وو، ځکه نو کومه ثابته پته یې هم نه درلوده. له افغانستان او د هغه له شاوخوا سیمو څخه هر کال یو شمېر افغانان له خپلو اوښانو سره استرالیا ته روان وو، خو له دوی څخه به یو هم بېرته نه راستنېده تر څو د دوی پاتې کسان د دوی په احوال خبر کړي. له بل پلوه څرنګه چې د دوی په مقابل کې سخت تبعیضي چلند روان وو، ځکه نو د استرالیا مطبوعاتو هم د دوی په اړه هېڅ نه لیکل. یوازې د ۱۹۸۰ لسیزې

په وروستیو کلونو کې د ګڼ ملتي (Multicultural) پالیسۍ په رڼا کې د افغانانو په اړه هم څېړنې پیل شوې او د ګوتو په شمېر یو څو آثار د دوی د ژوند ، هڅو ، کړاوونو او بریالیتوبونو په هکله ولیکل شول. لنډه دا چې زه یوازې هغه وخت چې د مهاجر په توګه استرالیا ته راغلم او په دې اثارو مې سترګې ولګېدې، نو کرار کرار په استرالیا کې د افغانانو په مهاجرت او د استرالیا په تاریخ کې د دوی په ونډې وپوهېدم. ما چې هر څومره د دوی په اړه زیات معلومات تر لاسه کړل او حتی په وروستیو کلونو کې د دوی له اولادونو سره د لیدنې کتنې زمینه راته برابره شوه ، نو په دې خبرې باوري شوم چې دوی په استرالیا کې له ویاړه ډک تاریخ لرلی دی. دوی که څه هم د شمېر له پلوه په استرالیا کې د نورو قومونو په پرتلې ډېر لږ وو ، خو داسې لوی کارونه یې په دې هېواد کې سر ته رسولي چې بل هېڅ قوم له هغو سره سیالي نه شوای کولای.
دوی د شپېتو کلونو لپاره د استرالیا په لویې وچې کې د ترانسپورتي نظام بشپړ کنترول په لاس کې درلود ؛ ځکه نو د نولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي او د شلمې پېړۍ په لومړیو شلو کلونو کې په استرالیا کې د تجارت او اقتصاد وده او همدا شان د استرالیا په مرکزي برخو کې د علمي څېړنو پرمختګ ټول د دوی د زیار او هاند نتیجه ده. دوی له ډېرو سختو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو سره سره په استرالیا کې د خپلې استوګنې په موده کې داسې کارنامې لرلي چې هر افغان ته د ویاړ وړ دي. اوس حتی هماغه متعصب لیکوال چې یو وخت یې له دوی څخه کرکه کوله او دوی ته یې په سپک نظر کتل، په دې خبره اعتراف کوي چې کوم خدمتونه چې همدې ساده، بېسواده او پخپل دین او عنعناتو مَینو پښتنو کوچیانو د استرالیا په ودانولو او پرمختګ کې سرته رسولي د استرالیا په بل هېڅ ملیت او قوم کې ساری نه لري. اوس د استرالیا حکومت هغه جوماتونه چې دوی جوړ کړي وو ، د دوی یو شمېر کلي او حتی هدیرې د هېواد د تاریخي اثارو په توګه پېژني او د هغو ساتنه کوي. ځینې پارکونه، سرکونه او حتی د

غرونو څوکې د دوی په نومونو یادېږي او هغوی اورګاډو چې په جنوبي استرالیا کې د اډیلاید له ښار څخه په شمالي استرالیا کې د Alice Springs ښار ته په پخوا وختونو کې تګ راتګ کاوه او د افغانانو په نوم یادېده، یو ځل بیا یې د (Ghan Express) په نامه چې هماغه تاریخي نوم دی، په فعالیت پیل کړی دی.
د ۲۰۰۴ کال د فبروري په میاشت کې د استرالیا په جنوب کې د اډیلاید له ښار څخه د دې هېواد په شمال کې د داروین تر ښار پورې، د ۲۹۷۹ کیلو مترو په اوږدوالي د اورګاډو یوه نوې پټلۍ پرانستل شوه چې بیا هم د افغانانو په نامه (The Ghan) ونومول شوه.
د ۱۹۹۵ کال د جون په میاشت کې د استرالیا له مختلفو ایالتونو څخه یوې ډلې افغانانو داسې پرېکړه وکړه تر څو ټول په ګډه د دې افغانانو د ویاړونو د را ژوندي کولو او د دوی د یادونو د تازه ساتلو په مقصد د بروکن هل په ښار کې سره راټول شي او د هغه افغان پر هدیره د ګلانو ګېډۍ کېږدي، چې د لومړني افغان په توګه په کال ۱۸۶۲ کې په استرالیا کې مړ شوی او بروکن هل ته نژدې په میننډي (Menindee) نومي ځای کې خاورو ته سپارل شوی دی. د استرالیا له درېیو ایالتونو (ویکتوریا، نیو ساوت ویلز او جنوبي استرالیا) څخه نژدې پنځوس تنه افغانان په بروکن هل کې سره یو ځای شول. د سهار د لمانځه لپاره ټول په ملي جامو کې د بروکن هل جومات ته ورغلل چې افغانانو جوړ کړی او اوس د دې ښار له تاریخي اثارو څخه ګڼل کېږي. افغانانو د سهار د لمانځه له ادا کولو وروسته د پاک قرآن ختم وکړ او د نولسمې پېړۍ د مهاجرو ارواحو ته یې دعا وکړه. جومات ته یو زیات شمېر خبریالان او د هغو پخوانیو افغانانو ځینې لونې، زامن او لمسیان هم راغلي وو. په راغلیو کسانو کې یوه ښځه هم وه چې (روزان) نومېده. روزان ویل چې د دې پلار شمعروز نومېده او په ۱۸ کلنۍ کې استرالیا ته راغلی و. دې دا هم ویل: څرنګه چې د دې د پلار عمر ډېر کم و، ځکه نو دلته یې په استرالیا کې د کار لپاره قرارداد نه درلود، دا ځکه چې دی په پټه هغې

بېړۍ ته ختلی و چې د استرالیا په لور روانه وه او نور افغانان او د دوی اوښان یې بار کړي وو. دې ویل چې پلار یې شپېته کاله پخوا کله چې دا کوچنۍ انجلۍ وه مړ شوی و. دا یې هم ویل چې پلار به یې له دوی سره په پښتو ژبه خبرې کولې او د خپل پلار له خبرو څخه یې یوازې یوه جمله چې دا یې په معنا هم نه پوهېده په یاد پاتې وه. روزان ویل: چې کله به دوی شوخي کوله نو پلار به یې د دوی غوږونه راکارل او ورته به یې ویل چې شوخي مه کوئ. یو خبریال له روزان څخه چې د افغانانو تر منځ خوشحاله برېښېده وپوښتل چې په همدې شېبه کې خپل احساس ورته بیان کړي. روزان په ځواب کې ورته وویل چې دا په دې شېبې کې چې د خپلو خلکو په منځ کې ده، د خپلې خوشحالۍ بیان په الفاظو نه شي کولای.

روزان ماته کیسه وکړه چې څو کاله پخوا د دې جومات د لیدو لپاره یو شمېر مسلمانان راغلي وو. دې ویل ماته چا خبر راکړ چې جومات ته خلک راغلي دي، په دې فکر کې وم چې ګوندې جومات ته راغلي خلک به افغانان وي، ځکه نو په ډېرې بېړې مې ځان جومات ته را ورساوه، خو چې خلک مې ولیدل زما پلار او تره ته هېڅ ورته نه وو. وروسته ښکاره شوه چې دا د جنوب ختیزې آسیا د کوم هېواد مسلمانان وو. ما خپل دوست ته چې زه یې جومات ته راوستې وم وویل چې زه له دې خلکو سره څه نه لرم، ولې چې دوی مسلمانان دي او زه عیسوۍ یم. زه د افغانانو په لټه کې یم چې زما پلار له هغو څخه و. روزان یو نسبتاً زاړه افغان ته چې کټ مټ د پښتنو کوچیانو کالي یې اغوستي وو ګوته ونیوله او ویې ویل چې د دې تره په څېره کې همدې سړي ته پوره ورته والی درلود. روزان چې کله دا خبره کوله په ژړا وه. له دې ځای څخه وروسته افغانان د میننډي (Menindee) کلي ته چې له بروکن هل څخه سل کیلو متره لرې د یو سیند پر غاړه پروت دی، ولاړل او هلته یې د دوست محمد په نامه د هغه لومړني افغان پر هدیره چې په کال ۱۸۶۲ کې مړ شوی او دلته خاورو ته سپارل شوی و د ګلانو ګېډۍ کېښودې او د هغه روح ته یې دعا وکړه. د سیمې ښاروال چې د افغانانو د

ډلې له ورتګ څخه پخوا خبر شوی و، د دوست محمد هدیره چې اوس په بروکن هل کې د هېواد له تاریخي آبداتو څخه ده، د هغې له چاپېریال سره ښه جوړه کړې وه. افغانانو بروکن هل ته په ستنېدو سره د دې ښار په یو پارک کې د وطن په دود جرګه وکړه او ځینې پرېکړې یې وکړې او د هغې ورځې په سبا بېرته د خپلو ایالتونو په لور وخوځېدل. بروکن هل ته د افغانانو دې سفر، د دوی ملي جامو او ملي اتڼونو د سیمې په ورځپاڼو او تلویزیون کې پراخه انعکاس وموند.



بروکن هل ته ورغلي افغانان د پخوانیو افغانانو له زامنو سره په عکس کې د
شمعروز لور روزان لیدل کېږي

د همدې سفر د وړاندیزونو له امله وو چې د بروکن هل جومات وروسته بیا په اساسي توګه ترمیم کړای شو. په راتلونکو کلونو کې هم د افغانانو ډلې په منظم ډول څو کاله بروکن هل ته ورغلې، په دې توګه لړ تر لړه د سیمې خلک د افغانانو له ژوند سره بیا آشنا شول او د دوی په باب لیکنو په مطبوعاتو کې پراخه انعکاس وموند.

ما په لومړي سر کې پتېیلې وه تر څو په استرالیا کې د دې افغانانو په ژوندانه یو لړ علمي تحقیقات تر سره کړم، خو وروسته مې دا پرېکړه بدله کړه، یو خو دا چې د دې ډول علمي څېړنې د سرته رسولو لپاره زیات وخت

او منابعو ته اړتیا وه چې ما نه درلوده او بل دا چې په وروستیو کلونو کې یو شمېر ډېر ښه تحقیقي آثار په دې باب له چاپه راوتلي وو. د دې آثارو لیکونکو له هغو افغانانو سره هم مرکې کړې وې چې دا مهال ټول مړه وو. په دې آثارو کې د Christine Stevens په نامه د Tin Mosques and Ghan Towns کتاب د زیاتې پاملرنې وړ دی چې د ټولو علمي موازینو په نظر کې لرلو سره، یو خورا مهم تحقیقي اثر بلل کېدای شي. کرستین ستیونز[1] د دې اثر د لیکلو لپاره زیات زیارونه وګالل، د استرالیا ګوټ ګوټ ته یې سفرونه وکړل، د افغانانو له بچیانو او لمسیانو سره یې ولیدل او نږدې ټول هغه اثار یې چې د افغانانو په باب لیکل شوي او چاپ شوي وو ولوستل، ځکه نو په وروستي پړاو کې مې پرېکړه وکړه تر څو په خاصه توګه د همدې اثر په زړه پورې برخې وژباړم او خپلې لیدنې کتنې هم پرې ور زیاتې کړم، ځکه د دې کوچني اثر له چاپولو څخه اصلي مقصد افغانانو ته په استرالیا کې د دوی د پخوانیو ویاړونو په ګوته کول او ور پېژندل دي.

1. Christine Stevens, Tin Mosques and Ghan Towns, Oxford University Press , 1989

# سریـزه

د نړۍ د هېوادونو په لړ کې استرالیا د پراختیا له پلوه شپږم (۷،۷ ملیون مربع کیلو متره ) هېواد او د شپږو براعظمونو په لړ کې تر ټولو کوچنۍ لویه وچه ده، چې پراخوالی یې د افغانستان په پرتلې نژدې دولس ځله زیات دی.
دا هېواد سره له دې چې په جنوبي نیمه کره کې بحرالکاهل او د هند بحرونو چاپېره کړی، په منځنیو او صحرایي برخو کې وچه هوا لري، حال دا چې مناسب بحري موقعیت او کافي لندبل یې د هېواد په ساحلي برخو کې د یو زیات شمېر او سېدونکو لپاره د ژوند مناسب امکانات منځته راوړي دي.
استرالیا د نړۍ له پرمختللیو صنعتي هېوادونو څخه دی او د زیاتو کاني او زراعتي منابعو د درلودلو له پلوه په نړۍ کې لومړی مقام لري، په دې سر بېره دا هېواد د زیاتو نورو کاني، صنعتي او زراعتي موادو د تولید له پلوه هم په نړۍ کې لوړ مقام لري.
استرالیا له اداري پلوه په شپږو ایالتونو (لوېدیزه استرالیا، جنوبي استرالیا، ویکتوریا، نیو ساوت ویلز، تسمانیه او کوینزلند )، د شمالي او پایتخت په دوو فدرالي منطقو وېشل شوی دی. استرالیا په فدرالي سیستم اداره کېږي او پایتخت یې د کانبیرا ښار دی.
د دې هېواد ډېر پخواني او سېدونکي هغه تور پوستي دي چې اوس دلته په استرالیا کې د (Aborigines) په نامه یادېږي. د استرالیا تورپوستي چې اوس د شمېر له پلوه د هېواد د وګړو یوازې په سلو کې یونیم جوړوي، نږدې پنځوس زره کاله پخوا له جنوب ختیزې آسیا څخه دې هېواد ته راغلي دي.
په اروپا کې هالندیان هغه لومړني خلک دي چې دا هېواد یې د لومړي ځل لپاره لیدلی او د هغه په باب یې په کال ۱۲۰۲ کې لیکلي دي، خو له ۱۷۸۷ کال څخه را دېخوا انګریزان هغه لومړني اروپایان وو، چې په دې هېواد کې یې استوګنه غوره کړه، ځکه نو استرالیا تر کال ۱۹۰۱ پورې د انګرېزانو

مستعمره پاتې شوه. په ټولې همدې مودې او له هغه وروسته کلونو کې انګرېزان او ایرلندیان په زیات شمېر په دې هېواد کې مېشت شول، ځکه نو اوس د هېواد اکثریت اوسېدونکي هم انګرېزان او ایرلندیان دي او دا ځکه چې د خپلواکۍ له کال (۱۹۰۱) څخه وروسته دې هېواد ته د سپینې استرالیا (White Australia) د پالیسۍ له مخې یوازې انګریزانو او ایرلندیانو ته د مهاجرت اجازه ورکول کېده، حال دا چې له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته، په تدریجي ډول د نورو اروپایي هېوادونو اوسېدونکي هم د مهاجرو په توګه ومنل شول. له ۱۹۷۰ لسیزې را په دېخوا دې پالیسۍ نور هم بدلون ومونده. د سپینې استرالیا پالیسي د مهاجرت په هکله بنده شوه او د (Multiculturalism) یا ګڼ ملتي په نامه نوې پالیسي د هغې په ځای ومنل شوه. د نوې پالیسۍ د اساساتو له مخې د مهاجرت په اړه پخوانی تبعیضي چلند له منځه ولاړ، ځکه نو د نورو هېوادونو اوسېدونکو او د نورو ملیتونو خلکو ته هم په استرالیا کې د اوسېدو حق ورکړل شو. د مهاجرت په برخه کې د پالیسۍ د همدې بدلون له امله اوس په استرالیا کې له یو سل او څلوېښت څخه د زیاتو ملیتونو خلک استوګنه لري، ځکه نو د زیاتو ملیتونو د خلکو د لرلو له پلوه اوس استرالیا د اسرائیلو له هېواد څخه وروسته د نړۍ دوېم هېواد دی.
استرالیا ته د مهاجرو له مختلفو ډلو څخه، یو هم هغه افغانان دي چې په افغانستان کې د کمونستي کودتا او له هغه وروسته د جګړې د دوام له امله په دې هېواد کې مېشت شوي دي. له اوسنیو افغانانو پخوا یوه بله ډله افغانان هم په نولسمې پېړۍ کې دې هېواد ته راغلي دي. د نولسمې پېړۍ افغانان د اوسنیو افغانانو پر خلاف، له خپلو اوښانو سره د کار لپاره دې هېواد ته راغلل. دوی سره له دې چې زیاتو یې سواد هم نه درلود او خپل ساده پښتني ژوند ته یې تر پایه پورې دوام ورکړ، خو داسې کارنامې یې د دې هېواد په تاریخ کې ثبت کړې دي، چې د افغانانو راتلونکي نسلونه به وربانديې ویاړي. په لنډ ډول د یوې استرالیایي لیکوالې کرستین ستیفنز

(Christine Stevens) پــه وینــا ، دوی هغــه قهرمانــان دي چــې کــه دوی استرالیا ته راغلي نه وای، نو لږ تر لږه به په منځنۍ استرالیا کې ټول لاسته راغلي بریالیتوبونه پنځوس کاله ځنډېدلي وای. لـه بده مرغـه د دې افغـاني قهرمانانو په اړه د وخت د تبعیضي سیاست په رڼا کې ډېر لږ څه لیکل شوي دي. د یو بل استرالیایي لیکوال په وینا ، په داسې حال کې چې د استرالیا په ودانولو او پرمختګ کې مو د افغانانو د اوښانو خدمتونه ستایلي، خو پخپله د هغو افغانانو پـه خدمتونو مـو چې کلونـه کلونـه یـې د استرالیا پـه وچـو بېـدیاوو کـې لـه دې اوښـانو سـره مـزل کـړی او ډول ډول کړاوونـه یـې ګاللي، سترګې پټې کړې دي.

له بده مرغه چې په افغانستان کې هم د دې افغانانو پـه کارنـامو پټـه خولـه ساتل شوې او په دې ټوله موده کې زموږ په مطبوعاتو او یا داسې کتابونو کې د دې افغانانو او د هغوی د کارنامو هېڅ یادونه نه ده شوې او سنۍ هڅه هم د همدې خلا د ډکولو په هیله تر سره شوې ده. هیله من یو چې لـه دې لارې د دې قهرمانو افغانـانو پـه ژوند انـه څه نا څه رڼا واچول شي او د افغانـانو راتلونکي نسلونه د خپلو نیکونو د لـه ویـاړه ډک تـاریخ د یـو بـل فصـل پـه هکله معلومات تر لاسه کړي.

# اوښان په استرالیا کې

د نولسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې، د برتانیې امپراتورۍ د هند په نیمه قاره کې په چټک ډول پرمختګ کاوه. د افغانانو او انګرېزانو له لومړۍ جګړې (۱۸۳۸-۱۸۴۲) څخه وروسته، انګرېزانو پر ټول شمالي هند باندې بشپړ کنټرول تر لاسه کړ. په ۱۸۵۸ کال انګرېزانو په هند کې د شرق الهند د کمپنۍ فعالیت ودراوه او پر ځای یې د دې مستعمرې اداره په مستقیم ډول د برتانیې د حکومت لخوا پیل شوه. په همدې وخت کې چې د برتانیې امپراتورۍ په شمالي هند کې ټینګېده، د نړۍ په یوې بلې برخې یعنې د دوی د استرالیا په مستعمراتو کې اقتصادي فعالیتونه، لکه کرنې او د څارویو روزنې پراختیا موندله. د ۱۸۴۰ کال په شاوخوا کې مهاجرین د نیوساث ویلز، کوینزلند او ویکتوریا په مستعمراتو کې د استرالیا د منځنۍ برخې په لور پر مخ ولاړل او د جنوبي استرالیا په مستعمره کې هم زیات نور خلک مېشته شول. سربېره پر دې هغو خلکو چې د استرالیا مرکزي برخو ته سفرونه کړي وو، دا رپوټونه خپاره کړل چې ګویا د استرالیا په مرکزي برخو کې هم داسې سیمې زیاتې دي چې کرنه او د څارویو روزنه پکې تر سره کېدای شي. دا ډول رپوټونو زیات خلک وهڅول تر څو د استرالیا مرکزي برخو ته د څړځایونو په لټه کې کډه وکړي. د ۱۸۵۰ په لسیزه کې د سرو زرو موندلو په وکتوریا او نیو ساوت ویلز کې او د ۱۸۶۰ په لسیزه کې په کوینز لند کې زیات مهاجرین استرالیا ته د ورتګ لپاره و هڅول. په دې مهاجرو کې ځینې انګرېزان هم لیدل کېدل چې په عسکري او یا ملکي برخو کې یې خپل تقاعد په هند کې لاس ته راوړی و. له دې مهاجرو څخه یو جارج جیمز لیندلز (George James Landells) نومېده

چې څوارلس کاله يې په هند کې خدمت کړی و او د کراچۍ او پېښور تر منځ په لاره کې يې له اوښانو سره زيات سفرونه کړي وو. دی په ۱۸۴۲ کې له خپلې کورنۍ سره يو ځای استراليا ته راغی او د ۱۸۵۰ کلونو په شاوخوا کې يې د ملبورن په ښار کې استوګنه غوره کړه. هغه ليدلي و چې انګرېزان څه ډول په ډېرو سختو طبيعي شرايطو کې د مالونو د لېږدولو لپاره له اوښانو څخه کار اخلي. هغه همداشان ليدلي و چې په افغانستان او بلوچستان او د هند په ځينو صحرايي سيمو کې اوسېدونکي مخصوصاً کوچيان څرنګه له اوښانو څخه ګټه اخلي.
وکتوريا ته د ليندلز له راتګ سره سم، د دې مستعمرې حکومت په دې لټه کې و تر څو د دې سيمې په منځنيو برخو کې د علمي څېړنو په سر ته رسولو کې له اوښانو څه ګټه واخلي. سره له دې چې له اوښانو څخه ګټه اخيستنه له پخوا څخه په استراليا کې پېل شوې وه، له دې څخه پخوا کله چې اروپايان استراليا ته راغلل، نو آسان او غوايان يې هم له ځان سره دې هېواد ته راوړل تر څو د نقليه وسايطو په توګه ور څخه کار واخلي. په ساحلي برخو، يا په هغو برخو کې چې اروپايان لومړی مېشته شول، دا ډېره مناسبه وسيله وه. سربېره پر دې د ۱۸۳۰ لسيزې په لومړيو کلونو کې د آسونو او غوايانو صادرول هندوستان ته پيل شول. له بل پلوه د ۱۸۳۰ او ۱۸۴۰ لسيزو په ترڅ کې ټولې ساحلي سيمې چې مناسب طبيعي شرايط يې لرل، د بزګرانو او څارويو د روزونکو له خوا تر ګټې اخيستنې لاندې راغلې وې؛ ځکه نو نويو مهاجرينو د استراليا د منځنيو برخو سيمو ته مخه کړه چې طبيعي شرايط پکې ډېر سم نه وو.
هغه وخت د استراليا اوسېدونکو د دې لويې وچې د منځنيو برخو په اړه هېڅ ډول معلومات نه لرل. زياتو يې داسې اټکل کاوه چې د استراليا په منځنيو برخو کې به هم اوبه او سيندونه وي، غرونه به وي، ځنګلونه به وي او په دې توګه به په کې د کرنې او يا د څارويو د روزنې لپاره مناسب امکانات وموندل شي.

هر څومره چې د منځنيو سيمو په لور پر مختګ دوام کاوه، د نقليه وسيلو په توګه له آسانو او غوايانو څخه د ګټې اخيستنې امکانات او موثريت په کمېدو و، په مقابل کې يې له اوښانو څخه د ګټې اخيستلو ضرورت ورځ په ورځ زياتېده. د شته اسنادو له مخې د لومړي ځل لپاره د ۱۸۳۷ کال د فبروري په مياشت کې د نيو ساوت ويلز ګورنر له خپلو مامورينو څخه يو وړانديز تر لاسه کړ چې په هغه کې له هندوستان څخه د اوښانو د راوړلو غوښتنه شوې وه. د ۱۸۳۹ کال د سپتامبر په مياشت کې يو بل ژورنالست هم د سدني په يوې ورځپاڼې کې استراليا ته د اوښانو د راوړلو اړتيا ته ګوته ونيوله، خو دا وړانديز له تود هرکلي سره مخامخ نه شو. يو کال وروسته د جنوبي استراليا ګورنر، انګرېزي کمشنر ته وړانديز وکړ چې دې سيمې ته د اوښانو پر راوړلو باندې شپږ زره پونډه تر څو ولګوي، په دې توګه د درې کلونو په موده کې د استراليا د لويې وچې د منځنيو برخو جاج واخيستل شي. دا وړانديز په لندن کې ومنل شو او دوه مياشتې وروسته شپږ اوښان له شمالي افريقا څخه وپېرودل شول، خو له دې اوښانو څخه يوازې يو د ۱۸۴۰ کال د اکتوبر د مياشتې په ۱۲ نېټه د اديلايد بندر ته راورسېد او نور په لار کې مړه شول.

په دې توګه په ۱۸۴۲ کال کې له همدې يوه اوښ څخه د جنوبي استراليا په منځنيو برخو کې د علمي څېړنو په پرمخ بېولو کې کار واخيستل شو. همداشان د ۱۸۴۰ کال د دسمبر په مياشت کې دوه اوښان له کلکتې څخه په تسمانيې کې هوبرت ته راوړل شول، خو دا ښکاره نه ده چې دا اوښان د کوم مقصد لپاره راوړل شوي وو. دا دوه اوښان وروسته بيا د خرڅلاو لپاره سدني ته يوړل شول، خو هېچا يې پېرودلو ته زړه ښه نه کړ. په پای کې د نيو ساوت ويلز حکومت دا اوښان په ۲۲۵ پونډو وپېرودل چې د خلکو د ننداړو لپاره به ورڅخه کار اخيستل کېده. په همدې ډول د جنوبي استراليا يو اوسيدونکی هم کله چې په بېړۍ کې له لندن څخه د جنوبي استراليا په لور را روان و، څلور اوښان د افريقا په لويديزه برخه کې د کنري Canary له

ټاپوګانو څه وپېرودل چې له هغو څخه يې درې د لارې په اوږدو کې مړه شول او يوازې يو اوښ يې په ۱۸۴۵ کال کې استراليا ته راورسېد. دا اوښ وروسته بيا په يو بل استراليايي وپلورل شو چې نوموړي په خپلو څېړنو کې ور څخه کار واخيست، لږه موده وروسته نوموړی له همدې اوښ څخه ټپي او وروسته بيا مړ شو. وايي چې نوموړي پخپل وصيت کې د اوښ د له منځه وړلو غوښتنه کړې وه. زيات ليکوالان په دې باور دي چې په وچو سيمو کې له اوښانو څخه ګټه اخيستل په منظم ډول په ويکتوريا کې پيل شول؛ ځکه دا ايالت مخصوصاً د سرو زرو د کانونو په موندلو سره د ۱۸۵۰ لسيزې په شاوخوا کلونو کې له مالي پلوه د نورو ټولو ايالتونو په پرتلې د دې ډول تحقيقاتو د پر مخ بېولو لپاره مساعد مالي امکانات درلودل. د دې مقصد لپاره د ۱۸۵۸ کال د سپتامبر په مياشت کې د ملبورن د اوسېدونکو يوه عمومي غونډه راو بلل شوه تر څو په هغې کې د استراليا په منځنيو برخو کې د علمي تحقيقاتو د پر مخ بيولو جاج واخيستل شي. وروسته بيا د دې ايالت حکومت شپږ زره پونډه د دې ډول تحقيقاتو د پر مخ بيولو لپاره برابر کړل. يوه کمېټه د تحقيقاتو د پر مخ بېولو لپاره منځته راغله. کمېټې پرېکړه وکړه، چې دا ډول څېړنې د استراليا له جنوبي ساحل څخه پيل او د استراليا له منځنيو برخو څخه په تېرېدو سره په شمال کې د کارپنتاريا (Carpentaria) تر خليج پورې پراختيا ومومي. د کمېټې په لومړۍ غونډه کې دا پرېکړه هم وشوه چې لازمه ده تر څو د دې ډول څېړنو د پرمخ بېولو لپاره له اوښانو څخه کار واخيستل شي. د کمېټې د هغه اعلان په ځواب کې چې په تحقيقاتي ټيم کې يې د هغو کسانو د مقررېدو غوښتنه کوله چې د اوښانو تجربه او يا د هغو په هکله معلومات لري. اووه سوه تنو خپل غوښتنليکونه د ويکتوريا حکومت ته وسپارل. په دې غوښتنليکونو کې يو هم د ليندلز (Landells) و چې په استراليا کې يې د ټولو نورو اروپايانو په پرتلې د اوښانو په هکله زيات معلومات درلودل. ليندلز چې د شرق الهند کمپنۍ لپاره د آسونو په تجارت بوخت و، په خپل غوښتنليک کې

ویلي وو چې دی کولای شي په آسانۍ سره په هماغه بېړۍ کې چې د کراچۍ بندر ته په کې آسان وړي، د راتګ په وخت کې له هغې سیمې څخه استرالیا ته اوښان راوړي. لیندلز د ۱۸۵۸ کال د سپتامبر په پنځلسمه، له ۱۵۰ آسانو سره د کلکتې په لور وخوځېد. د ۱۸۵۹ کال د جنوري په میاشت کې یې په کلکته کې له ملبورن څخه یو لیک تر لاسه کړ چې په هغه کې ده ته اجازه ورکړل شوې وه تر څو د ویکتوریا د حکومت لپاره څلورویشت اوښان وپېري او د هرو شپږو اوښانو لپاره د سیمې له اوسېدونکو څخه یو تن له ځان سره راولي. په لیک کې لیندلز سره دا ژمنه هم شوې وه چې دی به د علمي څېړنو په ټیم کې د مرستیال دنده پر غاړه لري؛ البته د څېړنو د ټیم مشري د Robert Bourke په نامه د پولیسو یو مامور ته ورکړل شوې وه. لیندلز د اوښانو په لټه کې د افغانستان په لور پر مخ ولاړ او د کابل، کندهار او پېښور له بازارونو څخه یې څلورویشت اوښان وپېرودل او د اوښانو د چلولو لپاره یې د دوست محمد ، احسان خان او بلوچ خان په نومونو درې تنه پښتانه افغانان له ځان سره استرالیا ته راوستل. ویل کېږي چې افغاني اوښانو او مخصوصاً له کندهار څخه اوښانو د استرالیا له طبیعي شرایطو سره په چټک ډول تطابق وکړ او د شمالي افریقا او یا په چین کې د باختري اوښانو په پرتلې د اوښانو مناسب جنس وګڼل شو؛ ځکه نو د دې ډول اوښانو واردولو په راتلونکو کلونو کې دوام وموند.
البته د اوښانو تجارت په دې ټوله موده کې د شخصي تجارانو لخوا عملي شوی دی. تر ۱۸۶۶ کال پورې یو شمېر نور اوښان او افغانان هم استرالیا ته راوستل شول، د مثال په ډول د ۱۸۶۰ کال په شاوخوا کې درې اوښان ملبورن ته راوړل شول چې د خلکو د ننداړو لپاره به ورڅخه کار اخیستل کېده. وروسته بیا د ویکتوریا د څېړنو کمېټه چې نوې جوړه شوې وه، د خپلو څېړنو لپاره دا اوښان تر لاسه کړل. تر دې وروسته څرنګه چې د مخه هم وویل شول، د ویکتوریا حکومت ۲۴ اوښان د علمي څېړنو د چارو د پر مخ بېولو په مقصد په ۱۸۶۰ کال له درې تنو افغانانو سره استرالیا ته راوړل.

په ۱۸۶۵ کال Thomas Elder ۱۲۴ اوښان او ۳۱ تنه افغانان د کراچۍ له لارې استرالیا ته راوړل. نوموړي له اوښانو سره د سفر کولو زیاتې تجربې درلودې او په کال ۱۸۵۲ کې یې له قاهرې څخه تر بیت المقدس پورې په اوښانو سفر کړی و ؛ ځکه نو د اوښانو په گټو ډېر پوه و. په دې ډول ده په جنوبي استرالیا کې له اوښانو څخه د گټې اخیستلو او د اوښانو د روزنې د لومړني مرکز بنسټ کېښود ، خو له دې نېټې وروسته د اوولسو (۱۷) کلونو لپاره په استرالیا کې د ننه او له هغه څخه بهر د اقتصادي شرایطو د خرابوالي له امله د اوښانو تجارت په ټپه ودرېد تر څو په ۱۸۸۳ کال بیا شپږ او ښان او په ۱۸۸۴ کال ۲۵۹ اوښان له تقریباً ۳۵ یا ۴۰ افغانانو سره راوستل شول. د ۱۸۸۴ کال اوښان د فیض محمد او تاج محمد په نامه دوه تنو افغانانو لخوا د توماس ایلدر (Thomas Elder) لپاره چې په هغو لومړیو کلونو کې په استرالیا کې د اوښانو لوی تجار و ، راوستل شول. نژدې دوه کاله وروسته ۲۵۰ نور اوښان هم له یو شمېر افغانانو سره دې هېواد ته راوستل شول. په همدې کال (۱۸۸۶) ، یو شمېر اوښان لوېدیزې استرالیا ته هم راوړل شول. یو کال وروسته ۲۰۰ نور اوښان هم په دوه بېړیو کې له ۸۵ افغانانو سره د لوېدیزې استرالیا د Fremantle بندر ته راورسېدل. دا اوښان د یو ډله افغانانو لخوا چې مشري یې د میر دوست خان پر غاړه وه راوړل شوي وو. په جنوبي استرالیا کې هم د فیض محمد او تاج محمد په نومونو دوه وروڼو په ۱۸۸۸ کال له ایلدر Elder څخه د څو اوښانو په تر لاسه کولو د اوښانو روزنه او تجارت پیل کړ. د دې دواړو وروڼو د تجارت مرکز د جنوبي استرالیا شمالي لور ته د مري (Marree) ښار و. داسې وایي چې د ۱۸۹۰ په لسیزه کې دې دواړو وروڼو ۹۰۰ اوښان د ځان لپاره لرل او د سلو تنو په شاوخوا کې افغانان یې استخدام کړي وو. ویل کېږي چې تر دې کلونو پورې د اوښانو د تجارت انحصار په کلي ډول د افغانانو په لاس کې و. په مقابل کې یې توماس ایلدر (Thomas Elder) چې په استرالیا کې یې د اوښانو تجارت پیل کړی و ، د اوښانو کاروبار

پرېښود ؛ ځکه نو دا کار د افغانانو لاس ته ورغی او د سلطان راز محمد په شان زیات شمېر افغانانو په Marree, Coolgardie او نورو سیمو کې د اوښانو د روزنې، خرڅلاو او تجارت مرکزونه پرانستل او له بهر څخه د اوښانو او افغانانو د راوستلو په کاروبار بوخت شول. په ۱۸۹۳ کال د کابل له شاوخوا څخه د عبدالواحد په نامه یو بل افغان هم استرالیا ته د ۳۴۰ اوښانو او ۴۹ افغانانو په راوړلو سره دا ډول تجارت پیل کړ. په هماغه کال د سلطان محمد او جمعه خان په نومونو دوه تنه نورو افغانانو هم څلور سوه اوښان او د پنځوسو تنو په شاوخوا کې افغانان د Port Augusta بندر ته راورسول. له ټولو افغانانو څخه چې د اوښانو په تجارت بوخت وو، د نیو ساوت ویلز د ایالت په لوېدیزه برخه کې د عبدالواحد کاروبار ښه رونق وموند. په دې توګه یې په ۱۸۹۵ کال وکولای شول چې په سیمې کې د ځینو اروپایانو په مرسته د انتقالاتو یوه لویه کمپنۍ منځته راوړي. دا کمپنۍ چې د Bourke په ښار کې جوړه شوې وه، مشري یې د عبدالواحد په لاس وه. وایي چې عبدالواحد په بلوچستان، کنهواز او د افغانستان په نورو سیمو کې نمایندګان درلودل، د هغو په مرسته به اوښان او افغانان استرالیا ته راوستل کېدل. عبدالواحد په وروستي ځل په ۱۹۰۳ کال ۳۵۰ اوښان له نژدې څلوېښت تنو افغانانو سره استرالیا ته راوړي وو. وایي چې په وروستي ځل پنځه سوه اوښان په ۱۹۰۷ کال د لوېدیزې استرالیا د Port Headland په بندر کې پلي شول. دا ځل راوړل شوي اوښان د نژدې لسو میاشتو لپاره په قرنطین کې وساتل شول؛ ځکه د څارویو روزونکو چې له افغانانو سره یې رقابت درلود، شکایت کړی و چې وارد شوي اوښان استرالیا ته مرضونه راوړي او د دوی د څارویو د وژل کېدو سبب ګرځېدلای شي. دې کار په پرت کې هغه ډله افغاني تجاران چې دا اوښان یې وارد کړي وو زیانمن کړل.

***

# استرالیا ته د افغانانو مهاجرت

د هغو کسانو د مهاجرت د څرنګوالي په اړه چې له اوښانو سره استرالیا ته راغلل، ډېر لږ معلومات په لاس کې دي، خو داسې ویل کېږي چې دا خلک په عمومي ډول له کلیوالو سیمو او یا د ښارونو له شاوخوا سیمو څخه په استرالیا کې د کار کولو د درې کلن قرارداد پر اساس دې هېواد ته راغلي وو، خو څرنګه چې د دوی استوګنه په استرالیا کې د لنډې مودې لپاره وه؛ ځکه نو دوی ته د مهاجرت امتیاز نه ورکول کېده. اکثریت افغانان په انګرېزي ژبه غږېدلای نه شول او هېڅ یو یې په انګرېزي ژبه لیک او لوست نه شو کولای. هغه وخت د استرالیا په مستعمراتو کې د پښتو ژبې ژباړونکي هم نه موندل کېدل؛ ځکه نو په راپاتې اسنادو کې د دوی په هکله معلومات د دوی له اوښانو څخه زیات نه وو. دوی د بېړیو په هغو برخو کې چې څاروي پکې ساتل کېدل، له خپلو اوښانو سره استرالیا ته راغلل او په استرالیا کې هم په هغو کمپونو کې چې اوښان ساتل کېدل، ځای پر ځای شول. ویل کېږي چې افغانانو ته حتی هغه وخت چې دوی د اوښانو په تجارت هم بوخت وو، د مهاجرت اسناد ور نه کړای شول. یوازې له ۱۸۹۷ کال څخه وروسته چې استرالیا ته د راتلونکو کارګرانو د ثبتولو قانون نافذ شو، دوی ته د مهاجرت اسناد برابر شول او له ۱۹۰۴ کال څخه وروسته دوی ته پاسپورتونه ورکړل شول. په لومړیو کلونو کې چې په بېړیو کې د مسافرت لګښت هم زیات نه و، استرالیا ته د افغانانو د تګ لګښت د هغو استرالیایانو لخوا برابرېده چې دوی یې استرالیا ته وړل. په قوي احتمال تر دربیو کلونو وروسته وطن ته د بېرته ستنېدو کرایه هم همدوی ورکوله، خو کله چې افغانان پخپله د افغانانو لخوا استرالیا ته راوړل شول او په

استراليا کې د کار او ګټې امکانات زيات شول، نو هر چا به استراليا ته د ورتلو لګښت پخپله برابراوه. ځينې نورو به چې پيسې نه لرلې او استراليا ته يې د راتلو هيله درلوده، له هغه چا څخه چې دوی يې استراليا ته وړل د لارې کرايه په پور واخيسته او وروسته به يې په استراليا کې له خپلې تنخوا څخه بېرته ورکوله.



د لومړي ځل لپاره له بېړيو څخه د افغانانو او د هغوی د اوښانو راښکته کېدل

استراليا ته د راغلو افغانانو او يا په استراليا کې د افغانانو د شمېر په هکله معلومات نشته؛ دا ځکه چې يو خو افغانان تل په خوځېدو کې وو او په يو ځای کې نه اوسېدل او بل دا چې د استراليا د هغه وخت په احصاييو کې افغانان، ترکان، هنديان او نور آسيايان ټول يوه ډله شمېرل شوي وو، له دې امله په دوی کې د هرې ډلې د شمېر ښودل ګران وو. سربېره پر دې د دوی نومونه د انتخاباتو په جدولونو کې نه ليدل کېږي؛ ځکه چې دوی د تابعيت پاڼه نه درلوده. همدا شان د افغانانو د کليو (Ghantowns) مشرانو هم چې کله به له دوی څخه پوښتنه وشوه، د خاصو ملحوظاتو له امله کله پخپلو کليو کې د افغانانو شمېر زيات او کله ډېر لږ ښودلی دی، له همدې امله د

دوی د شمېر په هکله اټکلونه سره توپیر لري د مثال په ډول یوازې د لوېدیزې استرالیا د سرو زرو په کانونو کې د دوی شمېر له څو سوو تنو څخه تر دوو زرو تنو پورې اټکل شوی دی. د ۱۹۰۱ کال په سر شمېرنه کې په استرالیا کې د افغانانو شمېر ۳۹۳ تنه ښودل شوی دی. د استرالیا د اوښانو په باب په یوې بلې څېړنې کې هم په استرالیا کې د افغانانو شمېر څلور سوه تنه اټکل شوی دی، خو عجیبه یې دا ده چې په همدې څېړنې کې د هغو اوښانو شمېر چې د ۱۸۹۴ او ۱۸۹۷ کلونو تر منځ له جنوبي استرالیا څخه لوېدیزې استرالیا ته لېږل شوي وو، له ۶۲۰۰ څخه زیات و. ښکاره خبره دا ده چې یوازې همدې شمېر اوښانو لږ تر لږه ۸۳۰ تنو چلوونکو ته پوره اړه درلوده. په یوې بلې کتنې کې د استرالیا د اوښانو شمېر په ۱۸۹۲ کال ۶۰۰۰ اټکل شوی دی. د دې اټکل له مخې داسې ښکاري چې د ۱۸۹۰ کال په شاوخوا کې د افغانانو شمېر په استرالیا کې لږ تر لږه ۸۰۰ تنو ته رسېده. له بل پلوه د استرالیا په اخبارونو کې، د هغو اوښانو شمېر چې د ۱۸۹۰ کلونو څخه وروسته استرالیا ته راوړل شوي، له شپږ زرو څخه تر اوه زرو پورې ښودل شوی دی، البته پر دې شمېر باید هغه اوښان هم زیات شي چې له دې نېټې څخه پخوا دې هېواد ته راوړل شوي وو. په ۱۹۰۴ کال د پرت (Perth) په جومات کې د افغانانو ویاند یوه عریضه د لوېدیزې استرالیا مقننې شورا ته وړاندې کړه د کومې په پای کې چې لیکل شوي وو «موسی خان او د اوښانو ۲۵۰۰ تنه چلوونکي»، خو دا څرګنده نه ده چې د موسی خان مقصد یوازې د لوېدیزې استرالیا افغانان وو، که د ټول هېواد.
په یو بل راپور کې په کال ۵-۱۹۲۴ کې په استرالیا کې د اوښانو شمېر ۱۱۸۵۳ ښودل شوی دی چې ۱۵۰۰ تنه چلوونکو پورې ورته اړه لیدل کېده، سره له دې چې په ۱۹۲۵ کال اوښانو د استرالیا په اقتصاد کې خپل اهمیت له لاسه ورکړ. یو زیات شمېر افغانان بېرته خپل هېواد ته ستانه شول، زیاتو یې خپل اوښان د مالیاتو د زیاتوالي له امله له منځه یوړل او په نورو کارونو بوخت شول.

زيات شمېر افغانان په لومړي وخت کې د جلا ترړون ليکونو پر اساس د يوې درې کلنې مودې لپاره دلته راغلي وو ، خو زيات شمېر يې د کار د امکاناتو په زياتېدو او د دوی د تابعيت د لړيوالي په نظر کې لرلو سره خپل قراردادونه اوږده کړل او د زياتې مودې لپاره دلته پاتې شول. له دوی څخه زيات شمېر د دوی د ترون د دوهمې دورې په پای کې پخپله د اوښانو خاوندان شول او وروسته يې ځانونو ته په دې برخه کې مناسب کاروبار برابر کړ. همدې خلکو وروسته بيا خپل نور خپلوان او ملګري هم په افغانستان کې دې ته وهڅول چې استراليا ته مهاجرت وکړي، البته ځينې افغانان هم وو چې وروسته له دربيو ، پنځو او يا زياتو کلونو څخه بېرته خپل تابعيت ته ستانه شول، حال دا چې يو شمېر نور بيا د تل لپاره همدلته په استراليا کې مېشت شول او د استراليا په بېدياوو کې يې د پرديو په څېر خپل ژوند ته دوام ورکړ.

## استراليا ته راغلي افغانان څوک وو ؟

لومړۍ ډله افغانان چې د استراليا په خاوره يې قدم کېښود ، هغه درې تنه پښتانه وو چې د ۱۸۶۰ کال د پلټنو او علمي څېړنو د پر مخ بيولو لپاره له يو شمېر اوښانو سره استراليا ته راوستل شول. سره له دې چې استراليا ته له دوی څخه وروسته راغلي افغانان کله نا کله د هنديانو ، پاکستانيانو ، پنجابيانو او يا بلوچانو په نومونو هم ياد شوي دي، خو په واقعيت کې دوی ټول هغه پښتانه کوچيان وو چې يا يې د نولسمې پېړۍ افغانستان د سرحداتو دننه ژوند کاوه او يا يې د هغې سرحدي کرښې په شاوخوا کې چې وروسته بيا د ډيورنډ د ليکې په نامه ياده شوه، تګ راتګ درلود. په هماغه شان چې تر دا ننه پورې هم دا ډول تګ راتګ د پاکستان له جوړېدو سره سره په عنعنوي ډول دوام لري.
د شته اسنادو له مخې زيات شمېر دا مهاجرين د کابل يا کندهار له شاوخوا

سیمو ځخه چې د افغانستان دوه مهم ښارونه دي، استرالیا ته راغلي وو او ځینې نور یې له پېښور ځخه راغلي وو چې البته په ۱۸۹۳ کال د ډیورنډ د کرښې ترمنځ له تګ راتګ ځخه پخوا د افغانستان یو بل ښار وو. حتی هغه یو شمېر محدود کسان چې له کراچۍ ځخه هم راغلي وو، هغه پښتانه افغانان دي چې د کاروبار په لټه کې کراچۍ ته تللي وو او بیا له هماغه ځایه استرالیا ته راوستل شول. لنډه دا چې د شته اسنادو له مخې او د دوی د کورنیو د پاتې غړیو په وینا د هغو کسانو پوره اکثریت له خپلو اوښانو سره استرالیا ته راغلل چې په پښتو ژبه غږېدل او ټول افغانان وو. دا واقعیت له دې ځخه هم په ډاګه ځرګندېدای شي چې کوچیان، کوچیتوب او د اوښانو روزنه همدا اوس هم د دې سیمې له هېوادونو ځخه یوازې په افغانستان کې لیدل کېږي. د دوی ګڼ شمېر په اصل کې کوچیان وو، خو ځینو یې د دې ترڅنګ ځمکې هم لرلې او یا یې د تجارت په کاروبار لاس پورې کړی وو. له اوښانو ځخه یې د نقلیه وسیلې په توګه کار اخیست. د اسلام په مقدس دین یې ټینګه عقیده لرله او د پښتني دودونو یې ټینګ ملاتړ کاوه. سره له دې چې د مختلفو قومونو خلک په کې لیدل کېدل، خو په عمومي ډول د دوی ګڼ شمېر د اپریدو، غلجیو، درانیو او یا بلوځانو په قومونو پورې اړه درلوده.

***

# افغانان او د استراليا په بېدياوو کې علمي څېړنې

د علمي او جغرافيايي څېړنو د سرته رسولو لپاره اوښ په استراليا او په خاص ډول د دې هېواد په وچو سيمو کې مهمه ترانسپورتي وسيله وه، څرنګه چې د اوښانو د چلولو لپاره تجربه لرونکو چلوونکو ته اړتيا وه؛ ځکه نو افغانان د هغو مهارتونو له امله چې په دې اړه يې لرل، له هر تحقيقاتي ټيم سره ملګري شول او د استراليا په سپړلو کې يې له بل هر چا څخه زيات زيارونه وګالل؛ ځکه نو د دوی ونډه مخصوصاً د مرکزي استراليا په سپړلو کې بې له شکه چې ډېره زياته ده.
.لکه چې پخوا مو وويل، اوښان په لومړي ځل په ۱۸۴۰ کال له افريقې څخه استراليا ته راوړل شول چې له هغو څخه يوازې يو يې ژوندی استراليا ته راورسېد. له همدې اوښ څخه لومړی ځل په ۱۸۴۶ کال د يو لنډ تحقيقاتي سفر په ترڅ کې د جنوبي استراليا د John Horrocks لخوا کار واخيستل شو، خو څرنګه چې دی له اوښانو څخه د ګټې اخيستلو په لاره چارو نه پوهېده؛ ځکه نو د خپل سفر په لومړۍ ورځ اوښ دی ټپي کړ چې وروسته بيا له هماغه ټپ څخه مړ شو او له خپلې مړينې پخوا يې امر وکړ چې دا اوښ چې اوس يو خطرناکه حيوان پېژندل شوی و، ووژل شي. دې کار د استراليا په منځنيو برخو کې علمي څېړنې په ټپه ودرولې، خو په ۱۸۵۸ کال بيا هڅه وشوه چې له جنوب څخه د شمال په لور د سفر په ترڅ کې دې دا ډول څېړنې تر سره شي، خو څرنګه چې اوښان په استراليا کې نه وو؛ ځکه نو پرېکړه وشوه چې د دې مقصد لپاره له آسانو څخه ګټه واخيستل شي، خو څرنګه چې آسان اوبو ته اړه لري او د مرکزي استراليا په صحرايي سيمو کې د اوبو موندل ګران دي؛ ځکه نو دا هڅه يې هم له ناکامۍ سره مخامخ شوه. يوې ورځپاڼې د دې پلان په ناکامۍ د تبصرې په ترڅ کې د دې ډول څېړنو د بريالیتوب لپاره له اوښانو څخه د ګټې اخيستلو وړانديز بيا رامنځته کړ. ورځپاڼې وليکل: «د دې پر ځای چې له اسونو سره هغه هم د زياتو

ربړونو په زغملو د ۴۵ میلو مزل په دربیو ورځو کې کوو ، ولې له اوښانو څخه په ګټې اخیستلو سره په ډېرې آرامۍ د ۵۰۰ میلو لاره په نهو او یا لسو ورځو کې ونه وهو.» ورځپاڼې دا نتیجه اخیستې وه چې له اوښانو څخه پرته باید هېڅ سفر د مرکزي استرالیا په لور تر سره نه شي. د ورځپاڼې له دې وړاندیز څخه څلور میاشتې وروسته د ویکتوریا د علمي څېړنو کمېټې استرالیا ته د اوښانو او د هغو د چلوونکو د راوړلو پرېکړه وکړه او دا دنده یې George Landells ته وسپارله. دا وخت د ویکتوریا او جنوبي استرالیا ترمنځ د دې لوبې وچې په مرکزي برخو کې د تحقیقاتو او څېړنو د تر سره کولو په هکله سیالي هم په زیاتېدو وه. د ۱۸۶۰ کال د جنوري په میاشت کې د دې څېړنو د ژر تر ژره پیل پرېکړه وشوه، د جون په میاشت کې اوښان او افغانان راورسېدل او د اګست په شلمه د Robert Burke په مشرۍ د دې ډول څېړنو لومړۍ ډله له دوه تنو افغانانو (دوست محمد او احسان خان) او د دوی له اوښانو سره د مرکزي استرالیا په لور وخوځېدل. په دې سفر کې Burke او د ده مرستیال Willim Wills ته هره میاشت ۴۵ پونډه معاش ورکول کېده، حال دا چې د ټیم نورو غړیو ته په میاشت کې لس پونډه او افغانانو ته په همدې موده کې یوازې درې یا څلور پونډه ورکول کېدل.




د هغو تحقیقاتي سفرونو لارې چې افغانانو په هغو کې ونډه اخستې وه

د Burke-Wills د ټیم پلان دا و چې په جنوب کې له ملبورن څخه ځانونه د مرکزي استرالیا له بېدیاوو څخه په تېرېدو سره په شمال کې د (Carpentaria) خلیج ته ورسوي. دوی له زیات زیار ګاللو څخه وروسته په پای کې د میننډي (Minindie) سیمې ته په شمال کې

ورسېدل، چې نژدې پنځه سوه کيلو متره يې له ملبورن څخه واټن درلود. څرنګه چې په لاره کې د ټيم زيات شمېر غړي ناروغه شوي وو؛ ځکه نو يو څو ورځې دلته پاتې شول په دې چې په ميننديکې اوبه موندل کېدې او د ژوند شرايط يو څه مساعد وو کله چې ناروغان روغ شول، نو د ډلې د مشر د پرېکړې له مخې د ټيم يو شمېر غړي په ميننديکې پاتې شول او پاتې نور يې د شمال په لور وخوځېدل، له دوه تنه افغانانو څخه يو تن د احسان خان په نوم همدلته پاتې شو او بل يې چې دوست محمد نومېده، له خپلو اوښانو سره د شمال په لور وخوځېد. دا ډله د زياتو ربړونو له ګاللو وروسته او د شپږ يا اوه سوه کيلو مترو مزله څخه وروسته Cooper’s Creek ته ورسېده. څرنګه چې د ژوند شرايط د هوا د تود والي او د اوبو د نشتوالي له امله ورځ په ورځ خرابېده؛ ځکه نو د ډلې مشر (Bourke) پرېکړه وکړه چې د ډلې نور غړي په Cooper’s Creek کې پاتې شي او يوازې دی او درې تنه نور اروپايان له دوه اوښانو او څو اسونو سره خپل سفر ته د شمال پر لور دوام ورکړي. دوست محمد په Cooper Creek کې پاتې شو. دوی څلور مياشتې دلته په انتظار کې پاتې شول، خو د څلورو تنو اروپايانو پته، چې د شمال په لور خوځېدلي وو، ونه لګېده، څرنګه چې اوبه دلته هم په کمېدو وې او نور يې نو خوراکي مواد هم خلاص شوي وو؛ ځکه نو په Cooper Creek کې پاتې کسانو وپتېيله چې بېرته د جنوب پر لور مينندي ته ستانه شي. په لار کې تر مننديپورې د ټيم څلور غړي، درې آسان او دوه اوښان مړه شول، خو نور د دوست محمد په ګډون مننديته ورسېدل. په مننديکې دوست محمد د ده اوښ سخت ټپي کړ؛ ځکه نو د علاج لپاره بېرته د ملبورن ښار ته واستول شو، ډاکټران د ده له علاج څخه عاجز پاتې شول. د ويکتوريا حکومت د دې لپاره چې دی د ټول ژوند لپاره معيوب شوی و، ده ته دوه سوه پونډه ورکړل، ده ډېر شکايتونه وکړل او غوښتنليکونه يې وړاندې کړل، خو چا يې غږ وانه ورېد هغه غوښتل چې بېرته خپل هېواد ته ستون شي، خو په دې برخه کې هم چا ورسره مرسته ونه

کړه او یو څه موده وروسته مړ او په مننډي کې خاورو ته وسپارل شو، په دې ډول دوست محمد لومړنی افغان و چې په ۱۸۶۲ کال په استرالیا کې مړ شو. د ده مقبره وروسته بیا په ۱۹۵۲ کال ترمیم او د استرالیا له تاریخي ځایونو څخه وشمېرل شوه. د تاریخي اسنادو له مخې د Bourke په مشرۍ له هغو څلور تنو څخه چې د شمال په لور تللي وو، یوازې یو تن ژوندی پاتې وو او نور درې تنه یې د لوږې او تندې له امله مړه شوي وو. وايي چې د Bourk لویه اشتباه دا وه چې اوښان یې له ځان سره په دې سفر کې درلودل، خو داسې خلک ورسره نه وو چې اوښان وچلوي او له هغو څخه ځرنګه چې ښايي ګټه واخلي. دې سفر په ښکاره ډول وښودله چې د افغانانو شته والی په دې ډول سفرونو کې د څومره زیات اهمیت وړ وو.
د Bourke او د هغه د ملګرو د ناکامه سفر یوه بله ګټه هم دا وه چې له دې وخت څخه وروسته د استرالیا د منځنیو برخو په هکله د علمي څېړنو هلې ځلې د ټولو حکومتونو لخوا پیل شوې؛ ځکه څه وخت چې د Bourke د ورکېدو خبر ملبورن ته ورسېد، نو سمدستي د دوی د لټون لپاره هلې ځلې د ویکتوریا، جنوبي استرالیا او کوینزلند د حکومتونو لخوا پیل شوې او د لټون څلور هیئتونه د همدې مقصد لپاره د مرکزي استرالیا په لور وخوځېدل. دې هیئتونو سره له دې چې د Bourke په موندلو کې بریالیتوب ترلاسه نه کړ، خو زیاتې نوې سیمې یې ولیدې او د هغو نقشې یې برابرې کړې. په دې ټولو سفرونو کې د افغانانو او د دوی اوښانو د پاملرنې وړ ونډه اخیستې وه، د افغانانو او د دوی د اوښانو د خدمتونو په درناوي کې Thomas Elder یعنې هغه چا ته چې اوښان او افغانان یې استرالیا ته راوستي او د جنوبي استرالیا په بېلتانه (Beltana) نومې ځای کې یې د دوی د راغونډېدو یو لوی مرکز جوړ کړی وو، د قهرمان لقب ورکړل شو.
د مرکزي استرالیا د څېړنو په تاریخ کې د واربرتن Warburton او کارنیګي Carnegie نومونه هم د یادونې وړ دي، له هغو څخه واربرتن Warburton لومړنی اروپايي وو، چې د صالح او حلیم په نومونو د دوه تنه

افغانانو او د دوی د اوښانو په مرسته د لومړي ځل لپاره د مرکزي استرالیا له شګلنو بېدیاوو څخه په تېرېدو سره له Alice Springs څخه ځان د لوېدیزې استرالیا سواحلو ته ورساوه. نوموړی د ۱۹۷۲ کال د سپتمبر په میاشت کې له ۱۷ اوښانو او دوه تنه افغانانو سره په جنوبي استرالیا کې د بېلتانه له مرکز څخه د څو نورو اروپایانو په ګډون د الیس سپرنګز (Alice Springs) په لور وخوځېد. دوی د یوې مودې لپاره په الیس سپرنګز (Alice Springs) کې تر تم کېدو وروسته د لوېدیز پر لور وخوځېدل. د اوښانو په چلولو سر بېره په بېدیاوو کې د اوبو موندل هم د افغانانو دنده وه. د همدې زیاتو کړاوونو له امله صالح نومی افغان سخت ناروغ شو او له دې امله ټوله ډله د درې اونیو لپاره په یوه ځای کې پاتې شوه تر څو صالح بېرته خپله روغتیا تر لاسه کړه. د واربرتن Warburton ډلې د لوېدیز پر لور خپل سفر ته دوام ورکړ، خو وچو بېدیاوو دوی او د دوی اوښان د خوراکي موادو او اوبو له زیاتېدونکي کموالي سره مخامخ کړل. اوښانو هم ورځ په ورځ خپل د سفر توان له لاسه ورکاوه. دوه اوښان ورک شول او اوه نور یې مړه شول، خو له دې ټولو کړاوونو سره سره دوی بیا هم خپل سفر ته دوام ورکړ. وایي چې د اکتوبر تر میاشتې د افغانانو حلاله ډوډۍ پای ته ورسېده او دوی دې ته اړ شول، چې د اروپایانو ډوډۍ وخوري.

په پای کې د زیاتو کړاوونو له کاللو وروسته دوی وکولای شول، چې یوازې له دوه اوښانو سره ځانونه لوېدیز ساحل ته ورسوي او څلور زره میله واټن د ۱۸۷۳ کال تر پایه پورې ووهي.

د سفر په پای کې دوه پاتې اوښان د لوېدیزې استرالیا په څړ ځایونو کې خوشې شول او دوه افغانان او د ډلې نور غړي په بېړۍ کې بېرته د جنوبي استرالیا په لور وخوځېدل.

واربرتن د سفر په بریالیتوب کې د صالح او حلیم ونډه ستایلې ده، په هماغه کال چې واربرتن Warburton د لوېدیزې استرالیا پر لور په خپلو څېړنو بوخت وو، د ویلیم ګوس William Gosse په نامه یو بل څېړونکي

هم خپلې څېړنې د جنوبي استراليا په شمالي برخو کې پيل کړې.
د ګوس په ډله کې څلور اروپايان او د الله نواز، جمعه خان او کامران په نومونو درې تنه افغانان شامل وو، وايي چې ګوس پخپلو څېړنو کې په خاص ډول د کامران نومي افغان له پوهې څخه زياته ګټه اخيستې وه؛ ځکه نو پخپلو ليکنو کې يې د افغانانو او د دوی د اوښانو زياته ستاينه کړې ده.
دوی د بېلتانه (Beltana) له سټېشن څخه د اليس سپرنګز (Alice Springs) پر لور وخوځېدل او له دې ځای څخه يې بيا هم خپلو علمي پلټنو ته لومړی د شمال او وروسته بيا د لوېديز پر لور دوام ورکړ.
ګوس (Gosse) ليکي چې: «يوه ورځ زه او کامران د اوبو په لټه کې هرې خوا ته ګرځېدو، چې ډېره لرې مو يوه غونډۍ وليدله، خو چې نژدې ورغلو دا يوه ډېره لويه ډبره وه، چې په دې لويه بېديا کې له ځمکې څخه راپورته شوې وه، ده پر دې ډبرې د جنوبي استراليا د ګورنر په وياړ د اريس Ayers د ډبرې نوم کېښود، دی وايي چې زه او کامران لومړني انسانان وو، چې د زيات زيار په ګاللو د دې ډبرې سر ته وختو، څنګه چې د سيمې تور پوستو ته دا ډېره مقدسه وه؛ ځکه نو هيڅ يې سر ته د ختلو هڅه نه وه کړې، دی وايي چې ده ته د حيرانتيا خبره وه، چې کامران په څومره چټکۍ سره د ډبرې سر ته وخوت؛ حال دا چې د ده لپاره دا ډېر سخت کار وو، د ګوس Gosse ډله د دوه اونيو لپاره د همدې ډبرې تر څنګ پاتې شول، په همدې وخت کې چې د ۱۸۷۳ کال د جولای مياشت وه، ده د همدې ډبرې جنوب لوېديز خواته ۲۸ ميله لرې يوه غونډۍ د افغان الله نواز (استراليايانو به دی د Allanaپه نامه يادوه) د (Allana Hill) په نامه او همداشان د همدې ډبرې او د Amadeus د جهيل تر منځ چينې يې د کامران د څاګانو (Kamran Wells) په نامه يادې کړې، چې تر اوسه هم د استراليا په نقشو کې په همدې نامه يادېږي.
په مرکزي استراليا کې د ګوس (Gosse) څېړنې د سامبر د مياشتې په نيمايي کې، چې هوا ګرمه شوې وه، پای ته ورسېدې.

په نولسمې پېړۍ کې د استراليا يو بل نامتو څېړونکی Ernest Giles دی، چې د استراليا صحرايي سيمو ته يې پنځه سفرونه وکړل، په درې لومړيو سفرونو کې يې له اسونو څخه کار واخيست، حال دا چې په دوو وروستيو سفرونو کې يې چې د زيات اهميت وړ هم دی، له اوښانو او افغانانو څخه ګټه واخيسته.

هغه د خپل څلورم سفر په پای کې خپل يوه ملګري ته وويل، چې که ده ته په لومړيو سفرونو کې هم له اوښانو او افغانانو څخه د مرستې د ترلاسه کولو امکانات برابر وای، نو په يقين سره به د ده د سفرونو کيسې بل ډول وای.

Giles له ويکتوريا څخه په جنوبي استراليا کې د بېلتانه (Beltana) سيمې ته، چې د افغانانو او د دوی د اوښانو ډېر لوی مرکز وو ولاړ، هلته يو څو اوښان او دوه تنه افغانان ورسره مل شول او د مې په مياشت کې يې خپل سفر د لوېديز پر لور د Fowlers د خليج په لور پيل کړ.

له افغانانو څخه يو تن صالح نومېده، چې تل به له Giles سره يو ځای وو او له هغه سره يې ډېرې مرستې کړې وې، وايي يوه ورځ تور پوستو په لاره کې پر Giles بريد وکړ، خو صالح يې مرستې ته ور ودانګل او هغه يې له حتمي مړينې څخه وژغوره.

د نوامبر د مياشتې په څلورمه دوی د زياتو کړاوونو له ګاللو وروسته، کله چې ټول ستومانه او ناروغه وو، د لوېديزې استراليا د پسونو د روزنې په يوه مرکز يې سترګې ولګېدې او درې اونۍ وروسته تر دې د پرت (Perth) ښار ته، چې د لوېديزې استراليا پايتخت وو ورننوتل، چې هلته ورته د ښار د اوسېدونکو او دولتي مامورينو لخوا تود هرکلی وويل شو.

د ۱۸۷۶ کال د فبرورۍ د مياشتې په نيمايي کې دا ډله بيا د همدې ښېدياوو له لارې د جنوبي استراليا پر لور وخوځېده، دا ځل دوی لومړی له پرت څخه د شمال په لور ښه پر مخ ولاړل او وروسته يې بيا د ختيځ او په پای کې د جنوب پر لور خپل سفر ته دوام ورکړ.

د اپريل په مياشت کې د مونت ګولد (Mount Gould) له لوړو څخه په

تېرېدو سره دوی یوه کوچني جهیل ته ورسېدل، چې زیات کبان یې درلودل. Giles پر دې ولاړ و او بو د صالح د کبانو حوض نوم کېښود، دی وایي چې دا ځای مې ځکه د صالح په نوم یاد کړ، چې هغه یو رښتینی ملګری او زیار ایستونکی انسان وو.

صالح به د ورځې په توده هوا کې له اوږدو سفرونو څخه ورسته ټوله شپه هم د اوښانو په پالنه بوخت وو، خپل لمونځونه به یې نه پرېښودل او یوازې حلاله غوښه به یې خوړله.

لس کاله وروسته تر دې صالح، له ورته یو بل ټیم سره د کوینزلند او شمالي استرالیا د سرحد په اوږدو کې، چې د کاني موادو په لټه کې وو مرسته وکړه.

د استرالیا د مرکزي برخو په نورو ټولو تحقیقاتي سفرونو کې هم، چې د ۱۸۷۰ لسیزې په اوږدو کې د Toss,Lewis او Tietkins لخوا تر سره شول افغانانو او د دوی اوښانو څرګنده ونډه لرلې ده.

په استرالیا کې د ۱۸۷۰ لسیزه د علمي تحقیقاتو او څېړنو لسیزه ده، حال دا چې د ۱۸۸۰ لسیزه بیا له دې څېړنو څخه د ګټې اخیستلو او په مرکزي استرالیا کې د ښارویو د روزنې د پراختیا له کلونو سره سمون خوري.

هرڅومره چې په دې سیمو کې د فعالیت ساحې پراختیا مونده، نو ورسره د افغانانو شمېر هم زیاتېده، تر دې چې په ۱۸۸۰ لسیزه کې په دې سیمو کې په زیاتېدونکي ډول ټولو راکړو ورکړو او همداشان د اوښانو د روزنې د مرکزونو او تر زیاتې اندازې پورې د سیمې د تجارت کنټرول د دوی لاس ته ورغی.

په ۱۸۹۰ لسیزه کې بیا د علمي څېړنو لپاره مینه زیاته شوه، خصوصاً په هغو سیمو کې، چې په ۱۸۷۰ لسیزه کې څوک ورغلي نه وو، خو دا ځل د دا ډول څېړنو پروګرام د هغو شتمنو لخوا پر مخ بیول کېده، چې غوښتل یې کانونه ولټوي او یا د ښارویو د روزنې لپاره مناسبې ځمکې تر لاسه کړي.

دوی هم پخپلو دې ډول څېړنو کې له افغانانو او اوښانو څخه ګټه واخیستله؛ دا ځکه چې دوی د مالونو د وړلو راوړلو لپاره بله وسیله په اختیار کې نه درلوده.

لومړی دا ډول سفر، چې بیا هم د اديلايد له ښار څخه پیل شو د دیوید لنډسي (David Lindsay) تر مشرۍ لاندې وو، په ډله کې نهه اروپايي پوهانو او پنځه تنه افغانانو هم له څلور څلوېښت اوښانو سره ګډون درلود.
د استراليا په ښېدياوو کې دې ډلې ته د خوراک او اوبو برابرول ډېر ګران وو؛ ځکه نو د ورځو په تېرېدو سره دوی مخصوصاً کله چې د لوېديزې استراليا له سرحد څخه واوښتل، له زياتو کړاوونو سره مخامخ شول، دا کړاوونه نور هم هغه وخت زيات شول، چې د ډلې د مشر لنډسي (Lindsay) د بې کفايتۍ له امله زيات شمېر اروپايان او افغانان له ده څخه ناراضه شول، سربېره پر دې، کله چې دوی د ملکه ويکتوريا چينو ته ورسېدل، نو د Giles د ليکنو پرخلاف، چې شل کاله پخوا يې کړې وې، دا چينې وچې شوې وې؛ ځکه نو دوی د اوبو له کموالي سره مخامخ شول، اوښانو ته د ۲۴ ورځو لپاره اوبه ونه رسېدې او همداشان د انسانانو لپاره هم اوبه په جيره ورکول کېدې.
وايي چې د افغانانو لپاره اوبه څه زياتې ورکول کېدې، په دې چې دوی جسمي کارونه زيات کول، په هر صورت د ډسمبر د مياشتې په لومړيو ورځو کې د ټيم مشر لنډسي (Lindsay) د سلا مشورو لپاره اديلايد ته وغوښتل شو او په دې ډول دا تحقيقاتي سفر پای ته ورسېد، مشر په دې سفر کې ډېر ښه ځړ ځايونه د ځارويو د روزنې لپاره وموندل او د زياتو نويو سيمو په هکله يې معلومات برابر کړل.
يو بل مهم تحقيقاتي سفر په ۱۸۹۲ کال کې د البرت کالورت (Albert Calvert) لخوا چې يو بډای ځوان وو، د استراليا د تر ټولو لويې شګلنې صحرا په اړه د څېړنو په مقصد (Great Sandy Desert) په لاره ولوېد، هغه د ليرې ولز (Larry Wells) په نامه سړی، چې په ۱۸۸۰ کلونو کې يې هم زيات علمي تحقيقات په دې سيمو کې سر ته رسولي وو، د دې کار لپاره وټاکه.
ويلز له نورو اروپايي څېړونکو، يو شمېر اوښانو او دوه تنه افغانانو سره، چې يو يې بيجا درويش او بل يې سيد امير نومېده او د مري له افغانانو څخه وو، د ۱۸۹۲ کال د جولای په مياشت کې خپل سفر پيل کړ، لږه موده

وروسته دا ډله په دوه برخو وويشل شوه او تاکل شوې وه چې له دوه يا درې اونيو وروسته به دا دوه ډلې بېرته سره يو ځای کېږي، خو داسي ونه شوه او دا دوه ډلو هېڅکله هم بيا سره ونه ليدل؛ ځکه نو دا سفر ناکام شو، خو دواړه افغانان ژوندي پاتې شول.
د سفر له ګډون کوونکو څخه چې شپږ تنه وو، دوه تنه هغه وخت مړه شول، چې د اوبو په لټه يې په بېديا کې لاره ورکه کړه. وايي چې درويش پنځه ځله د دوی د لټون لپاره سيمې ته ورغی خو بريالی نه شو، هغه خپلو هڅو ته دوام ورکړ او په وروستی ځل يې اوه مياشتې وروسته د دوی مړي وموندل.
درويش د سفر د نورو ګډون کوونکو ژوند هم؛ ځکه وژغوره، چې له زيات لټون وروسته يې د څښلو اوبه وموندلې، وايي کله چې دوی د Fitzroy په نامه سيند ته ورسېدل، نو د دوی اوښان دومره ناتوانه شوي وو، چې د اوبو د څښلو توان يې هم نه درلود او دوی به په لپه کې اوبه ورکولې.
د ډلې مشر ويلز له افغانانو او په خاص ډول د بيجا درويش يادونه په ډېرې درناوی سره کوي؛ ځکه چې افغانانو د اوښانو په ساتنې او پالنې سربېره ډلې ته د اوبو او خوړو په برابرولو کې هم مرسته کوله.
ويلز وايي، چې يوه ورځ د اوښانو لپاره واښه ونه موندل شول، نو درويش هم د ډوډۍ له خوړولو څخه ډډه وکړه او ويې ويل، چې اوښ مې خوراک ونه لري، نو زه يې هم نه خورم، يوه بله ورځ ډله د اوبو له کموالي سره مخامخ شوه، درويش له زياتو هڅو وروسته يوه څاه (چينه) وموندله، چې وروسته بيا د ده په وياړ د خرما يو نيالګی د دې چينې تر څنګ کېنول شو.
ويلز همداشان د بيجا درويش د خدمتونو په وياړ په دې صحرا کې تر ټولو لوړه غونډۍ د بيجا د غونډۍ (Bejah Hill) په نامه ياده کړه، چې تر اوسه په همدې نامه يادېږي او همداشان خپله دژبړو قطب نما يې، چې په علمي تحقيقاتو کې تر ټولو مهمه آله وه، د تحفې په ډول بيجا ته ورکړه.
د درويش بچيانو اوس هم دغه قطب نما ساتلې ده، چې پر هغې د ده نوم، د سفر نوم او نېټه کېندل شوې.

وايي چې البرت به تل درویش د وفاداره بیجا په نامه یادوه، درویش وروسته بیا په مري Marree کې دېره شو، ځانته یې اوښان لرل، چې د مري او برډزویل Birdsville ترمنځ به یې جوپې وهلې، د هغه زوی عبدل نومېده، چې اروپایانو به جک Jack باله او په ۱۹۰۹ کال په مري کې زېږېدلی وو.
د استرالیا له بېدیاوو څخه د تېرېدو وروستی سفر په کال ۱۹۳۹ کې د کوینزلند په جنوب لوېدیزه برخه کې تر سره شو، د دې سفر مشري د مادیګان Madigan پر غاړه وه، چې د ویلز ملګری او د جنوبي استرالیا د پوهنتون له ساینس پوهانو څخه وو، هغه د سفر له پیل څخه پخوا په ۱۹۳۸ کال مري (Marree) ته ولاړ او هلته یې له بیجا درویش سره وکتل، درویش ده ته په بېدیاوو کې د خپلو سفرونو په اړه زیات څه وویل، په پای کې ده ور څخه وغوښتل، چې په دې سفر کې د ده ملګرتیا وکړي، خو څرنګه چې اوس درویش زوړ شوی او ناتوانه وو، له هغه څخه یې ښېنه وغوښته او د خپل ځان پر ځای یې خپل زوی له هغه سره ملګری کړ، بل افغان له دوی سره نور محمد نومېده، چې د ده پلار هم (موسی بلوچ) کلونه پخوا دا ډول سفرونه زیات کړي وو.
عبدل د ۱۹۳۹ کال د اګست په میاشت کې له مري څخه وخوځېد او د ۲۵۰ کیلو مترو په اوږدو الې د لارې له وهلو وروسته د Charlotte Waters په نامه ځای کې له مادیګان سره یو ځای شو، له دې ځای څخه دوی په کوینزلند کې د برډزویل Birds Ville په لور وخوځېدل او د Simpson له بېدیا څخه چې د شګو د ځینو غونډیو لوړوالی یې له ۲۵ مترو څخه هم زیات وو او پنځه سوه کیلو متره یې اوږدوالی درلود تېر شول، د دوی دا سفر په ۲۵ ورځو کې تر سره شو، وروسته بیا دوی بېرته د جنوب خواته د مري په لور وخوځېدل او په ۵۰ ورځو کې بېرته مري ته راورسېدل.
په دې سفر کې د افغانانو پوهه او په بېدیاوو کې د دوی د پخوانیو سفرونو تجربې د زیات اهمیت وړ وې.

***

# په ټوله استراليا کې د افغانانو خپرېدل

له اوښانو څخه د ګټې اخيستنې او ورسره جوخت د افغانانو فعاليتونو، په چټک ډول د استراليا په زياتو برخو کې پراختيا وموندله؛ دا ځکه چې د ترانسپورتي چارو لپاره له اوښانو څخه ګټې اخيستنې د نورو ښاروېو لکه اسانو او غوايانو په پرتلې زياتې ګټې لرلې او د استراليا په شرايطو کې تر ټولو مناسب ښاروي بلل کېدل، لږې اوبه او لږ خواړه ورته په کار وو؛ ځکه چې په بېديااوو کې اوږده سفرونه يې کولای شول. سر بېره پر دې د هغو افغانانو معاشونه چې دا اوښان يې چلول، هم د هغو سپين پوستو په پرتلې چې په ترانسپورت کې يې له اسونو او غوايانو څخه کار اخيست، څلور ځله کم وو؛ ځکه نو د دوی فعاليتونو په ډېرې چټکتيا سره په ټولې استراليا کې پراختيا وموندله.
افغانان معمولاً د يو درې کلن تړون له مخې د اوښانود ساتونکو او يا د اوښانو د تجارانو لخوا استراليا ته راوستل شول. يو شمېر يې د دې مودې له بشپړېدو وروسته بېرته خپل هېواد ته ولاړل، خو يو زيات شمېر نورو يې يا خپل تړونونه نوي کړل او يا پخپله د ځانونو لپاره د نورو کارونو په لټه کې شول. په ۱۸۸۰ کلونو کې دوی هره مياشت درې يا څلور پونډه معاش تر لاسه کاوه چې د هغو په پرتلې هر سپين پوستي ته په ورته کار کې هره اوونۍ څلور پونډه ورکول کېدل، سره له دې چې د اسانو او غوايانو په پرتلې د اوښانو بيه زياته وه.
د وخت په تېرېدو سره افغانانو زيات اعتبار او د خلکو ډاډ تر لاسه کړ. دوی پخپله هم زيار ايستونکي او پخپلو کارونو کې صادقان وو او همدا شان د دوی اوښانو هم د ډاډ وړ خدمت په وړاندې کولو کې له دوی سره مرسته

کوله. څرنګه چې اوښان په بېدیاوو کې هم مزل کولای شي؛ ځکه نو دوی به د شته لارو خیال نه ساته او په لنډو لارو به یې ځان ډېر ژر هدف ته رساوه. دوی پخپله ډېر ساده ژوند درلود، د ورځې یوازې دوه ځله یې ډوډۍ خوړه او توله ورځ به له یو ځای څخه بل ځای ته تلل، خو کله به چې هوا توده وه، نو د شپې لخوا به یې توله شپه مزل کاوه. دوی د ښارونو، بندرونو او د اوسپنې د پټلۍ د سټېشنونو په څنډو کې چې د دوی د اوښانو د څرېدو لپاره امکانات زیات وو، ځانونو ته یې کمپونه جوړ کړل چې وروسته بیا د استرالیایانو لخوا د افغانانو د ښارګوټو یا Ghan Towns په نوم یاد شول، د جنوبي استرالیا په شمال کې د مرکزي استرالیا په لور د اوسپنې د پټلیو په غځېدو سره د افغانانو دا ډول دایمي استوګن ځایونه یا کلي د Farina، مري Ooduadatta, Marree او د Port Augusta تر څنګ منځته راغلل. په نیو ساوت ویلز کې د افغانانو کلیو د بروکن هل Broken Hill او برک Bourke په سیمو کې پراختیا وموندله، حال دا چې په لوېدیزه استرالیا کې دا ډول کلي د MarbleBar, Wiluna, Meekotharra, Wyndham, Kalgoorlie, Coolgardie په سیمو او همدا شان د Fremantle او Port Headland په بندرونو کې منځته راغلل. په کوینزلند کې د افغانانو ډېر لوی کلي په Clonecurry کې موقعیت درلود، حال دا چې کوچنیو کلیو یې د Duchess په سیمه او د Normanton او Townsville په بندرونو کې پراختیا موندلې وه.

د افغانانو ډېر وروستنی کلی د استرالیا په مرکزي برخه د Alice Springs په سیمه کې جوړ شوی دی، له همدې مرکزونو څخه د اوښانو کتارونه هرې خواته خپرېدل او د اوښانو او افغانانو تګ راتګ په منظم ډول روان وو.

## افغانان په جنوبي استرالیا کې:

د استرالیا له جنوب څخه تر شمال پورې په بریالي ډول د تلګراف د مزي غځولو او همدا شان د استرالیا په مرکزي برخو کې د ښارویو د روزنې د امکاناتو په زیاتېدو سره په ۱۸۷۲ کې دا سې پرېکړه وشوه چې په جنوب کې د Port Augusta له بندر څخه په شمال کې د Farina تر سیمې پورې د اوسپنې پټلۍ وغځول شي او بیا وروسته همدا پټلۍ تر داروین پورې په شمال کې اوږده شي. د دې پروژې کار په کال ۱۸۷۸ کې پیل شو او تر ۱۸۸۲ پورې د اوسپنې د پټلۍ غځولو کار تر Farina پورې بشپړ شو. یو زیات شمېر افغانان او د دوی اوښان د دغه سټېشن او په لاره کې د نورو سیمو د اورګاډو د سټېشنونو ترڅنګ ډېره شول چې له دې ځایونو څخه په لرې پرتو سیمو کې د کانونو کارګرانو او همدا شان مالدارانو او بزګرانو ته د دوی اړتیا وړ شیان ورسوي او په راتلو کې بیا د دوی تولیدات چې وړۍ او کاني مواد وو د اورګاډو سټېشنونو ته راوړي. په ځینو حالاتو کې به نوموړو ځینې سیمو ته د ښنلو او به هم د افغانانو لخوا رسول کېدې. په ۱۸۸۴ کال کې د اوسپنو پټلۍ تر مري Marree پورې اوږده شوه او دا هغه وخت و چې د افغانانو فعالیت ډېره پراختیا موندلې وه او یو زیات شمېر افغانان او د دوی اوښان د جنوبي استرالیا په مختلفو سیمو کې لیدل کېدل.



په جنوبی استرالیا کې د اوښانو یو کتار

مري Marree هغه کوچنی ښار دی چې په جنوبي استرالیا کې اووه سوه کیلو متره د اډیلاید ښار شمال لور ته لرې موقعیت لري. د ۱۸۸۰ لسیزې له لومړیو

کلونو څخه دي ښار د کوچنۍ آسیا یا کوچني افغانستان په نامه شهرت وموند او د خپل ممتاز ستراتېژیک موقعیت له کبله د اوښانو د تګ راتګ مرکز وګرځېد. له دې ځای څخه زیاتې لارې د کوینزلند، شمالي استرالیا او لوېدیزې استرالیا په لور غځېدلې وې. د دې لارو اوږدوالی به کله سلګونو کیلو مترو ته هم رسېده، افغانانو به پر دې لارو د خپلو اوښانو له هغو کتارونو، سره چې کله به یې د اوښانو شمېر شپېتو (۲۰) ته هم رسېده تګ راتګ کاوه. د مري ښار ته نژدې د افغانانو دوه کلي وو چې په هغو کې په ترانسپورتي فعالیتونو سربېره د اوښانو د روزنې او تجارت کاروبار هم روان و. وایي چې د مري له افغانانو څخه یو د سلطان راز محمد په نامه یادېده چې تل به یې ۲۰۰ یا ۷۰۰ اوښان د خرڅلاو لپاره درلودل. د اوښانو دوه نور سوداګران فیض محمد او تاج محمد وو چې وروسته بیا د زیات شمېر اوښانو په لرلو او د نورو افغانانو په استخدامولو سره د یوې لویې ترانسپورتي کمپنۍ خاوندان شول او له شرابو څخه نیولی بیا تر ساختماني موادو پورې د ټولو شیانو وړل راوړل یې په یوه پراخه سیمه کې تر انحصار لاندې وو.
په مري کې ټولنه په دوو برخو وېشل شوې وه، یوې خواته اروپایان پراته وو او بلې خواته غېر اروپایان، چې په عمومي ډول له افغانانو او په استرالیا کې له تور پوستو څخه عبارت وو. د تاریخي اسنادو له مخې یوازې له دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د افغانانو او تور پوستانو زامن هم د دې سیمې په یوازیني ښوونځي کې ومنل شول او په دې ډول د اروپایانو او نورو تر منځ ټولنیزې اړیکې ورو ورو ټینګې شوې، البته د افغانانو د ماشومانو زده کړه د لومړني ښوونځي په سویه پاتې شوه، په دې چې دوی نه شوای کولای خپل ماشومان د لوړې زده کړې لپاره ادیلاید او نورو سیمو ته ولېږي. په دې وخت کې د افغانانو او تور پوستانو تر منځ اړیکې ټینګې وې او د دوی تر منځ زیات ودونه هم شوي وو، په هر صورت لږ تر لږه د لسو کلونو لپاره د مري ښار د جنوبي استرالیا شمال لور ته تر ټولو لرې پرته سیمه او د استرالیا د مرکزي سیمو په لور تر ټولو لوی تجارتي مرکز پاتې شو.

**افغانان په نیو ساوت ویلز کې:**

سره له دې چې تر ۱۸۸۰ کال پورې افغانان د نیو ساوت ویلز په ځینو سیمو کې خپاره شوي وو، خو بیا هم کله چې د ۱۸۸۱ کال په نیمایي کې د دارلینګ (Darling) په سیند کې د اوبو د کموالي له امله د نیو ساوت ویلز د ایالت د Milparinka او Mount Brown د سرو زرو او سپینو زرو کانونو کارګران د وچکالۍ او په نتیجه کې د اوبو او خوراکي موادو له سخت کموالي او حتی مرګ سره مخامخ شول، د افغانانو خدمتونو ته اړتیا په جدي ډول احساس شوه. تر دې پخوا به د دې کارګرانو ټولې اړتیاوې په همدې سیند کې د تلونکو راتلونکو بېړیو لخوا پوره کېدې، خو کله چې د سیند اوبه کمې شوې، نو دا ډول فعالیت د دارلینګ په سیند کې په ټپه ودرېد؛ ځکه نو په اضطراري ډول په شپږو ټنو خوراکي موادو بار اویا (۷۰) اوښان د بېلتانه له سیمې څخه پورتنیو کانونو ته ولېږدول شول او په دې ډول یو زیات شمېر کارګران د افغانانو په مرسته له حتمي مړینې څخه وژغورل شول؛ ځکه هغه وخت بله داسې هېڅ نقلیه وسیله نه وه چې کارګرانو ته خوراکي مواد ورسوي. په همدې شان افغانانو په سیمه کې یو زیات شمېر مالداران هم چې له ورته کړاو سره مخامخ وو وژغورل او هغوی ته د دوی د اړتیاوو په برابرولو سربېره یې هغه وړۍ چې دوی تولیدولې بندرونو او د اورګاډو مرکزونو ته ورسولې.

په دې ډول د افغانانو د فعالیت ساحه د نیو ساوت ویلز په ایالت کې هم پراخه شوه او په راتلونکو کلونو کې د دارلینګ د سیند د اوبو له زیاتېدو سره سره د افغانانو کاروبار په دې سیمه کې ښه رونق وموند. په ۱۸۸۷ کال د اوسپنې پټلۍ په نیو ساوت ویلز کې د بروکن هل (Broken Hill) او برک Bourke ښارونو ته اوږده شوه، څرنګه چې هغه وخت بروکن هل په نړۍ کې د سپینو زرو او جستو ځینې ډېر لوی کانونه درلودل؛ ځکه نو د ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ په لسیزو کې د کانونو د ایستلو فعالیتونو په دې سیمې کې زیاته پراختیا وموندله او له هغه سره جوخت د افغانانو شمېر هم په دې سیمه کې

په زیاتېدو شو. افغانانو به له دې سیمې څخه مالونه کله کله حتی کوینزلند ته هم وړل چې سفر به یې د درې اونیو لپاره اوږد شو. د څېړونکو په وینا په دې سیمه کې د څارویو د روزنې د فعالیت د دوام یوازینی عامل د افغانانو شته والی وو؛ ځکه یوازې د افغانانو په شته والي سره چې د یو ډاډه ترانسپورتي سیستم امکانات یې برابرول. دوی ډاډ ترلاسه کولای شو چې دوی به وکولای شي په هر ډول شرایطو کې خپل د اړتیا وړ مواد ترلاسه کړي او د دوی تولیدات به چې وړیه وې بازارونو ته ورسول شي.



د استرالیا په نیو ساوت ویلز کې د اوښانو یو کاروان

په ۱۹۰۱ کال کې د دې سیمې د وړیو د لېږدولو یو مرکز مشر له افغانانو څخه د منني د څرګندولو په ترڅ کې لیکي، چې افغانان د ډېرې ټیټې کرایې یعنې د یو ټن وړیو لپاره د پنځو پونډونو په اخیستلو سره د دوی مالونه بندرونو ته رسوي؛ ځکه نو که افغانان نه وای، نو دوی به زیات تاوانونه ګاللي وای، په دې دلیل چې دلته په سیمه کې د اسونو لپاره واښه نه موندل کېدل. له بل پلوه په کال ۱۹۰۲ کې د ولکانیا Wilcannia له سیمې څخه د شمال په لور د ببړیو تګ راتګ د دارلینګ په دریاب کې بند شو، دې کار د سیمې اروپایي تجاران دې ته اړ کړل، چې له مري Marree څخه یو زیات

شمېر اوښان رانيسي او له افغانانو سره يې سيمې ته راوړي. د اروپايانو ترڅنګ، ځينو افغانانو هم د ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ په لسيزو کې د بروکن هل او برک Bourke په سيمو کې د مالونو د وړلو راوړلو لپاره د کمپنيو په پرانستلو پيل وکړ.

په بروکن هل کې د افغانانو د يادولو وړ کيسه هغه وه چې په کال **۱۹۱۵** کې پېښه شوه. وايي چې د **۱۹۱۵** کال په پيل کې چې لومړۍ نړيواله جګړه ښه په زور کې روانه وه، انګرېزانو دا وپتېيله چې په دردانيل Dradanells کې پر ترکانو بريد وکړي دا وخت په بروکن هل کې ورته پېښه وشوه، چې هېچا ته د باور وړ نه وه. د **۱۹۱۵** عېسوي کال لومړۍ ورځ وه، ټول په مېلو او خوشحاليو بوخت وو، په بروکن هل کې يوه ډله استراليايانو پرېکړه کړې وه چې د مېلې لپاره لرې څه لرې ځای ته ولاړ شي. دوی د اړتيا وړ ټول شيان را واخيستل او له خپلو کورنيو سره په يوه اورګاډي کې د مېلې د ځای په لور روان شول. اورګاډی لا درې کيلو متره له ستېشن څخه لرې شوی نه وو، چې د اورګاډي سورليو پر يوې لاسي کراچۍ د ترکيې بيرغ په رپېدو وليد چې ورته نژدې شول. د اورګاډي د پټلۍ ترڅنګ دوه تنه وسله وال له خپلو ټوپکونو سره ولاړ وو، سورليو په دوی د ښکاريانو ګومان وکړ چې ګوندې د سوې ښکار به کوي، خو چې کله اورګاډی دوی ته ورنژدې شو، د دوی لخوا پر سورليو ډزې پيل شوې. د دې ډزو له امله له سورليو څخه يوه ښځه او يو نارينه او همداشان له اورګاډي څخه بهر يو بل سړی چې د اس په سورلۍ د اورګاډي ترڅنګ روان وو ووژل شول او يو هلک، يوه انجلۍ، درې ښځې او يو زوړ سړی پکې ټپيان شول. خلکو په ټيليفون پوليسانو ته خبر ورکړ، پوليسان را ورسېدل، وسله والو کسانو له پوليسانو سره هم جګړې ته دوام ورکړ، خو په پای کې چې کارتوس يې خلاص شول، په تېښته شول، لومړی يوه کلي ته ننوتل او وروسته بيا نژدې غونډۍ ته وختل. په لاره کې يې يو پوليس هم چې مخې ته ورغلی وو ټپي کړ. لنډه دا چې جګړه په هماغه ورځ له سهار څخه تر مازيګر پورې روانه وه. په دې

جګړه کې د سیمې افغانانو هم له پولیسانو سره مرسته کوله، په پای کې له دوه تنه وسله والو څخه یو تن مړ او بل یې چې سخت ټپي شوی وو ونیول شو. له دې دوه تنو څخه یو ملا عبدالله نومېده چې د قصابۍ دنده یې درلوده او بل یې ګل محمد و چې پخپلې لاسي کراچۍ به یې په کوڅو کې آیسکریم خرڅول، که څه هم له هغو اسنادو څخه چې وروسته بیا له دوی څخه تر لاسه شول، څرګنده شوه چې د دې پېښې پلان د همدې دوه تنو لخوا برابر شوی وو، خو بیا هم د سیمې استرالیایانو دا پېښه د جرمنیانو لمسون بللی وو؛ ځکه نو په غچ کې یې د سیمې اوسېدونکو لومړی د جرمنیانو د راټولېدو په یو کلب برید وکړ او هغه یې وسوځاوه او بیا یې د افغانانو په کلي یرغل وروړ.

سربېره پر دې ټول هغه جرمنیان چې د دې سیمې په کانونو کې یې کار کاوه، له خپلو کارونو څخه وایستل شول. وایي چې له پېښې څخه پخوا د خان قدم په نامه یو افغان پولیسو ته د ملا عبدالله او ګل محمد، سره د دوی د وسلو په اړه خبرداری ورکړی وو او دا یې هم ورته ویلي وو، چې د یوې پېښې د پېښېدو امکان شته، خو پولیسانو او امنیتي چارواکو په دې هکله؛ ځکه په کوم اقدام لاس پورې نه کړ چې ورته راپورونه یې پخوا هم زیات تر لاسه کړي وو او وروسته بیا هېڅ پېښې شوي نه وو.

### افغانان په لوېدیزه استرالیا کې:

سره زر لومړی په ۱۸۸۵ کال د اګست په میاشت کې د لوېدیزې استرالیا په کیمبرلیز (Kimberleys) نومې ځای کې وموندل شول، کله چې دا اوازه په نوي زیلاند او د استرالیا په ختیځو سیمو کې خپره شوه، نو له یو کال څخه په کمه موده کې له دوه زره تنو څخه زیات دې سیمې ته چې د Derby له بندر څخه یې ۳۰۰ میله او د Wyndham له بندر څخه ۲۵۰ میله مسافه درلوده ورغلل. له بندرونو څخه د سرو زرو د کانونو سیمې ته د پلیو لارې له بېدیاوو او غونډیو څخه چې مخصوصاً د دوبي په توده هوا کې وربانده

تګ راتګ ګران وو تېرېدې؛ ځکه نو په څو میاشتو کې د خوراکي موادو او اوبو د نشتوالي، د غوماشو او مرضونو د زیاتوالي او نورو کړاوونو له امله یو شمېر خلک، چې دې سیمې ته ورغلي وو مړه شول. دلته بیا هم دا خلک د افغانانو لخوا وژغورل شول او د جنوري په میاشت کې یې په اوښانو بار پنځه ټنه د اړتیا وړ مواد دوی ته ورسول، د اګست په میاشت کې بیا له افغانانو څخه وغوښتل شول، چې شپږ ټنه مواد دې سیمې ته ورسوي. څرنګه چې د ۱۸۸۲ کال تر پایه پورې د سرو زرو د کانونو سیمې زیاته پراختیا وموندله، تر څنګ یې د افغانانو شمېر هم په لوېدیزه استرالیا کې مخ په زیاتېدو شو. په لنډ ډول د ۱۸۹۰ لسیزې په کلونو کې په لوېدیزې استرالیا کې د سرو زرو د کانونو د چټکې پراختیا له امله زیات شمېر افغانان لوېدیزې استرالیا ته راغلل. ویل کېږي چې په کال ۱۸۹۱ کې لوېدیزې استرالیا ۲۷ زره اونسه سره زر له همدې کانونو څخه لاس ته راوړي وو. په راتلونکو کلونو کې د سرو زرو نور کانونه هم د دې ایالت په نورو سیمو کې وموندل شول، چې له هغو سره جوخت د افغانانو فعالیتونو هم په دې سیمو کې پراختیا وموندله، د مثال په ډول په ۱۸۹۴ کې د سلطان راز محمد په نامه یو افغان سوداګر له ۵۸ اوښانو سره، چې زیات شمېر افغانان هم ورسره وو، د Coolgardie سیمې ته راورسېد. وایي چې په هغه وخت کې راز محمد له ۲۰۰ څخه تر ۷۰۰ پورې د اوښانو خاوند و او د ده د اوښانو لومړی کاروان په ۱۰۹ ورځو کې له جنوبي استرالیا څخه د لوېدیزې استرالیا د کانونو سیمې ته ورسېد.

په Coolgardie کې کارګرانو ته د څښلو اوبه ټولې د افغانانو لخوا برابرېدې، همدا شان ټول خوراکي مواد د افغانانو لخوا کانونو ته رسول کېدل. داسې وایي چې له افغانانو او د دوی له اوښانو پرته بل هیڅ او هېڅ څاروي د لوېدیزې استرالیا په اقلیمي شرایطو کې د دې ډول فعالیتونو د دوام توان نه درلود. په ۱۸۹۹ کال کې سره زر له Coolgardie څخه ۳۹ کیلو متره لرې د Kalgoorlie په سیمه کې وموندل شول او له دې سره سم په

زرګونو کارګران د افغانانو په ګډون د دې سیمې په لور رامات شول.
وروسته بیا په کال ۱۹۰۳ کې د لوېدیزې استرالیا حکومت د دوه نیم ملیونو پونډو په لګښت د اوبو د لېږدولو لپاره یو پایپ لاین پرت Perth ته نژدې د هلینا (Helena) له سیند څخه د Kalgoorlie سیمې ته وغځاوه، چې په ورځ کې د پنځو ملیونو ګیلنو اوبو د انتقال ظرفیت یې درلود. د اوبو د دې پایپلاین په جوړېدو او همداشان په کال ۱۸۹۲ کې د پرت د ښار او د دې سیمو تر منځ د اورګاډي د پټلۍ په غځېدو سره په دې سیمه کې د افغانانو په فعالیتونو او شمېر کې پوره کموالی ولیدل شو، خو د لوېدیزې استرالیا صدر اعظم (Sir John Forrest) د اوبو د پایپلاین په مراسمو کې د افغانانو هڅې وستایلې او ویې ویل، چې په لوېدیزه استرالیا کې د کانونو را ایستل او حتی پخپله د همدې پایپلاین غځول یوازې د افغانانو د زیار او هاند نتیجه ده.

دلته د یادولو وړ یوه بله خبره دا ده چې په لوېدیزه استرالیا کې د اوښانو ډېر لوی خاوندان پخپله افغانان وو، حال دا چې تر دې د مخه په جنوبي استرالیا کې دا ډول فعالیتونه ټول د اروپایانو لخوا سرته رسېدل او افغانانو یوازې د اوښانو د ساتنې او چلولو دنده پر غاړه درلوده. په دې لړ کې د دوو ورونو، یعنې فیض محمد او تاج محمد نومونه چې د ۱۸۸۰ لسیزې په نیمایي کې یې د اوښانو لوی کاروانونه د لوېدیزې استرالیا په هرې برخې کې په تګ راتګ بوخت وو، د یادونې وړ دي. دوی د لارو په اوږدو کې هر ځای د اوبو څاګانې کیندلي وې چې زیات شمېر اروپایانو به هم د هغه له اوبو څخه ګټه اخیسته. همداشان وایي چې دې دواړو ورونو د بوکس او پهلوانۍ له لوبو سره هم زیاته مینه ساتله؛ ځکه نو په Coolgardie کې د زیاتو سپورتي تورنمنټونو د جوړولو لګښت دوی پر غاړه اخیستی وو. وایي چې په ۱۸۹۲ کال کې تاج محمد د یو بل افغان لخوا چې غلام محمد نومېده په جومات کې د ننه ووژل شو.



د لوېديزې او جنوبي استراليا پر سرحدي کرښه يو شمېر افغانان
او د دوی اوښان

د Coolgardie Miner اخبار د ۱۸۹۲ کال د می د څلورمې په ګڼه کې په دې اړه داسې ليکلي دي: «د ۱۸۹۲ کال د اپريل په مياشت کې غلام محمد د تاج محمد د وژلو په تور ونيول شو او په محکمه کې په مرګ محکوم شو. وايي کله چې پوليسو دا راپورونه ترلاسه کړل، چې د غلام محمد ملګري هڅه کوي چې ده ته د زهرو په ورکولو دی په دار باندې له ځړولو څخه وژغوري، نو زندان ته يې د ده د ملګرو او نورو افغانانو ورتلل منع کړل او وروسته يې دی د Fremantle جېل ته چې ډېر ټينګ امنيتي ترتيبات په کې نيول شوي وو ولېږه. غلام محمد د ۱۸۹۲ کال د می د مياشتې په دوېمه نېټه په دار وځړول شو. د پورتني اخبار د خبريال په وينا غلام محمد چې ډېر زړور و، د خپل ژوند وروستۍ شپه يې په کرارۍ سره تېره کړه. د شپې په يوه بجه يو ملا چې مرزاخان نومېده زندان ته ورغی او له غلام محمد سره يې لمونځونه او دعاګانې وکړې، د غلام محمد له غوښتنې سره سم هغه ته د سهار ډوډۍ ورنه کړل شوه. کله چې هر څه برابر شول، نو د زندان مشر له څو تنو پوليسانو سره د غلام محمد کوټې ته ورغی او د غلام محمد لاسونه

يې وتړل. غلام محمد چې سپينې جامې اغوستې وې، پـه ډېر متانت سره ودرېد ، ملا هم را پاڅېد او د دعاګانو په ويلو يې پيل وکړ چې غلام محمد هم تکرارولې او له خپل ځان سره يې ويل" حي على الفلاح" . وايي کله چې دار ته ورنژدې شو ، نو همدا دعا يې لږ څه په لوړ اواز وويله. ملا هغه قرآن مجيد چې په لاس کې يې وو ، غلام محمد ته وړاندې کړ. غلام محمد هغه ښکل کړ وروسته يې بيا په ماته انګرېزي ژبه حاضرينو ته وويل چې خداى (ج) او ماته پخپله څرګنده ده چې زه د تاج محمد قاتل نه يم، ما بې له شکه چې پر هغه ډز کړی، خو دا کار مې د ځان د ساتنې لپاره کړی، ما پخوا داسې فکر کاوه چې انګرېزان عادل خلک دي او عدالت کوي، خو اوس راته څرګنده شوه چې داسې نه ده. هغه وروسته بيا افغانستان او انګلستان سره مقايسه کړل او دا يې وويل چې دی د يو رښتيني مسلمان په توګه د خپل خداى(ج) حضور ته ورځي او له هغه څخه د عدالت غوښتنه کوي. تر دې وروسته يې بيا قرآن مجيد څو ځله ښکل کړ. ملا له هغه ځايه لرې شو او يو سپين پوړنی د غلام محمد پر مخ واچول شو د دار رسۍ يې په غاړه کې وراچوله او هغه يې راکاږله او هغه په څو شېبو کې ساه ورکړه. د غلام محمد مړی افغانانو ته وسپارل شو ، چې د هغوی له دود سره سم خاورو ته وسپارل شي.

وژل شوی تاج محمد له نورو افغانانو سره په Coolgardie کې اوسېده او هره ورځ به د لمانځه لپاره د کلي کوچني جومات ته ورته. وايي په هغه ورځ چې دی په جومات کې دننه وژل کېده ، يوازې څلور تنه افغانان جومات ته ورغلي وو ، چې يو يې ملا مجيد بل يې ملا حاجي بل پخپله تاج محمد او څلورم تن يې غلام محمد و. د لمانځه په وخت کې غلام محمد د تاج محمد تر شا ولاړ و ، کله چې د تاج محمد په سجدې ځمکې ته ښکته شو ، نو غلام محمد پخپله تمانچه پر هغه ډز وکړ، تاج محمد په هماغه ځای کې مړ شو. وايي کله چې غلام محمد له جومات څخه ووت، خوشحالي يې څرګنده کړه، غلام محمد ځان پخپله پوليسانو ته وسپاره. د تاج محمد د وژلو

اصلي علت تر پایه څرګند نه شو، خو ویل کېږي چې دا هغه یوازینی جنایت و چې د یو افغان لخوا په استرالیا کې سرته رسېدلی و. له دې څخه پرته افغانانو په استرالیا کې تل د قوانینو مراعات کاوه او هېڅکله یې له شته قوانینو څخه سرغړونه نه کوله. په لنډ ډول ویلای شو، چې افغانانو د لوېدیزې استرالیا په پرمختګ کې، لکه چې پخوا هم ورته ګوته ونیول شوه، زیاته ونډه اخیستې ده. ټول ساختماني مواد، د سونګ لرګي، د اوسپنو پټلۍ، وړۍ، د څښلو اوبه، په کانونو کې د اړتیا وړ لرګي، کاني مواد، خوراکي مواد او د اړتیا وړ ټول نورشیان د دوی لخوا وړل کېدل. وایي کله چې د لوېدیزې استرالیا ګورنر د دې سیمو لیدلو ته ورغی، نو د افغانانو لخوا د سپرلۍ یو ښه اوښ ورته د تحفې په ډول ورکړل شو.



په استرالیا کې د هر ډول مالونو وړلو راوړلو لپاره له اوښانو څخه کار اخستل کېده

**افغانان په کوینزلند کې:**

د لوېديزې استراليا ختيز خواته، د سرو زرو د کانونو له سيمې څخه افغانان نورو سيمو ته هم خپاره شول، ځينې يې د ورته کارونو لپاره د استراليا په شمال کې د سرو زرو د کانونو د سيمو په لور وخوځېدل او ځينې نور بيا د کوينزلند د شمال او شمال لوېديز پر لور، چې د مسو کانونه په کې موندل شوي وو روان شول.

مس د لومړي ځل لپاره د کوينزلند د Cloncurry په سيمه په ۱۸۶۷ کال کې وموندل شول، خو هغې انګرېزي کمپنۍ چې د مسو په توليد بوختـه وه، په کال ۱۸۸۹ کې د توليداتو د کموالي له امله چې له ۴۰۰ ټنو څخه نه زياتېدل، خپل فعاليت په ټپه ودراوه. وروسته بيا په ۱۸۹۷ کال چې د زياتو جګړو له امله مسو ته تقاضا زياته شوه او په نړيوال مارکېټ کې يې بيه لوړه شوه؛ ځکه نو ددې سيمې او د کوينزلند د نورو سيمو د مسو له کانونو څخه ګټه اخيستنه پيل او ورځ په ورځ په زياتېدو شوه. له همدې امله د نولسمې پېړۍ په وروستيو او د شلمې پېړۍ په لومړيو کلونو کې افغانانو او د دوی اوښانو د کاني موادو په نقلولو کې لويه ونډه لرلې ده. افغانانو به په کوينزلند کې کاني مواد، لکه مس او قلعي تر Normanton او Townsville پورې رسول او په راتګ کې به يې بيا د کانونو د کارګرانو د اړتيا وړ شيان له ځان سره راوړل. وايي چې حتی د مسو د توليداتو له زياتوالي څخه پخوا هم د عبدالواحد په نامه يو افغان او د Bourke د انتقالاتو کمپنۍ د لوېديز کوينز لند او برک Bourke تر منځ د وړيو او تجارتي مالونو په وړلو راوړلو بوخت وو. د مسو له استخراج څخه وروسته هم عبدالواحد په سيمه کې د ټولو انتقالاتي فعاليتونو انحصار پخپل لاس کې درلود. د Cloncurry په سيمه کې د افغانانو تر ټولو لوی کلی منځته راغی او د سيد عمر په نامه د عبدالواحد يو استازی د کلي په جومات کې د امام په توګه وټاکل شو. وايي چې کله کله به پخپله عبدالواحد هم د سپين اوښ په سورلۍ د کانونو سيمې ته ورته او د خپل لاس لاندې افغانانو د

کاروبار څارنه به یې کوله.
په شمالي کوینزلند کې هغه سیمې چې استوایي او مرطوبه هوا درلوده، د اوښانو د فعالیت لپاره مناسبې سیمې نه وې؛ ځکه نو د دوی فعالیت په دې سیمو کې محدود پاتې شو. وروسته بیا د Cloncurry په سیمه کې هم د افغانانو فعالیت لومړی، خو له هغو اروپایانو سره د شخړو له امله، چې د اسونو خاوندان وو او په ورته کارونو بوخت وو او بیا د Richmond او Cloncurry ترمنځ د اورګاډي د پټلۍ په جوړېدو سره، چې کار یې په ۱۹۰۸ کال کې بشپړ شو، له زیاتو خنډونو سره مخامخ شو؛ ځکه نو له یو لږ شمېر افغانانو څخه پرته نور ټول افغانان د کوینزلند شمال لوېدیز لور ته ولاړل.

## افغانان په مرکزي استرالیا کې:

تر ۱۸۷۲ کال پورې د تلګراف د مزي په غځولو سره د شمالي او جنوبي استرالیا ترمنځ مخابراتي اړیکې ټینګې شوې. په همدې کال د استرالیا په مرکزي برخه یا هغه ځای کې چې اوس د Alice Springs په نامه یادېږي، خلک مېشته شول او د څارویو روزنه پیل شوه. سیمې ته د خلکو ورتګ د ۱۸۷۰ لسیزې له نیمایي څخه وروسته په زیاتېدو شو. په ۱۸۸۷ کال کې له دې سیمې څخه ۲۰ کیلو متره لرې د ختیځ خواته سره زر وموندل شول، همدا ډول په ۱۸۸۵ کې د یاقوتو د کانونو په موندلو سره دې سیمې ته د خلکو راتګ زیات شو او د درې کلونو په موده کې (۱۸۸۸-۱۸۸۵) یو زیات شمېر خلک د دې کاني موادو د موندلو لپاره د مرکزي استرالیا په لور رامات شول. په سیمه کې د کورونو د جوړولو لپاره ساختماني مواد او همدا شان د کارګرانو لپاره نور د اړتیا مواد ټول د افغانانو لخوا برابرېدل. وایي چې که افغانان نه وای، نو تر زیاتو کلونو پورې به چا د استرالیا مرکزي برخو ته د ورتګ جرئت هم نه وای کړای. په مرکزي استرالیا کې د افغانانو خدمتونو تر پنځوسو یا شپېتو کلونو پورې، یعنې تر هغه وخته پورې چې په ۱۹۲۹ کال د اوسپنې پټلۍ تر Alice Springs پورې وغځېده دوام وموند.

د استرالیا په افغانانو کې دوه ورونه، چې فیض محمد او تاج محمد نومېدل زیات شهرت لري. دوی دواړو لومړی له Thomas Elder سره کار کاوه، خو وروسته بیا د نوموړي په مرسته پخپله د زیاتو اوښانو خاوندان شول. دوی پخپله ځو ځله افغانستان ته ولاړل او له هغه ځای څخه یې د افغانانو او اوښانو په راوړلو سره ځانونو ته د جنوبي استرالیا په شمالي برخو او همداشان په مرکزي استرالیا کې ښه کار و بار برابر کړ. په کال ۱۸۹۰ کې، کله چې د اورګاډي پټلۍ تر Oodnadatta پورې وغځېده، د دوی فعالیت لا هم زیات شو او د اورګاډي له دې سټېشن څخه د تلګراف لرې پرتو سټېشنونو او مرکزونو ته د مالونو وړل راوړل د یوه قرارداد له مخې دوی ته وسپارل شول. د لاسلیک شویو قراردادونو له مخې دوی مکلفیت درلود، چې مالونه پخپل وخت هغو ځایونو ته، چې ټاکل شوي وو ورسوي او که مالونه ورکېدل او یا خرابېدل، نو دوی مجبور وو، چې خاوندانو ته یې تاوان ورکړي. داسې وایي چې په ۱۸۸۹ کال، دې دواړو ورونو ۱۱۲ اوښان لرل او ۱۴ تنه افغانانو دوی ته کار کاوه. درې کاله وروسته په ۱۸۹۲ کال د دوی د اوښانو شمېر ۷۳۲ او د هغو افغانانو شمېر چې دوی استخدام کړي وو ۹۲ تنو ته ورسېد. په ۱۸۹۳ کې دوی په دې سیمه کې د مالونو د وړلو او راوړلو ترون بیا نوی کړ او ۱۱ تنه نور افغانان یې هم استخدام کړل. له هغو افغانانو څخه چې له دې دواړو ورونو سره یې کار کاوه، ځینې وروسته بیا پخپله د آسانو خاوندان شول او ځانونو ته یې ښه کاروبار برابر کړ چې له هغو څخه د عبدالقدیر، موسی بلوچ او سلطان محمد چې پخپله بیا وروسته د ډېرو اوښانو او شتو خاوندان شول د یادونې وړ دي.

فیض محمد او تاج محمد په مري Marree کې یو لوی کمپ درلود چې په یوه خوا کې یې د خرما د ونو یو لوی باغ هم جوړ شوی و. دوی دلته د مالونو په وړلو راوړلو سربېره د اوښانو د روزنې کاروبار هم کاوه او خپل روزل شوي اوښان به یې په اروپايي کمپنیو او نورو افغانانو خرڅول. دې کې شک نشته چې دوی په اروپایانو سربېره په دې کار کې له ځینو افغانانو سره هم رقابت

درلود ، په هغو افغانانو کې چې دا وخت د زياتو اوښانو خاوندان وو د عبدالواحد او غني خان نومونه د يادولو وړ دي. وايي چې دوی د خپلو اوښانو لپاره په مري کې يو ځړځای په اجاره نيولی و او هر کال به يې د دې ځړځای اجاره چې ۵۰۰ پونډه وه حکومت ته ورکوله. د مالونو په وړلو راوړلو سربېره دوی به يو زيات شمېر اوښان نورو ته په موقتي ډول په اجاره هم ورکول.
په ۱۸۹۴ کال کې فيض محمد او تاج محمد د يو تړون له لاسليک څخه وروسته د John Manafield په نامه يو استراليايي چې په مري او ځينو نورو ځايونو کې د زياتو دوکانونو خاوند و ، په مري کې خپل نماينده وټاکه او پخپله يې د لوېديزې استراليا په لور مخه کړه. فيض محمد په Geraldton نومي ځای کې د خپلې کمپنۍ د هغې څانګې سرپرستي په لاس کې ونيوه چې دوه کاله د مخه يې پرانستې وه. تاج محمد Coolgardie ته ولاړ، تر څو هلته د خپل فعاليت لپاره يوه نوې څانګه پرانيزي. يو کال وروسته فيض محمد په Geraldton کې د خپلو اوښانو لپاره د يو کمپ د جوړولو په مقصد پنځه سوه جريبه (۲۴۰ ايکره ) ځمکه هم وپېرودله او په نژدې ښار کې يې د ودانۍ لپاره څو نمرې ځمکه هم تر لاسه کړه. تاج محمد په ۱۸۹۶ کال په جومات کې د لمانځه په وخت کې د يو بل افغان لخوا ووژل شو. دې کار فيض محمد له زياتو جنجالونو سره مخامخ کړ؛ ځکه له يوې خوا د دوی زيات پورونه چې خلکو ته يې ورکړي وو بايد راټول شوي وای او له بل پلوه د Elder وکيلانو له ده څخه د هغو پيسو غوښتنه کوله چې پخوا يې ده ته د پور په ډول ورکړې وې، ځکه نو فيض محمد په ۱۸۹۹ کال د Walter James Young په نامه د اديلايد يو اوسېدونکی د خپل وکيل په توګه وټاکه، تر څو له ده سره د ده د حسابونو په پاکولو کې مرسته وکړي. په ۱۹۰۰ کال کې د فيض محمد زيات اوښان، ځمکه او جايداد د ده د پورونو په بدل کې د Elder د وکيلانو لخوا قبضه کړای شو او په ۱۹۰۴ کال کې يې خپل پاتې اوښان هم ټول له لاسه ورکړل. د فيض محمد وصيت په پای کې دا و چې د ده د پورونو له ورکړې څخه وروسته که د ده له جايداد څخه څه پاتې شول يو څه د ده مېرمنې ته، چې ګوهر تاج نومېده او

پاتې د ده زوی ته چې غلام نومېده ورکړل شي.
یو بل افغان چې وروسته بیا د زیاتو اوښانو او شهرت خاوند شو عبدالواحد نومېده. دی په ۱۸۷۹ کال له یو شمېر اوښانو سره استرالیا ته راغی او د Coolgardie او Kalgoorlie د سیمو ترڅنګ په لوېدیزه استرالیا کې مېشته شو. سره له دې چې سره زر دلته په کال ۱۸۹۲ کې وموندل شول، تر همدې کال پورې عبدالواحد له فیض محمد او تاج محمد سره کار کاوه، خو د اسنادو له مخې په ۱۸۹۳ کال دی پخپله د اوښانو خاوند شو. څرنګه چې دی په انګرېزي ژبه پوهېده؛ ځکه نو په کال ۱۸۹۵ کې د Bourke د لېږدولو د کمپنۍ، چې خاوندان یې اروپایان وو، آمر وټاکل شو. ده به د اوښانو او افغانانو د راوړلو لپاره افغانستان ته سفرونه کول. د ۱۸۹۰ لسیزې په وروستیو کلونو کې یوې ورځپاڼې ولیکل چې واحد په یو کال کې ۷۵۰ اوښان استرالیا ته راوړي و چې له هغو څخه ۵۰۰ اوښان یوازې په یوه کشتۍ کې راوړل شوي و. د همدې ورځپاڼې په وینا واحد غواړي چې په راتلونکي کال کې ۱۰۰۰ نور اوښان استرالیا ته راوړي. که دا اعداد صحیح وي، نو لږ تر لږه به ۲۲۰ تنو افغانانو عبدالواحد ته کار کاوه. وایي چې ده په افغانستان، بلوچستان او حتی هندوستان کې استازي درلودل چې د اوښانو د پېرودلو او د افغانانو د استخدام چارې به یې سرته رسولې. په ۱۹۰۱ او ۱۹۰۲ کلونو کې د نیو ساوت ویلز او کوینزلند په لوېدیزو برخو کې وچکالي منځته راغله، خو دې وچکالۍ اوښانو ته اړتیا په دې سیمو کې لا هم زیاته کړه. په ۱۹۰۱ کال هغې کمپنۍ چې عبدالواحد ورسره کار کاوه او په هغې کې یې ونډه درلوده ۸۷۹ اوښان لرل. په ۱۹۰۲ کال واحد د ۳۵۰ نورو اوښانو د راوړلو لپاره بیا افغانستان ته ولاړ. په همدې کال نومـوړي Wanaaring تـه نـژدې د Wanagamanna د پسـونو د روزنې مرکز په بیه واخیست. کله چې له افغانستان څخه بېرته راغی، نو په همدې ځای کې یې د ځان لپاره د اوښانو د روزنې مرکز جوړ او یو زیات شمېر افغانان یې استخدام کړل او د دوی د استوګنې لپاره یې یو لوی کلی هم ودان کړ. سربېره پر دې به ده له خپلې ځمکې څخه مالګه هم لاس ته راوړله، هغه به یې

په کڅوړو کې اچوله او په اوښانو باندې به یې برک Bourke ته رسوله او له هغه ځای څخه به بیا په اورګاډي کې سدني ته رسول کېده. وایي چې دی د خپلو افغانانو ترمنځ د زیات نفوذ او احترام خاوند و، تر دې چې یو وخت دی خپل استوګنځي ته نژدې له کوم سیند څخه تېرېده، چې د ده سپین اوښ په خټو کې پاتې شو، شاوخوا ته پراته یې افغانان په منډه راغلل او دی یې پخپلو اوږو امن ځای ته ورساوه او دا ننداره د اروپایانو لپاره حیرانوونکې وه.

***

# د افغانانو ستونزې

افغانانو په استرالیا کې له اوښانو سره کار کاوه او دا هغه دنده وه چې له دوی څخه پرته یې هیچا د سرته رسولو توان نه درلود. دوی به هره ورځ دوه ځله ډېر لوی لوی بارونه ښکته او پورته کول، په شپه او ورځ کې یې یوازې دوه ځله ډوډۍ خوړه او ټوله ورځ یا شپه به یې د او ښانو تر څنګ په بېدیاوو کې په پښو مزل کاوه. د کوینزلند په شمال کې د زیات اورښت له کبله په لندبل کې د اوښانو ساتنه لا هم له کړاوونو څخه ډکه وه، حال دا چې د جنوبي استرالیا په شمال کې بیا بادونو او طوفانونو دوی له ستونزو سره مخامخ کړي وو. په دې ډول چې کله کله به دا بادونه او طوفانونه د څو ورځو لپاره روان وو. دوی او د دوی اوښان به ورته په آزاده هوا کې پراته وو چې نه خوځېدلای شول، نه یې خوب درلود او نه یې هم ډوډۍ او خواړه د ځان لپاره برابرولای شول. کله به چې بیا طوفانونه په کراره شول، نو دوی به مجبور وو چې له خپلو کورونو او شاوخوا سیمو څخه هغه سرې خاورې او شګې چې بادونو به راوړې وې لرې کړي او ورک شوي اوښان بیا ومومي. په لومړیو کلونو کې زیات شمېر اوښان له مرضونو څخه مړه کېدل؛ دا ځکه چې هغه بوټي چې له هغو څخه به افغانانو پخپل هېواد کې د اوښانو لپاره دارو درمل برابرول په استرالیا کې نه موندل کېدل، خو په وروسته کلونو کې بیا افغانانو له ځینې نورو بوټو څخه خپلو اوښانو ته دارو درمل برابرول. له ۱۸۹۵ کال څخه وروسته استرالیا ته راوړل شوي اوښان مخصوصاً په لوېدیزه استرالیا کې د یوې میاشتې لپاره په قرنطین کې ساتل کېدل؛ ځکه دوی وېرېدل چې که چېرې ناروغه اوښان استرالیا ته راوړل شي، نو د دوی آسان او نور ځاروي به هم په ناروغیو اخته شي؛ ځکه نو ددې کار د

مخنیوي لپاره د لوېدیزې استرالیا په ټولو بندرونو کې د اوښانو لپاره د قرنطین مرکزونه منځته راغلل.
پخپله افغانان به د روژې په میاشت کې له زیاتو کړاوونو سره مخامخ وو، خو د دوی ډېره لویه ستونزه هغه تبعیضي چلند و چې د اروپایانو لخوا له دوی سره کېده. په دې برخه کې حتی ځینې اروپایي الاصله لیکوالان لکه Christine Stevens په دې باور دي چې افغانانو له فزیکي او روحي پلوه د دې ډول تبعیض په مقابل کې بې ساري مقاومت ښودلی دی، خو کله به دا ډول تبعیض او حتی بې عزتي دومره زیاته شوه چې د زغملو وړ به نه وه.
وایي کله چې د افغانانو لومړی ډله د Fremantle بندر ته ورسېده، نو د هغه ځای استرالیایي ځوانانو به د دوی په کړکیو ډبرې ویشتلې او دوی به یې ښکنځل. دوی د دې ځای محکمې او پولیسو ته زیات شکایتونه وکړل او هغو هم د شکایتونو په اړه د غور وعده ورکړه، خو هېڅ یې هم ونکړل.
وایي چې انسان خو لا پرېږدئ چې د دوی له اوښانو سره هم بد چلند کېده.
په ۱۸۹۴ کال کې ځینو همدا ډول خلکو د دې لپاره چې خپله کینه او کرکه د افغانانو په مقابل کې څرګنده کړي، نو د فیض محمد یو اوښ یې په Coolgardie کې وژلی او د هغه اندامونه یې پرې کړي وو. البته دا ډول مثالونه د افغانانو په مقابل کې هغه وخت زیات لیدل کېدل.
افغانان معمولاً د کار د هغه درې کلن تړون له مخې چې له دوی سره په افغانستان کې لاسلیک کېده استرالیا ته به راتلل، دوی ته ویل شوي وو چې کله په سفر کې وي په میاشت کې به یو پونډ او کله چې استرالیا ته ورسېږي، نو په میاشت کې به درې پونډه معاش ورکول کېږي، خو په واقعیت کې داسې ونه شول؛ ځکه د دې قراردادونو له مخې دوی تر ډېرو ظالمانه او ناوړه شرایطو لاندې کار کولو ته اړ شول. موږ دلته د هغه قرارداد متن چې استرالیا ته د راغلي یو افغان (عزیز خان) او د برک Bourke د انتقالاتي کمپنۍ تر منځ د ۱۹۰۱ کال د جولای په ډبرشمه په کوینزلند کې لاسلیک شوی دی را اخلو. قرارداد په انګرېزي ژبه دی او

يوازې په پای کې يې د عزيز خان ګوته لګول شوې ده.
لومړۍ ماده: عزيز خان دا مني چې د پورته کمپنۍ لپاره به د ۱۹۰۱ کال د اګست له شپږمې څخه د شپږو کلونو لپاره د اوبن د چلوونکي په توګه خدمت کوي.
دوېمه ماده: عزيز خان دا مني چې د پورته کمپنۍ د مشرانو او استازو ټول قانوني امرونه به مني او هغه به پر ځای کوي او د کمپنۍ ګټې به تل په پام کې ساتي.
درېيمه ماده: د عزيز خان کلنۍ تنخوا به ۳۶ پونډه وي، چې د قرارداد د مودې له پای ته رسېدو وروسته به ده ته ورکول کېږي. په دې شرط چې نوموړی خپل خدمت په قناعت بښونکي ډول تر سره کړي وي. البته د ده د تنخوا په سلو کې ۵۵ به د ده د کار په موده کې ده ته ورکول کېږي.
څلورمه ماده: که چېرې عزيز خان خپلې دندې په ښه ډول تر سره نکړې او يا يې د کمپنۍ ګټې په پام کې ونه ساتلې، نو عزيز خان ته به د ده د تنخوا يوازې په سلو کې پنځوس ورکول کېږي او پاتې به يې له دې امله چې له قرارداد څخه يې سر غړونه کړې، له ده څخه ګرځول کېږي.
پنځمه ماده: عزيز خان به هره ورځ (د يکشنبې او رخصتي ګانو په ګډون) د کمپنۍ د مشرانو او استازو له هدایاتو سره سم د اوښانو په چلولو بوخت وي او په دې اړه به د هوا د حالاتو د خرابوالي، سېلاوونو او يا نورو ناوړو شرايطو عذر نه وړاندې کوي؛ ځکه په دې برخه کې د هر ډول عذر وړاندې کول به له قرارداد څخه سر غړونه وشمېرل شي.
شپږمه ماده: له هند څخه تر کوينزلند پورې د عزيز خان د سفر لګښت به چې ۱۴ پونډه کېږي د عزيز خان له تنخوا څخه ګرځول کېږي، خو که چېرې په پای کې وليدل شول چې عزيز خان خپلې دندې په پوره اخلاص تر سره کړې او په دې برخه کې يې د کمپنۍ د مشرانو رضاييت تر لاسه کړ، نو دا پيسې به بېرته ده ته ورکړل شي.
اوومه ماده: که چېرې عزيز خان په دې قرارداد کې ده ته ورکړل شوې دنده په

وفاداري سره تر سره کړي، نو پورتني کمپني به هم د پورتني شپږ کلني موديې لپاره دی په کار وګوماري او د قرارداد په تړوله موده کې به ده ته يوه اندازه خوراکي مواد (راشن)، چې د کمپنۍ مشران او استازي يې مناسب ګڼي ورکړل شي.

دا و د هغه قرارداد متن چې د هغه له مخې عزيز خان استراليا ته راوستل شو، خو اصلي خبره دا ده چې حتی په همدې قراردادونو هم عمل نه کېده او کله چې به افغانان دلته راغلل، نو همدا تنخوا به هم (چې د نورو استراليايانو له دربيمې برخې تنخوا څخه هم کمه وه) دوی ته نه ورکول کېده. په زياتو وختونو کې د دې ډول قراردادونو سره سره کله چې دوی به استراليا ته را ورسېدل، نو ځينې به يې د زياتې مودې لپاره بې روزګاره پاتې شول. دوی به د يو څه مودې لپاره د هغو افغانانو لخوا چې کار يې درلود وساتل شول، خو چې موده به اوږده شوه نو دوی به مجبور شول، چې د پوليسو له دفترونو څخه د مرستې غوښتنه وکړي. وايي چې په ۱۸۹۳ کال د مې په مياشت کې يو شمېر افغانانو د مري Marree په سيمه کې په ډېر بد حالت کې ژوند کاوه. دوی ټول چې شمېر يې ۱۲ تنو ته رسېده په يوه کوټه کې، چې د خټو څخه جوړه وه اوسېدل او ډوډۍ ورته د سيمې د افغانانو لخوا برابرېدله. دوی کار او روزګار نه درلود، سره له دې چې دوی هم د يو درې کلن قرارداد له مخې د يو بل افغان لخوا چې عبدالواحد نومېده استراليا ته راوستل شوي وو.

عبدالواحد په ۱۸۹۳ کال کې ۳۵۰ اوښان استراليا ته له بهر څخه راوستل چې له هغو سره يې بايد ۴۴ تنه افغانان هم راوستلي وای، خو هغه په دې کسانو سربېره ۱۲ تنه نور افغانان هم په دې هيله چې دلته په استراليا کې به د دوی خدمت ته اړتيا ولري، له ځان سره راوستل، خو چې کله دلته راغی هغه څه چې ده غوښتل هغسې ونه شول؛ ځکه نو دا کسان بې روزګاره پاتې شول. عبدالواحد له دوی سره له هر ډول مرستې څخه ډډه وکړه، خو وروسته بيا د پوليسو او د نورو افغانانو تر فشار لاندې يې دا ومنله چې د يو مناسب کار تر موندلو پورې دوی ته خوراک برابر کړي. په همدې کال

(۱۸۹۳) کې د سلطان محمد په نامه یو بل افغان هم یو شمېر افغانان د قرارداد له مخې د کار لپاره له ځان سره راوستي وو، خو چې بیا کله استرالیا ته راغی، نو هغوی ته یې د کار له ورکولو څخه ډډه وکړه. له دې کسانو څخه چې شمېر یې شل تنو ته رسېده، ۱۲تنو یې له زیاتو عریضو وروسته خپل معاشونه ټول تر لاسه کړل، خو اته تنه نور یې مجبور شول چې د فیض محمد او تاج محمد په کلي کې دېره شي، په کوم ځای کې به چې دوی ته وړیا ډوډۍ برابرېدله؛ ځکه فیض محمد او تاج محمد د زیات سخاوت خاوندان او تکړه مسلمانان وو او داسې له زیاتو محتاجو افغانانو سره یې مرستې کړې وې. له دې ډول بې روزګاره افغانانو څخه ځینې یې د ادیلاید په جومات کې چې د افغانانو لخوا ودان شوی و، دېره شوي وو، تر هغه چې د جومات امام شیخ علي له پولیسو څخه په دې برخه کې مرسته وغوښته. پولیسو دوی ته د موقتي کار بندوبست وکړ، خو د دوی له معاش څخه به یې یو ازې اووه شلنګه (Shilling) دوی ته ورکولې او پاتې به یې له ځان سره ساتلې، تر هغو چې ببرته وطن ته د دوی کرایه پوره شوه او دوی یې خپل هېواد ته ولېږل.
سره له دې چې د افغانانو اصلي کاروبار له اوښانو سره و، خو ځینو یې د ګرځنده تجارت په کاروبار هم بوخت وو. سره له دې چې دا کار تر زیاتې اندازې د سکهانو او هندوانو و. په دې ډول کار کې چې د (Hawkers) په نامه یې یادوي، سوداګران خپل مالونه لکه لوښي، خوراکي مواد، صابون، ټوکر، خواږه او نورې مېوې او داسې نور د اړتیا وړ شیان په هماغه شان چې همدا اوس هم په افغانستان کې رواج لري، په یوه کراچۍ کې چې اوښ یا آس یې راکاږي اچوي او لرې پرتو کلیو ته یې د خرڅلاو لپاره وړي. له دغو افغانانو څخه یو ملا عاصم خان نومېده چې د مړي د افغانانو په کلي کې یې د امامت دنده هم پر غاړه درلوده. وایي چې دی به کله کله د درېیو میاشتو لپاره هم د همدې ډول تجارت په مقصد په سفر بوخت و. په کلیو به ګرځېده او خپل مالونه به یې خرڅول. وایي کله چې په ۱۹۲۰کلونو کې د موټرونو په منځته راتګ سره

د اوښانو کاروبار ته تاوان ورسېد ، نو زياتو افغانانو همدا ډول سوداګرۍ ته مخه کړه. يو شمېر نورو افغانانو په بازارونو کې د ټوکرانو د خرڅلاو دوکانونه هم درلودل، خو د ټوکرانو خرڅول تر زياتې اندازې د بنګاليانو او پنجابيانو کار و. په افغانانو کې محمد علم چې وروسته بيا يو مشهور يوناني طبيب و، لومړی د ټوکرانو د خرڅلاو دوه دوکانونه درلودل، خو سره له دې ټولو ويل کېږي چې د شلمې پېړۍ په لومړيو کلونو کې بېکاري او بې روزګاري په افغانانو کې زياته وه.
افغانانو په زياتو وچو، بې اوبو او لرې پرتو سيمو کې د ليکونو او پوستې د رسولو چارې هم سرته رسولې. وايي چې د خانزاده په نوم يو افغان د ۱۹۰۰ لسيزې په لومړيو کلونو کې پر خپل اوښ د بروکن هل او ويلکانيا (Wilcannia) تر منځ پوسته چې همدا اوس دوه سوه کيلو متره فاصله لري، يو ازې په يوه ورځ کې رسولې وه. له انتخاباتو څخه وروسته د رايې اخيستلو صندوقونه هم افغانانو له يو ځای څخه بل ځای ته وړل.
وايي چې يو وخت افغانانو له Innaminka نومي ځای څخه تر Farina پورې چې ۲۸۰ ميله واټن لري، د انتخاباتو صندوقونه په درېيو ورځو کې رسولي وو. په لوېديزه او جنوبي استراليا کې پوليسو هم له اوښانو څخه کار اخيست او دا اوښان به دوی له افغانانو څخه پېرودل. وايي چې په ۱۸۹۹ کال کې حتی جنوبي افريقې هم له استراليا څخه شپږ اوښان وپېرودل او هغه يې له يو اروپايي سره چې د اوښانو په کار کې يې لاس درلود ، د هغه هېواد د پوليسو په اداري کې د ګټې اخيستلو په مقصد په کشتۍ کې د کېپټاون ښار ته ورسول.
د استراليا په منځنيو برخو کې د وچکالۍ ځپلو خلکو سره د مرستې د موادو د رسولو په مقصد ، حتی استراليا ته د موټرو له رارسېدو څخه وروسته هم له اوښانو څخه ګټې اخيستلو دوام وموند. د مثال په ډول د ۱۹۳۰ لسيزې د اقتصادي بحران په کلونو کې د اوښانو او افغانانو ونډه په دې برخه کې د يادولو وړ ده. په دې کلونو کې نه يوازې دا چې اوښانو او افغانانو به په لرې

پرتو سیمو کې خلکو ته د دوی د اړتیا وړ شیان رسول، بلکې په دا ډول سیمو کې به د ښارویو لپاره خواړه او اوبه هم د دوی لخوا برابرېدل.
په Coolgardie کې د ګل محمد په نامه یوه افغان، کله چې اوښانو د موټرو له راتګ څخه وروسته خپل پخوانی ارزښت له لاسه ورکړ، د اوبو د بندونو په جوړولو پیل وکړ. دا ډول بندونه خلک همدا اوس هم د باران د اوبو د سپما په مقصد د مرکزي استرالیا په دښتي سیمو کې جوړوي او له هغه څخه کار اخلي.
ګل محمد سره له دې چې یو تکړه مسلمان و، په انګرېزي ژبه پوهېده؛ ځکه نو په دفترونو کې به یې د افغانانو لپاره د ترجمان په توګه دنده ترسره کوله او افغانانو به د هغه زیات درناوی کاوه. وایي چې ګل محمد د استرالیا په قوانینو هم ښه پوهېده او له همدې امله یو ځل حکومت وغوښتل چې دی د پولیس په توګه مقرر کړي. د روزنې د پروګرام له پای ته رسېدو وروسته له ده څخه وغوښتل شول چې د نورو نویو پولیسانو په شان دا ژمنه او لوړه وکړي چې که چېرې د وظیفې له مخې له ده څخه وغوښتل شي، نو دی به خپل ورور یا پلار او مور هم د قانون منګولو ته سپاري او دوی به بندیان کوي. وایي چې ګل محمد د دې خبرې په اورېدو له خپل ځای څخه راپاڅېد او له لوړې کولو څخه یې ډډه وکړه؛ ځکه د ده په وینا دی به هېڅکله هم داسې لېونتوب ونه کړي چې خپل ورور یا نژدې خپلوان بندي کړي.



ګل محمد او د هغه فرانسوي مېرمن

ګل محمد د ژوند په وروستيو شپو ورځو کې چې د ۸۵ کالو و او څلور بچيان يې هم زلميان شوي وو د حج د فريضې د ادا کولو او د خپل ګران ټاټوبي کابل د ليدو اراده وکړه، خو ژوند ورسره وفا ونکړه او دوه اونۍ د مخه تر هغه چې په هيماليا Himalaya نومي کشتۍ کې د سعودي عربستان پر لور وخوځېږي، د اديلايد په جومات کې په حق ورسېد او د خپل هېواد د ليدو ارمان يې له ځان سره قبر ته يووړ.

د Christine Stevens په وينا افغانان هغه قهرمانان دي چې د نژدې پنځوسو (۵۰) کلونو لپاره يې د استراليا د لويې وچې له څلورو برخو څخه په دريو برخو کې د هرډول اقتصادي او ټولنيز ژوند د دوام لپاره هلې ځلې کړي دي. دوی په هغو سيمو کې چې د وچکالۍ تر تهديد لاندې وې د زرګونو خلکو او څارويو ژوند ژغورلی دی او د استراليا مرکزي برخو ته يې خوراکي مواد، ماشينونه، ساختماني مواد او حتی اوبه وررسولي دي. په ځينو مواردو کې حتی دوی عاجل پيغامونه، دواګانې او داسې نور ضروري مواد هم لرې پرتو ځايونو ته په ډېر لنډ وخت کې رسولي دي، خو خبره دا ده چې د افغانانو له دې ټولو قهرمانيو څخه له څو تنو پرته نور څوک خبر نه وو او يوازې د ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ لسيزو په کلونو کې چې د دوی فعاليتونه په مرکزي استراليا کې په ختمېدو وو، د دوی د فداکاريو او قهرمانيو ځينې کيسې رابرسېره شوې. د ۱۸۸۰ لسيزې په وروستيو کلونو کې د امين خان په نوم يو افغان د کوم عاجل کار لپاره د Bourke او Nocoleehe د سيمو تر منځ د ۱۳۲ ميلو مزل په يوه ورځ کې سرته رسولی و، يو بل افغان د Alice Springs او Oodnadatta تر منځ واټن چې ۳۵۵ ميله کېده په پنځو ورځو کې پرته له دې چې ده او يا د ده اوښ ته څه تاوان ورسېږي وهلی و. همدا شان وايي چې د اکبر خان په نامه يو بل افغان د نيو ساوت ويلز په شمال کې د Yandama له سيمې څخه په جنوبي استراليا کې د Copley د اورګاډي تر سټېشن پورې له خوراک او خوب څخه پرته تللی او راغلی و. همدا شان يو بل افغان د اوښانو په ضروري مالونو بار يو کاروان په ۱۲ ورځو کې له Alice Springs څخه Oodnadatta ته رسولی و او

په اوسط ډول يې هره ورځ ۳۰ ميله واټن وهلی و. وايي چې يو وخت فيض محمد له خپلو اوښانو سره د بېلتانه له سټېشن څخه تر Port Augusta پورې واټن چې ۲۸۰ ميله کېده په ۲۷ ساعتونو کې وهلی و. دا وخت د بېلتانه د سټېشن د مشر مېرمن ناروغه وه او په عاجله توګه يې دارو درملو ته اړه درلوده، فيض محمد لس ساعته د مخه تر هغه وخت څخه چې انتظار يې کېده بېرته سټېشن ته راورسېد. وايي چې يو وخت عبدالواحد يو اروپايي ته چلنج ورکړ، اروپايي په خپل آس او عبدالواحد په خپل اوښ له برک Bourke څخه د Wanaaring نومي ځای په لور روان شول. دواړه په لمر خاته له Bourke څخه روان شول او په لمر پرېواته دواړه Wanaaring ته چې له Bourke څخه يې ۱۱۰ ميله واټن درلود ورسېدل. اروپايي لومړی Wanaaring ته ورسېد، دواړو شپه تېره کړه سبا ته په لمر خاته عبدالواحد په هماغه اوښ بېرته د Bourke په لور روان شو او ماښام هلته ورسېد، خو چې اروپايي په Wanaaring کې سهار له خوبه راپاڅېد نو آس يې مړ شوی و.

## اوښان او سپين پوستي:

استراليا ته د موټرونو له ورتګ څخه پخوا او حتی د مخه تر دې چې افغانان استراليا ته راشي په استراليا کې يو شمېر سپين پوستو د مالونو د وړلو او راوړلو چارې سرته رسولې، خو دوی به په دې برخه کې له آسونو څخه کار اخيست. کله چې افغانان استراليا ته راغلل، نو دې خلکو نه له افغانانو سره څه علاقمندي درلوده او نه يې د دوی له اوښانو سره، خو وروسته بيا د دوی او افغانانو تر منځ سيالي په طبيعي ډول پيل شوه او په دې سيالۍ کې افغانانو ته برياليتوب ورپه برخه شو. په لومړي وخت کې دوی د اوښانو له کاروبار څخه ځکه ډېره کوله چې يو خو اوښ دوی ته يو ناپاکه او بوين حيوان برېښېده او بل دا چې دوی ډېر درانه پېټي ښکته پورته کولای نشول، خو د ۱۸۹۰ لسيزې په پای او د ۱۹۰۰ لسيزې په پيل کې څرنګه چې هېڅ بل حيوان له اوښانو سره مخصوصاً د استراليا په مرکزي برخو کې سيالي کولای نه شوه؛ ځکه نو د

استرالیا حکومتونو یې هم روزنې ته پام را واړاوه او د اوښانو د روزنې مرکزونه یې پرانستل او په دې ډول د دې هېواد سپین پوستي هم د اوښانو کاروبار ته ورګډ شول. اوس نو بیا اوښ یو ډېر ګټور حیوان و چې له ۴۵ پونډو څخه تر ۲۰ پونډو پورې یې بیه درلوده، په بېدیاوو کې یې د سفر توان درلود او د پرلپسې څلوېښتو کلونو لپاره یې هره ورځ ۲۵ میله سفر کولای شو. له دې وخت څخه وروسته په ورځپاڼو او نورو خپرونو کې زیاتې مقالې د اوښانو په باب ولیکل شوې، خو افغانان به د پخوا په شان ځپل کېدل او رټل کېدل او په لیکنو کې به دا ډول تبصرې پرې کېدې چې ګویا افغانان لټ او تنبل خلک دي او دوی ته د اوښانو په کاروبار کې زیاته اړه هم نه لیدل کېږي. کله کله به په اخبارونو کې داسې څرګندونې هم کېدې، چې ګویا اروپایان د افغانانو په پرتلې د اوښانو په کاروبار ښه پوهېږي. اوس نو دوی داسې انګېرله چې اوښان دې په استرالیا کې وساتل شي، خو افغانان دې بېرته د هغوی هېواد ته واستول شي، خو دا یوازې د ژورنالستانو تبعیضي څرګندونې وې چې هېڅکله هم په عمل کې پلې نه شوې. حقیقت دا و چې اروپایانو په هېڅ ډول د دې ګران کار د سر ته رسولو توان نه درلود، په دې کې شک نشته چې د ۱۹۰۰ کال په شاوخوا کې یو لږ شمېر اروپایان د اوښانو په کاروبار بوخت وو، خو دوی هېڅکله هم په بېدیاوو او په زیاته توده هوا کې د اوښانو له اوږدو کتارونو سره د اوږدو سفرونو او د درندو بارونو ښکته او پورته کولو توان نه درلود.



د فارینا له کلي څخه د اوښانو د یو کتار خوځېدل

د اوښانو د نسل د زیاتولو او روزلو پروګرام په استرالیا کې د افغانانو او اروپایانو دواړو لخوا د ۱۸۸۰ کلونو په شاوخوا کې زیات پرمختګ وکړ، تر دې چې په استرالیا کې روزل شوي اوښان به له بهر څخه د راوړل شویو اوښانو په پرتلې په ګرانه بیه خرڅېدل، خو په هغه راپور کې چې په ۱۹۰۸ کال وړاندې شوی، لیکل شوي چې د اوښانو روزنه په عمومي ډول د افغانانو کار و او یوازې په حکومتي مرکزونو کې، اروپایان هم د اوښانو په روزلو لږ او زیات بوخت وو.

**افغانان او د سپینې استرالیا پالیسي:**

وایي د مخه تردې چې افغانان استرالیا ته راشي، په دې هېواد کې د هغو چینایي او هندي کارګرانو په مقابل کې چې په لږو پیسو یې د سرو زرو په کانونو او همداشان د هېواد په لرې پرتو سیمو کې کار کاوه تبعیضي چلند روان و چې د افغانانو په راتګ سره لا هم زیات شو، خو د چینایي او هندي کارګرانو پر خلاف، افغانانو له ځانونو سره اوښان درلودل چې اروپایانو او د دوی آسونو ورسره د رقابت او سیالۍ توان نه درلود. په استرالیا کې اوښانو ته اړتیا ورځ په ورځ زیاتېده او افغانان یوازیني خلک وو چې له دې ځارویو څخه د ګټې اخیستلو مهارت یې درلود. دا کار په خاصه توګه د هغو اروپایانو د کرکې او نفرت د راپارولو سبب شو چې د مالونو په وړلو راوړلو بوخت وو او په دې برخه کې یې د افغانانو له راتګ سره سم خپل انحصاري موقعیت له لاسه ورکړی و. هر څومره چې اوښانو ته اړتیا زیاتېده په هماغه انډول د افغانانو اهمیت هم په زیاتېدو و. اروپایانو چې پخپله له افغانانو سره او د دوی آسانو د افغانانو له اوښانو سره د سیالۍ توان نه درلود؛ ځکه نو په منفي رقابت چې هماغه تبعیضي چارچلند او د افغانانو پر خلاف د عامه خلکو راپارول وو، لاس پورې کړ، په دې لړ کې د غیر عادلانه قوانینو په رڼا کې له افغانانو سره غیر عادلانه چار چلند پیل شو، د دې کار دوام د دې سبب شو چې د افغانانو لخوا هم کله کله خشونت

سره ګڼ عکس العمل ونښودل شي. هر څومره چې د دوی د فعالیت ساحه پراخېده، په هماغه اندازه ول د دوی په مقابل کې د اروپایانو تبعیضي چلند هم په زیاتېدو و، آن تر دې چې پر افغانانو او د دوی پر اوښانو حملې او بې عزتي یوه عادي خبره شوه. وایي یو ځل د ۱۸۰۰ لسیزې په وروستیو کلونو کې درې ورونږو په نیوساوت ویلز کې په څو تنو افغانانو یرغل وکړ، دوی یې ژوبل کړل او د دوی اوښان یې په بېدیا کې خوشې کړل، خو کله چې دوی د عدالت غوښتنه وکړه محکمې د شواهدو د نشتوالي په پلمه متهمینو ته برائت ورکړ. وایي چې په دې برخه کې د مطبوعاتو ونډه هم د پاملرنې وړ وه. یو ځل په ۱۸۹۰ کال کې کله چې د افغانانو اوښان په لومړي ځل مرکزي کوینزلند ته ورسېدل، نو سمدستي په محلي ورځپاڼو کې د افغانانو او د دوی د اوښانو تر عنوانونو لاندې مطالب خپاره شول. په دې خپرونو کې به کله کله حتی افغانان له چینایانو څخه هم بد خلک ښودل شوي وو.

د ۱۸۹۰ لسیزې په لومړیو کلونو کې لوېدیز کوینزلند د لویو اتحادیو ترمنځ د جګړو په ډګر بدل شو. یوه د ښارویو د روزونکو اتحادیه وه چې غوښتل یې د دوی لخوا تولید شوې وړۍ په ارزانه بیه د خرڅلاو بازارونو ته ورسول شي، بله یې د اروپایي بار وړونکو اتحادیه وه چې غوښتل یې د مالونو د وړلو کرایه د پخوا په شان لوړه وساتل شي. همدې شخړو افغانانو ته زمینه مساعده کړه چې دې سیمو ته راشي. د ښارویو روزونکي د دوی په راتګ ډېر خوښ وو؛ ځکه د افغانانو خدمت د دوی لپاره هم ارزانه او هم د اعتماد وړ و. په بل عبارت کوم مالونه چې افغانانو په ۱۲ ورځو کې منزل ته رسول اروپایانو په پنځو اونیو کې رسولای نه شول؛ ځکه نو په ۱۸۹۲ کال د دې سیمې بار وړونکو د افغانانو پر خلاف یوه عریضه ولیکله چې د کوینزلند د مختلفو ښارونو له ۸۰۰ څخه زیاتو اوسېدونکو لاسلیک کړې وه. د کوینزلند حکومت چې له یوې خوا یې افغانان نه خوښېدل، خو په عین وخت کې یې نه غوښتل چې د ښارویو روزونکي هم چې د افغانانو د فعالیت د دوام غوښتنه یې کوله خپه کاندي. دوی ته یې په ځواب کې وویل

چې لـه افغانـانو سـره پـه لانجـه کې بـه د دوی لـه حقوقـو ملاتـړ وکـړي. بـار وړونکـي پـه دې کـار قـانع نـه شـول ځکـه يـې نـو يـو هئيـت د اسـتراليا د مسـتعمراتو وزيـر تـه واسـتاوه. وزيـر چې لـه دې اتحـاديو سـره مقابلـه نـه غوښته، نو د دوی په عريضه کې يې وليکل چې د سيمې ځړځايونه يوازې د محلي خلکو د استفادې لپاره دي؛ ځکه نو اوښان له دې ځړځايونو څخه د ګټې اخيسـتلو حـق نـه لـري. د څـارويو روزونکـو د دې لپـاره، چې لـه دې پياوړو کارګري اتحاديو سره مقابله وکړای شي، سره يو ځای شول او له اوښانو څخه په ګټې اخيستلو سره يې د بار وړونکو يوه اتحاديه يا کمپنۍ منځته راوړه او د عبدالواحد په نامه يو افغان يې د هغې مشر وټاکه. په دې کـار سـره زيـات شـمېر افغانـان او د دوی اوښـان لوېديز نيوسـاوت ويلـز او لوېديز کوينز لند ته راغلل او دې کار د اروپايي بار وړونکو خپګان نـور هـم راوپاراوه. د کوينز لند حکومت د څارويو د روزونکو ملاتړ وکړ؛ ځکه يې په ۱۸۹۱ کال د دې سيمې په ځينو ښارونو کې حتی پوځيـان د ېره کـړل چې د افغانانو د کاروانونو ساتنه وکړي.
يو له هغو کسانو څخه چې له افغانـانو سـره يـې سـخته دښمني درلـوده او لـه کوينز لند څخه په لوېديزې استراليا کې د سرو زرو کاني سـيمو تـه تللـی وو وسـپر Uosper نومېـده چـې پـه لوېـديزه اسـتراليا کـې د يـوې ورځپـاڼې چلوونکی شو. هغه وخت د لوېديزې استراليا د سرو زرو کانونو آوازې هرې خواته خپرې وې او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه په زرګونو خلک دې سيمې تـه را روان وو. افغانان يوازې خلک وو چې دې ډول ټولو سيمو تـه يـې اوبـه، خوراکي مواد او نور د اړتيا وړ شيان ور رسول. Uosper دې سيمو ته د غيـر اروپايي خلکو لـه ورتـګ سـره پـه عـام ډول او د افغانـانو لـه ورتـګ سـره پـه خاص ډول مخالفت کاوه. ده پخپلې ورځپاڼې کې د افغانانو پر خلاف زيـات مطالب خپاره کړل او د خلکو احساسات يې د دوی پـر خـلاف را وپـارول تـر هغه چې دوه زره تنه کارګرانو د ده هغه غوښتنليک چې د افغانانو پـر ضـد د يوې پراخې اتحاديې جوړېدل وو لاسليک کړ. د دې اتحاديې هدف دا و چې

پـه حکومـت او سـيمه ايـزو شـوراګانو فشـار راوړي چـې افغانـان او نـور اسـيايان لـه دې ځـای ځخـه وباسـي. پـه کـال ۱۸۹۴ کـې کلـه چـې د Uosper لمسونې د افغانـانو پـر ضـد روانـې وې د پـرت د ښار ختـيځ او د سرو زرو د کانونو جنوب لور ته يوه بله پېښه وشوه. يو افغان کله چې د اوبو پـه يـو ډنډ کې د ماښام د لمانځه لپاره اودس کاوه د يوه اروپايي لخوا وويشـتل شو او مړ شو. افغانانو قاتل ونيو او هغه يې محکمې او پوليسو ته وسپاره حـال دا چې د محکمې لخوا قاتـل تـه برائت ورکـړ شـو ، همداشـان پـه ۱۸۹۳ کـال د بـروکن هـل Borken Hill او سپډونکو د نيـو سـاوت ويلـز پـر لـور د زيـاتو افغانانو د مهاجرت لـه امله د نيو سـاوت ويلز پارلمان تـه شـکايت وکـړ. دا هغـه کلونـه وو چـې د افغانـانو او د دوی اوښـانو شـمېر پـه اسـتراليا کـې پـه چټـک ډول پـه زياتېدو و ، د مثال په ډول يوازې پـه لوېديزې استراليا کـې د اوښانو شمېر له ۴۲ اوښانو ځخه په ۱۸۹۱ کال کې، پـه ۱۸۹۲ کـال کـې ځلـور زره اوښانو تـه زيـات شـو. لـه ۱۸۹۷ کـال ځخـه وروسـته د افغانـانو پـه ګـډون استراليا ته د ټولو غير سپين پوستو په راتلو نور بنديزونه هم ولګـول شـول. له دې نېټې وروسته حتی ځينو افغانانو لکه فيض محمد ، سلطان محمد او عبدالواحد چې د اوښانو د تجارت پـه کاروبار بوخت وو نـه شـوای کـولای چې افغانان او اوښان استراليا تـه را وغـواړي، پـه ۱۸۹۸ کـال پـه لوېديزې استراليا کې يو کمېسيون وټاکل شو چې د سرو زرو پـه کـانې سيمو کـې د افغانانو په شته والي د زياتو شکايتونو او رپوټونو پـه رڼا کـې غـور وکـړي. پـه همدې کال د Probyn Smith پـه نامه يو ليکـوال د لوېديزې اسـتراليا پـه پارلمان کې جذباتي وينا وکړه او پـه هغـې کـې يـې افغانـان خطرناکه خلـک وبلل او پـه کانې سيمو کې يې د هغـو د شـته والـي پـه هکلـه خبرداری ورکـړ. نوموړي دا هم وويل چې په استراليا کې افغانـان اوس هـم لـه هغـو افغانـانو سره همدردي لري چې د افغان – انګليس پـه دوېمـه جګـړه کـې لـه انګرېزانـو سره جنګېدلي دي. ده دا هم وويل چې که چېرې پـه کـوم اسلامي هېواد کـې د انګرېزانو په مقابله کې جهاد پيـل شـي، نو پـه اسـتراليا کـې بـه يـې افغانـان

هرو مرو ملاتړ وکړي. هغه پخپلې وینا کې د هغو ترخو تجربو یادونه هم وکړه چې انګریزانو له افغانانو سره په دوه جګړو کې لیدلې وې. په هر صورت د ۱۸۹۸ کال د کمېسیون له تحقیقاتو او څېړنو څخه وروسته افغانانو ته د تابعیت د پاڼې په ورکولو بندیزونه نور هم سخت شول. د قانون له مخې د تابعیت د تر لاسه کولو شرط په استرالیا کې درې کاله استوګنه او د ښو اخلاقو د یو سپارښت تر لاسه کول وو، خو فیض محمد نومي افغان ته سره له دې چې د پرش کاله په استرالیا کې اوسېدلی او له انګریزانو څخه یې د ښو اخلاقو سپارښت لیکونه هم تر لاسه کړي وو، د تابعیت پاڼه ورنکړای شوه. فیض محمد پخپل غوښتنلیک کې چې په دې هکله یې په ۱۸۹۲ کال د انګلستان د پاچا د استازي په نامه د لوېدیزې استرالیا حکومت ته وړاندې شوی و لیکلي وو:

ښاغلی جلالتمابه!

ما په دې وروستیو کې د خپلو وکیلانو له لارې د تابعیت د پاڼې د تر لاسه کولو لپاره یو غوښتنلیک حکومت ته وړاندې کړی و چې له بده مرغه ونه منل شو. حکومت په دې اړه د خپلې پرېکړې لپاره هېڅ دلیل نه دی وړاندې کړی. زه په ډېر عاجزانه ډول له تاسې څخه غواړم چې زما په دې غوښتنه غور وکړئ؛ ځکه ما خپل ټول عمر همدلته تېر کړی او تل مې د سیمې له اوسېدونکو سره ښې اړیکې لرلې دي. ما د دې هېواد په ودانولو کې پوره ونډه اخیستې او تل خپل دې دوېم هېواد ته وفاداره پاتې شوی یم. دا چې سره له دې ټولو کارونو بیا هم پرته له کوم دلیل زما غوښتنه نه منل کېږي، نو زه یې خوابدی کړی یم. زه تاسې ته ډاډ درکوم چې که چېرې زما دا غوښتنه ومنل شي، نو زه به خپل ټول توان او شته د همدې هېواد د ودانولو لپاره کاروم. هیله مې دا ده چې زما دا غوښتنه خپل حکومت ته ورسوئ چې زما په دې غوښتنه بیا غور وکړي.

فیض محمد دې ته ورته یو بل لیک د لوېدیزې استرالیا د پارلمان په نامه هم ولېږه، خو د خپلو ټولو لیکونو لپاره یې د رد ځوابونه تر لاسه کړل. د

فیض محمد د پورتني لیک په ځواب کې د انګلستان د حکومت د استازي لخوا لیکل شوي وو: «ستاسو د لیک په ځواب کې باید ووایم چې موږ دا منو چې تاسې دلته ډېر ګټور خدمتونه سر ته رسولي دي. دا چې تاسې ته د تابعیت پاڼه نه درکول کېږي دا له تاسې سره مخالفت نه دی، بلکې دا د حکومت پالیسي ده. د دې تر څنګه دا هم ویل غواړم چې د تابعیت د پاڼې له لرلو څخه پرته هم تاسې ته د انګلستان د یو تبعه په څېر زیات حقونه درکړل شوي دي. یوازینی حق چې تاسې به یې نلرئ، هغه په انتخاباتو کې ګډون او ځینې نور کوچني شیان دي چې ستاسې په کاروبار او یا ورځنې ژوند باندې د پاملرنې وړ څه اغېزه نه لري.»
د افغانانو په مقابل کې دې تبعیضي چلند دوه علتونه درلودل، یو خو دا چې دوی سپین پوستي او اروپایان نه وو؛ ځکه نو د ټولو نورو غیر اروپایي خلکو لکه چینایانو، هندیانو او نورو په شان دوی هم له زیاتو حقونو څخه محروم پاتې شول او بل دا چې دوی په یو مهم اقتصادي فعالیت بوخت وو او په دې هکله یې د سپین پوستو چې له دوی سره په سیالۍ کې وو سخته کرکه راپارولې وه. څرنګه چې دوی ډېر صادقه او زیار ایستونکی وو؛ ځکه نو پر تجارانو او مالدارانو باندې ګران وو، د مثال په ډول دوی شراب نه څښل؛ ځکه نو که دوی ته به ورکړل شول هغه به یې په پوره امانتدارۍ له یو ځای څخه بل ځای ته ور رسول، حال دا چې که دا کار سپین پوستو ته چې په آسونو یې مالونه له یو ځای څخه بل ځای ته وړل، ورکړل شوي وای، نو نیمایي به یې په لاره غلا شوي او له منځه تللي وای؛ ځکه چې دوی پخپله هغه پېول. سپین پوستو ته چې په دې برخه کې یې له دوی سره د سیالۍ توان نه درلود، ښه پلمه دا وه چې د دوی د پوستکي د رنګ په پلمه د عامه خلکو کرکه د دوی په مقابل کې راوپاروي.
له ۱۹۰۱ کال څخه وروسته چې د استرالیا شپږ مستعمرې په یو فدراسیون کې سره یو ځای شوې، استرالیا ته د مهاجرت نوی قانون منځته راغی چې د هغه له مخې له سپین پوستو څخه پرته استرالیا ته د نورو خلکو پر

مهاجرت بندیز ولګول شو او د سپینې استرالیا په نامه له تبعیض څخه ډکه پالیسي، چې زیات شهرت لري، په رسمي ډول پیل شوه. د دې پالیسۍ له مخې، نه یوازې دا چې استرالیا ته د غیر سپین پوستو پر راتګ بندیز ولګول شو، بلکې دوی ته اجازه نه ورکول کېده چې له یوه ایالت څخه بل ایالت ته هم له اجازې پرته سفر وکړي. په دې توګه د افغانانو پر فعالیت باندې چې تل یې له خپلو اوښانو سره له یو ایالت څخه بل ایالت ته سفرونه کول بندیز ولګول شو. په ۱۹۰۲ کال له دوی څخه وغوښتل شول چې د هر ډول کاروبار لپاره لایسنس تر لاسه کړي او د هر اوښ لپاره دولت ته مالیه ورکړي.

په ۱۹۰۳ کال د راس Ross په نامه یو بل لیکوال په یوه بله ورځپاڼه کې بیا هم افغانان ورټل، هغوی یې له اخلاقي پلوه ضعیف وبلل او په بروکن هل کې د هغوی استوګنځای یا کلی یې د مرضونو ځاله وبلله. د خواشینۍ خبره داده چې د بروکن هل زیاتو اوسېدونکو د Ross خبرې ومنلې او د هغه په ملاتړ یې ورځپاڼو ته لیکونه ولیکل.

په دې ډول کرار کرار افغانان د دې پر ځای چې د نورو ملیتونو په شان په ټولنه کې جذب شي، هغوی نور هم د انزوا پر لور راکاږل شول. د دوی په کالیو، کلتور، عاداتو او دیني مراسمو ټوکې او مسخرې کېدې. دوی له استرالیایانو څخه لرې په هغو کلیو کې اوسېدل چې له ښارونو څخه د باندې یې پخپله جوړ کړي وو او ډېره ابتدایي بڼه یې درلوده. دوی ته معمولاً په ښارونو کې د پاتې کېدو اجازه نه ورکول کېده.

افغانانو بیا پخپل وار د استرالیا له تور پوستو Aborignees څخه ځانونه لوړ بلل او د دوی ځینې ځوانان به یې د عادي کارونو د سرته رسولو لپاره استخدامول، حتی د تور پوستو ښځو به هم د دوی د کورنیو خدمت کاوه.

له بده مرغه چې له افغانانو سره د اروپایانو ډېر ناوړه چلند کله کله دوی مجبورول چې د دوی په مقابل کې عکس العمل وښیي. د مثال په توګه په ۱۹۰۷ کال د کوینزلند په مرکزي برخه کې د جمدر خان په نامه یو افغان، کله

چې یوه اروپایي ډېر وځوراوه، نو ټوپک یې راواخیست، هغه اروپایي یې وواژه او یوه ښځه یې هم ټپي کړه. کله چې پولیس راغلل، نو هغه یې هم وویشت. ډېرو نورو پرده هم ډزې وکړې او دی یې ټپي کړ. په محکمه کې پرده د اعدام حکم جاري شو، خو کله چې یوه اروپایي د ده د ښو اخلاقو په هکله محکمې ته ولیکل، نو جزا یې له سخت کار سره عمري قید ته را ټیټه شوه. وایي چې جمدر خان په ۱۹۲۳ کال کې له زندان څخه خلاص شو. په یوه بله پېښه کې د چارلي ملا په نامه یو افغان په ۱۹۰۰ کال کې له یو ډله اروپایانو سره د استرالیا په مرکزي برخه کې په سفر بوخت و. د استرالیا په دې برخه کې چې ټولې ښېد یاوې دي او به نه موندل کېږي، یوازې په ځینو سیمو کې چینې او یا ډنډونه شته چې ترڅنګ یې د استرالیا تور پوستي ژوند کوي. چارلي ملا وروسته له زیات لټون څخه د اوبو یو ډنډ بیاموند او خپل اوښان یې د اوبو څښلو لپاره هلته بوتلل. یوه تورپوستي کله چې د اوښانو اوبه څښل ولیدل، نو چارلي یې له یو پټ ځای څخه په غشو وویشت چې له امله یې په هماغه ورځ مړ شو او په هماغه ځای کې خاورو ته وسپارل شو. څو میاشتې وروسته همدا ډله بیا له یو بل افغان سره همدې سیمې ته راورسېده. خلکو د چارلي ملا کیسه دغه افغان ته چې عبدالرحمن نومېده وکړه. عبدالرحمن چې دې کیسې په غصه کړی و د هغه په غچ کې یې یوه ورځ د هماغه اروپایي زوی، چې په کمپ کې یوازې و وواژه او له هغه ځای څخه وتښتېد. وایي چې څو اونۍ وروسته یې د عبدالرحمن مړی له هغه ځای څخه ۳۰ میله لرې په یوه ښېدیا کې وموند چې له لوږې او تندې څخه مړ شوی و. پخپله د افغانانو ترمنځ هم غچ اخیستلو رواج درلود، ډېر ځله داسې پېښې شوي دي چې افغانانو پخپلو منځونو کې هم پر یو بل باندې ډزې کړې دي. وایي چې یوه ورځ د باز محمد اخوند زاده په نامه یو افغان پخپله کوټه کې، چې ویده و، ویشتل شوی او وژل شوی و. په بله ورځ چې پولیسانو د وژونکي پل تعقیب کړ، نو د یو بل افغان کور ته ورسېدل؛ ځکه نو هغه یې د باز محمد د وژلو په تور زنداني کړ. قومي

سیالۍ هم د افغانانو تر منځ زیاتې وې. له هغو افغانانو څخه چې استرالیا ته راغلي وو او وروسته بیا د زیاتو شتو، تجارتونو او اوښانو د قافلو خاوندان شول، یو فیض محمد او د هغه ورور تاج محمد او بل عبدالواحد وو. فیض محمد په قام درانی او عبدالواحد په قام غلجی و؛ ځکه نو دوی دواړو به هر یوه غوښتل چې د خپلو قامونو خلک له ځان سره ولري. هغوی ته به یې کارونه ورکول او له هغو سره به یې مرستې کولې چې وروسته بیا هر یو د خپل قام مشري تر لاسه کړي او له همدې امله د درانیانو زیات شمېر په لوېدیزې او جنوبي استرالیا او زیات غلجي په نیو ساوت ویلز او کوینزلند کې مېشته شوي وو. کله چې په لومړي ځل سره زر په لوېدیزې استرالیا کې وموندل شول، نو د فیض محمد او تاج محمد په مشرۍ درانیان هلته ډېره شول، خو څرنګه چې دلته د کار او روزګار امکانات زیات وو؛ ځکه نو غلجیو هم وروسته دې لور ته مخه کړه چې البته د درانیانو له عکس العمل سره مخامخ شول. له همدې امله په ۱۸۹۲ کال د فیض محمد ورور تاج محمد د یو غلجي له خوا ووژل شو. د تاج محمد وژونکی وروسته بیا ونیول شو او د عبدالواحد د تره زوی غني خان وروسته بیا د ده د قام له غلجیو سره یو ځای بروکن هل ته ولاړ. هلته په بروکن هل کې ډېره افغانانو د دوی له پاتې کېدو سره مخالفت وښود، خو ګټه یې ونکړه تر څو غني خان په ۱۹۰۵ کال په هماغه ځای کې مړ شو، خو دا څرګنده نه ده چې دی پخپل طبیعي مرګ مړ شو، که د چا له خوا ووژل شو.
په ۱۹۱۴ کال چې نړیواله لومړۍ جګړه هم پیل شوې وه، د استرالیا په زیاتو سیمو او له هغو څخه د بروکن هل په سیمه کې بېکاري زیاته شوې او له دې امله د محلي اوسېدونکو کرکه او نفرت د افغانانو په مقابل کې لا هم زیاته شوي وو. له بل پلوه د اسلامي خلافت د مرکز ترکیې او انګرېزانو ترمنځ جګړه هم روانه وه چې افغانانو طبعاً د اسلامي ورورګلوۍ له امله له ترکانو سره خواخوږي ښودله. وايي چې د بروکن هل له افغانانو څخه یو تن چې ګل محمد نومېده، د ترکیې د هغه وخت سلطان په نامه یو لیک ولېږه او په

هغـه کې يـې دا غوښـتنه وکـړه چې کـه دی د ترکيـې د يـو پـوځي پـه توګـه وپېژندل شي. هغه ځوابيه ليک کې چې ده له ترکيې څخه تر لاسه کړ، د ده دا غوښتنه ومنل شوه. دا هماغه ګل محمد دی چې **۱۹۱۵** کـال پـه لـومړۍ ورځ کله چې د ښار يو زيات شمېر او سېدونکي د کال د لومړۍ ورځ د مېلې لپاره پـه يـو سـر لـوځي اورګـاډي کـې سـپاره او د مېلـې د ځـای پـر لـور روان وو، ناڅاپه له خپل يو بل افغان ملګري سره چې مـلا عبدالله نومېده او د بـروکن هل د کلي امامت هم ور په غاړه و، په داسې حال کې چې د ترکيـې بيـرغ يـې پـه لاس کې نيـولی و، د يـوې غونـډۍ لـه شـا راڅرګنـد شـو او پـر اورګـاډي باندې يې ډزې پيل کړې، څلور تنه يې ووژل او اووه تنه يـې ټپيـان کـړل، خو دوی دواړه هم وروسته د محلي خلکو او پوليسو د ډزو له امله ووژل شول. د دوی لـه مړينـې څخـه درې ورځـې وروسـته تـر يـوې ډېرې لانـدې يـو ليـک وموندل شو چې پـه هغـه کې دې دوه تنو د اسلام پـه لاره کې د خپـل ځان د قربانولو په اړه ليکلي وو.

***

# ملايان، جوماتونه او ديني مناسک

افغانان په استراليا کې د اسلام بنسټ ايښودونکي دي. دوی هغه لومړني مسلمانان دي چې استراليا ته راغلل او د محمدي آذان غږيې په دې هېواد کې اوچت کړ. له دوی څخه پخوا هغه ټول مهاجرين چې دې هېواد ته راغلي وو اروپايي عيسويان وو. د هغو ترڅنګ لږ شمېر چينايان هم دې هېواد ته راغلي وو ؛ ځکه نو افغانان هغه لومړني مسلمانان دي چې د بسپنو په راغونډولو سره يې جوماتونه په اديلايد او پرت کې جوړ کړل چې همدا اوس هم د دې ښارونو تر ټولو لوی جوماتونه دي. دوی په داسې شرايطو کې پخپل دين او کلتور ټينګ پاتې شول چې د دوی په مقابل کې سخت تبعيضي چلند روان و او خلکو به د دوی په کاليو ، خوراک او حتی لمانځه او نورو عبادتونو ملنډې وهلې. مهمه خبره داده چې دوی پخپلو کورنيو کې هم د خپل ملي او اسلامي کلتور د ساتنې په برخه کې ډېر ټينګ وو. سره له دې چې د دوی مېرمنې ټولې د تورپوستو او يا کله کله اروپايانو څخه وې. اصلاً په هغه وخت کې هېڅ افغان په استراليا کې خپله افغاني مېرمن او يا کورنۍ له ځان سره نه لرله په دې چې دوی استراليا ته د خپلو کورنيو د راوړلو اجازه نه درلوده. په هر صورت ټولې هغه مېرمنې چې له افغانانو سره يې واده کاوه، مجبورې وې چې په کورنۍ کې ډېر ټينګ افغاني دسپلين په کوم ډول چې په افغانستان کې ليدل کېده ومني. دوی به د اسلام دين مانه او هغه به يې عملي کاوه، پښتو ژبه به يې زده کوله او له خپلو مېړونو او بچيانو سره به په همدې ژبه غږېدل او له خپلو ګاونډيانو او دوستانو سره به يې د پښتني کلتور په رڼا کې چلند کاوه. په ټولو هغو ځايونو کې چې د افغانانو د استوګنې ځايونه وو په هر کلي کې يو جومات جوړ شوی و.

زیاتو جوماتونو ځان ته جلا ملا امامان درلودل چې په امامت سربېره به یې خلکو ته مشورې هم ورکولې او هم به یې د لانجو د له منځه وړلو لپاره منځګړیتوب کاوه.
په هغو کلیو کې چې ملا امام یې نه درلود د کلي یوه مشر به امامت کاوه. څرنګه چې افغانان به تل په سفر کې وو؛ ځکه نو دوی به په سفر کې هم د پاک قرآن یوه نسخه له ځانونو سره ساتله او خپل لمونځونه به یې په منظم ډول ادا کول.


یو افغان دلمونځ د ادا کولو په وخت کې

**جوماتونه:**

څرنګه چې افغانان په استرالیا کې د کال په زیاته موده کې په سفر تلل؛ ځکه نو خپل لمونځونه به یې هم کله چې له کلیو څخه لرې په سفر کې وو د لارو تر څنګ د کومې چینې یا ونې تر څنګ ادا کول. د افغانستان د کوچیانو په شان دا ځایونه دوی ته معلوم وو؛ ځکه نو دا ځایونه به یې پاک ساتل او د هغو درناوی به یې کاوه، کله کله به یې یو ټیټ دېوال هم ورنه چاپېر کړ تر څو هغه ته د څارویو د ورتګ مخه ونیول شي. په زیاتو دا ډول ځایونو کې د اوبو د بندونو په جوړولو سره د اوداسه د ځای بندوبست هم شوی و. دا ډول جوماتونه چې شمېر یې په استرالیا کې زیات و تقریباً ټول له منځه تللي دي او له څو عکسونو څخه پر ته یې نورې نښې نه لیدل کېږي.



هغه لومړنی جومات چې د مري Marree کلي ته نږدې
په ۱۸۸۲ کال جوړ شوی و.

همدا ډول ساده جوماتونه د افغانانو د استوګنځايونو تر څنګ هم ليدل کېدل، خو په وروستيو کلونو کې کله چې له فلزي تختو څخه د کورونو په جوړولو کې کار اخيستل پيل شول، نو افغانانو هم خپل کورونه او جوماتونه له همدې ډول تختو څخه جوړ کړل. يو له دې ډول جوماتونو څخه په بروکن هل کې چې له سدني څخه نژدې ۱۲۵۰ کيلو متره لرې پروت دی جوړ شوی و ، البته دا جومات پخوا د افغانانو په يوه کلي کې چې له ښار څخه دوه کيلو متره لرې پروت و جوړ شوی و ، خو په وروسته کلونو کې ښار د افغانانو د کلي په لور پراختيا وموندله، تر دې چې اوس د دې کلي هېڅ نښه نشته، خو جومات د بروکن هل د تاريخ د ټولنې لخوا د يوې تاريخي ودانۍ په توګه ساتل کېږي. په ۱۹۹۵ کال له ۵۰ تنو څخه زيات افغانان له جنوبي استراليا ، ويکتوريا او نيو ساوت ويلز څخه د دې جومات د ليدو او همدا شان د هغه لومړني افغان پر مقبرې د ګلونو د ګېډۍ د ايښودلو په مقصد چې په ۱۸۲۲ کال له دې ښار څخه ۱۰۰ کيلو متره لرې د ميننډي (Menindee) په سيمه کې ښخ و ، بروکن هل ته ولاړل.

افغانانو په راتلونکو کلونو کې هم خو ځله دې ځای ته سفرونه وکړل او د بروکن هل د جومات د ترمیمولو په هکله له مربوطه مقاماتو سره وغږېدل چې د جومات ترمیم ته یو څه پیسې برابرې شوې او جومات په ۲۰۰۱ کال کې په نوې بڼه پرانستل شو. اوس اوس د مسلمانانو شمېر په بروکن هل کې دوه تنه دی چې یو یې له جنوب ختیزې آسیا څخه دی او بل یې هم یو اروپایي دی چې نوي مسلمانان شوي دي؛ ځکه نو له جومات څخه یوازې دوه تنه هغه هم کله کله د لمانځه د ادا کولو لپاره ګټه اخلي.



د بروکن هل جومات

د هغو افغانانو بچیان چې دلته او سبدل اوس هم او سېږي، خو له بده مرغه چې اوس هغه ټول عیسویان شوي دي. له دوی څخه یوې مېرمنې چې اوس نژدې اویا کلنه وه وویل چې دا کله چې کوچنۍ انجلۍ وه دلته راتله او د جومات په غولي کې به یې لوبې کولې، خو جومات ته د ننه ورته د ننوتلو اجازه نه ورکول کېده، په دې چې دا انجلۍ وه. د دې ورور امان الله چې اوس ځان ته یو عیسوي نوم غوره کړی وایي چې د ده یاد بېږي هغه ورځ چې د ده تره کوم وخت چې مړ شو دلته راوړل شو او د جنازې د لمانځه له ادا کولو وروسته د دوی په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.
له ۱۹۰۰ کال څخه وروسته په مري Marree کې د افغانانو د کلي جومات هم چې پخوا له خټو څخه ودان شوی و ترمیم شو او د جومات د دېوالونو او چت په جوړولو کې یې له فلزي تختو څخه کار واخیستل شو. د مري د

جومات تر څنګ د اوداسه لپاره د اوبو یو حوض (ډنډ) هم جوړ شوی و.
وایي چې د ۱۹۴۰ لسیزې په کلونو کې د آصف په نامه افغان یو ازیني سړی
و چې د مړي د افغانانو په کلي کې اوسېده. وایي چې دی به د شپې لخوا تل
د نورو افغانانو د لیدو لپاره د هغوی کورونو ته ورته، خو یوه شپه کله چې
دی د یو افغان له کور څخه راستنېده، نو د جومات په ډنډ کې ولوېد چې
سبا یې مړی له هغه ډنډ څخه راوایستل شو. وایي چې آصف یو سپی درلود
چې تل به له ده سره و. په هماغه شپه چې دی په اوبو کې ولوېد، سپي ډېرې
کوکارې وکړې، وغپېد، خو چا ورته پاملرنه ونه کړه. په سبا یې د ده له مړي
سره هدیرې ته ولاړ او د څو اونیو لپاره د آصف قبر ته نژدې په هدیره کې
پروت و.
د کولګارډي (Coolgardie) د سرو زرو د کانونو په سیمه کې د پېښې
یادونه مو پخوا هم کړې وه. د اوبو ډنډونه د استرالیا په بېدیاوو کې، حتی
همدا اوس هم زیات اهمیت لري. په دې ډول ډنډونو کې د باران اوبه
راټولېږي او وروسته بیا د مختلفو مقصدونو لپاره له دې اوبو څخه کار
اخیستل کېږي.
وایي چې په ۱۸۹۴ کال د سرو زرو د کانونو درې تنه کارکوونکي د غه ډنډ
ته د اوبو د اخیستلو لپاره ورغلل. هلته یې ولیدل چې له سلو څخه زیات
اوښان او ۱۲ تنه افغانان د اوبو د ډنډ تر څنګ د ېره دي. وخت ماښام ته نژدې
و او افغانان د ماښام لمانځه ته په تیارۍ بوخت وو، څادرونه یې غوړولي
وو او ځینې نور یې په ډنډ کې په اوداسه بوخت وو او خپلې پښې یې
مینځلې. له دې کارګرانو څخه یو تن چې Ted Knowles نومېده د دې
حالت په لیدو چې یو څوک دې د څښلو د اوبو په ډنډ کې خپلې پښې
مینځي ډېر په غوسه شو او خپله تمانچه یې د افغان د ډارولو لپاره
راوایسته. افغان چې دا حالت ولید، نو هغه یې په ډېره وویشت، اروپایي
نور هم په غوسه شو او پر افغان یې چې نور محمد نومېده د تمانچې ډز
وکړ. نورو افغانانو د ده د نیولو هڅه وکړه خو ده ډزو ته دوام ورکړ او یو بل

افغان يې هم چې خان محمد نومېده ټپي کړ. کله چې د اروپايي د تمانچې کارتوس خلاص شول، نو هڅه يې وکړه چې وتښتي خو د شېر محمد او طره باز پـه نامـه دوه تنـو افغانـانو دی ونيـو ، د درې واړو اروپايـانو لاسـونه يـې وتړل، خپل کلي ته يې بوتلل، ښه يې ووهل او پـه ونو پـورې يـې وتـړل، بيـا ټول سره راټول شول او په دې هکله يې جرګه وکړه ، چې له قاتل سره څـه ډول چلنـد وشـي. جرګـه ټولـه شـپه روانـه وه، پـه پـای کـې يـې د دې لپـاره چـې د افغانانو شهرت پـه اسـتراليا کـې خـراب نشـي، پرېکړه وکړه تـر څو بنديان عدالت ته وسپاري، همداسې هم وشول. بلـه ورځ سـهار يـې بنديان پوليسـو ته وسپارل. د نور محمد د ښخولو مراسم تر سره شول او جان محمد چې ټپي شوی و د علاج لپاره ۲۰۰ ميله لرې يوه روغتـون تـه ورسـول شـو ، خـو لـه بـده مرغه چې دی هم هلته مړ شو. د سيمې اروپايي او سېدونکو چې شمېر يې له ۱۵۰ تنو څخه زيات و پـه يـوې عريضـې کـې د قاتـل خوشـې کېـدل وغوښـتل. هماغه وو چې قاتل د محکمې لخوا خوشې شو او د يو قهرمـان لقب ورکـړل شو. افغانانو پرېکړه وکړه چې خپـل غـچ بـه هرو مـرو اخلـي. هماغـه وو چـې اروپايي قاتل هغـه ځـای پرېښـود او د اسـتراليا شـمالي سـيمو تـه چـې هلتـه اوښان او افغانان هېڅ نه وو کډه شو تـر څـو د افغانـانو لـه غـچ څخـه خـلاص شي.

پـه اسـتراليا کـې پـه عمـومي ډول هـر جومـات ځانتـه جـلا مـلا درلـود ، خـو ملايانو له امامت څخه پرته نور کارونه هم کول. لـه دې ملايـانو څخـه يـو تـن چې بل هېڅ کار يې نه درلود ملا شېر علي نومېده چې په ټولې اسـتراليا کـې به پـه جومـاتونو ګرځېـده ، د خلکـو لانجې بـه يـې ختمـولې او د جومـاتونو د جوړولو او ترميم لپاره به يې له خلکو څخه چندې ټولـولې. پـه اسـتراليا کـې ملايانو پـه امامت سربېره د خلکـو تـرمنځ د لانجـو د پـرې کولـو پـه برخـه کـې ډېر زيات اهميت درلـود ، ډېـر ځلـه بـه افغانـانو پـه يـو بـل عريضـې وکـړې او محکمې ته به يې راکاږه، خو دمخه تـر دې چـې دوی قاضـي تـه وړانـدې شـي لانجه بـه د کلـي د مـلا پـه منځګړيتـوب پـای تـه ورسـېده. د مثـال پـه ډول يـو

وخت د مظلوم په نامه یو افغان له یو بل افغان څخه چې عقوبت شاه نومېده دوه سوه پونډه پوروړی و ، عقوبت شاه له دې امله سترې محکمې ته عریضه وکړه، خو د مخه تر دې چې دوی قاضي ته وړاندې شي د سیمې د ملا د مداخلې له امله لانجه حل شوه. دا سې لانجې چې د افغانانو تر منځ پېښې شوې او بیا وروسته د جرګو له لارې حل شوې زیاتې دي. په استرالیا کې تر ټولو لوی جومات په جنوبي استرالیا کې د ادیلاید د ښار جومات دی چې د جوړولو کار یې په ۱۸۸۸ کال پیل او د ۱۸۹۰ لسیزې په لومړیو کلونو کې پای ته ورسېد.




د جنوبي استرالیا د ادیلاید په ښار کې هغه جامع جومات چې د افغانانو لخوا د ۱۸۸۸ او ۱۸۹۰ کلونو په شاوخوا کې ودان کړای شو.

دا جومات همدا اوس هم په دې ښار کې تر ټولو لوی جومات دی، د جومات د جوړولو پیسې د افغانانو لخوا د بسپنې په ډول ورکړل شوې وې. د دې جومات پر ودانولو چې له خښتو څخه جوړ شوی دی ۴۵۰ پونډه ولګېدل، وروسته بیا په ۱۹۰۳ کال د ۲۵۰ پونډو په لګښت څلور منارونه هم ورزیات شول. په ۱۹۱۵ کال سید جلال شاه چې دا جومات یې لیدلی و ، په سراج الاخبار کې ولیکل چې د استرالیا افغانانو تر هغه کال پورې ټول ۳۰۰۰ پونډه د جومات په ودانولو لګولي وو. په دې سربېره ۵۰۰ پونډه نور هم د

يوې مدرسې د جوړولو لپاره راټول شوي وو ؛ ځکه چې د مسلمانانو شمېر په دې ښار کې مخ په زياتېدو و. د اديلايد جومات په مذهبي چارو سربېره له ټولنيز پلوه هم د افغانانو لپاره زيات اهميت درلود ؛ ځکه دا جومات وروسته بيا په ټوله استراليا کې د افغانانو د راغونډېدو په مرکز بدل شو. افغانان به له هرې خوا دلته راتلل، په ورځنيو ديني، اقتصادي او ټولنيزو چارو به يې سره خبرې کولې او خپلو لانجو ته به يې د حل لاره مونده. د دې جومات ترڅنګ يو مېلمستون هم تيار شوی و چې ټول افغانان به که له هرې خوا دې ښار ته راغلل، د پيسو له ورکولو پر ته به په کې اوسېدل. زيات شمېر هغه سپين ږيري افغانان چې نور به يې د کار کولو توان نه درلود ، همدلته راتلل او د ژوند وروستۍ شپې ورځې به يې په همدې جومات کې تېرولې.

د لوېديزې استراليا د پرت (Perth) په ښار کې يو بل جومات شته چې هغه هم د افغانانو لخوا جوړ شوی او همدا اوس هم د دې ښار تر ټولو لوی جومات دی. د دې جومات د جوړولو چارې په ۱۹۰۵ کال پيل شوې او د ودانولو په ټوله موده کې يې د موسی خان په نامه يو افغان د منشي په توګه د هغه چارې پر مخ بيولې، حال دا چې د فيض محمد په نامه يو بل افغان چې پخپله د اوښانو د تجارت په کاروبار بوخت و. د لوېديزې استراليا زياتو سيمو ته د سفرونو په ترڅ کې له افغانانو څخه د دې مقصد لپاره چندې او بسپنې راټولولې. افغانانو د دې جومات د جوړولو لپاره له حکومت څخه هېڅ ډول مرسته تر لاسه نه کړه؛ ځکه چې يو خو افغانانو او اسلام ته چا په ښه نظر نه کتل، بل دا چې د پرت په ښار کې د افغانانو شمېر ډېر زيات نه وو او دربيم دا چې د سپين پوستو د حکومت په نظر افغانانو پخپلو پيسو وکولای شول، چې په ۱۹۰۴ کال د جومات د جوړولو لپاره ځمکه د پرت د ښار په مرکزي برخه کې د ۲۸۰ پونډو په ورکولو سره ترلاسه کړي. وايي چې د جومات د جوړولو لپاره د مرستې غوښتنه حتی له نورو اسلامي هېوادونو څخه هم شوې وه، خو داسې شواهد نشته چې ګوندې دا

ډول مرسته به له بل کوم هېواد څخه تر لاسه شوې وي. د جومات د ودانۍ نقشه او نور مشخصات د یو هندي مسلمان لخوا چې دین محمد نومېده برابره شوه، نوموړي هغه وخت د جومات د ودانۍ د جوړولو لګښت ۱۵۰۰ پونډه اټکل کړی وو. د جومات سرپرستي فیض محمد او د حافظ محمد حیات په نامه د پرت یو سوداګر ته وسپارل شوه. هغه وخت په استرالیا کې اوسېدونکي مسلمانان ټول افغانان او یو لږ شمېر نور یې له هند څخه وو. د جومات د جوړولو لپاره دوه ځله له افغانانو څخه بسپنې راټولې شوې، البته د لګښت پاتې پیسې د پور په ډول تر لاسه شوې. په لومړي ځل د ۱۹۰۴ کال د جون میاشتې له پنځمې نېټې څخه د ۱۹۰۵ کال د جولای تر ۳۱ نېټې پورې ټول ۷۰۲ پونډه د بسپنې په ډول له افغانانو او نورو هندي مسلمانانو څخه په لاندې ډول راغونډې شوې.

| | پونډ | شلنګ | پنس |
|---|---|---|---|
| دراني افغانان | ۱۳۳ | | |
| مهمند افغانان | ۳۳ | | |
| مياني افغانان | ۱۲ | | |
| کاکړ افغانان | ۲۷ | | |
| ترين افغانان | ۹ | | |
| سليمانخېل افغانان | ۴۹ | | |
| خروټي افغانان | ۱۴ | | |
| توخي افغانان | ۱۰ | | |
| ناصر افغانان | ۱ | | |
| بابړ افغانان | ۵ | | |
| کوهاټي افغانان | ۵ | | |
| لغماني افغانان | ۲ | | |
| مياخېل افغانان | ۲ | | |
| شينواري افغانان | ۱ | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| دفتاني افغانان | ۱ | | |
| شېخان افغانان | ۸ | | |
| پېښوري افغانان ۱۲۴ | ۷ | ۲ | |
| بلوچان | ۴۰ | | |
| پنجابي هنديان | ۲۴ | ۵ | |
| بنګالي هنديان | ۱۲ | ۱۰ | ۸ |
| سندي افغانان او هنديان | ۳۰ | ۱۱ | |
| هندوان او سکهان | ۱۷ | ۱۰ | |
| ټول | ۷۰۲ | ۱۴ | ۲ |

د جومات د ودانولو د بنسټ ډبره د ۱۹۰۵ کال د نوامبر په ۱۳ چې د روژې د میاشتې پنځلسمه ورځ وه، یو زیات شمېر افغانانو تر مخې د فیض محمد لخوا کېښودل شوه. فیض محمد چې په قام درانی او د افغانانو یو منلی مشر و، په افغانستان کې یې حتی له امیر حبیب الله خان سره هم پېژند ګلوي درلوده. وایي چې دا جومات د افغانستان د امیر په نامه ثبت شوی او د جمعې او اختر لمونځونو کې به پکې خطبه هم د افغانستان د امیر په نامه ویل کېده. د جومات د ودانولو لومړۍ برخه د ۱۹۰۷ کال په وروستیو شپو ورځو کې پای ته ورسېده. وروسته بیا د مېلمنو لپاره د استوګنې خونې هم ورزیاتې شوې او په ۱۹۱۵ کال یوه دیني مدرسه یې هم ترڅنګ پرانستل شوه. د جومات مشري تر زیاتو کلونو پورې د محمد حسن موسی خان پر غاړه وه. دی چې په اصل کې افغان و، په کراچۍ کې زېږېدلی او لوی شوی و؛ ځکه نو په پښتو او فارسي سر ببره، په نورو ژبو لکه اردو، سندي او انګرېزي ژبو هم غږېدلی شو او زیاتو افغانانو او حتی نورو مسلمانانو ته یو منلی شخصیت و. د جومات د چارو په تر سره کولو سربېره ده د پرت په ښار کې د ورځپاڼو د پلورلو یو دوکان هم درلود. موسی خان چې یو پوه او د زده کړو خاوند افغان و، د کلونو لپاره د لوېدیزې استرالیا او حتی د یوې مودې لپاره د ټولې

استرالیا د افغانانو د ویاند په توګه پاتې شو. د پرت جومات هم په عبادت سربېره په سیمه کې د افغانانو د راغونډېدو، جرګو، خبرو او اترو او لیدنو کتنو مرکز و. ټول هغه افغانان به چې دې ښار ته راتلل او په ښار کې به یې د اوسېدو ځای نه درلود، نو همدلته د جومات په مېلمستون کې به په وړیا توګه پاتې کېدل. داسې خلک هم وو چې د خپل ژوند په وروستیو کلونو کې یې تل په همدې جومات کې ژوند کاوه. هغه وروستی افغان چې دلته اوسېده امیر بخش نومېده چې په ۱۹۸۵ کال د ۸۵ کلونو په عمر همدې جومات کې په حق ورسېد.

په استرالیا کې افغانان د خپلو دیني مناسکو او عباداتو په تر سره کولو کې ډېر ټینګ وو، هغوی سره له دې چې په یو غیر اسلامي هېواد کې او تر ډېرو ګرانو اقلیمي، اجتماعي او اقتصادي شرایطو لاندې خپل کار ته دوام ورکاوه، خو هېڅکله یې د خپلو دیني مکلفیتونو له تر سره کولو څخه ډډه ونکړه. دوی به د اوړي په ډېره توده هوا کې هم په بېدیاوو کې مزلونه کول، خو بیا به یې روژه هم نیوله او لمونځونه به یې نه قضا کول. داسې افغانان هم وو چې د روژې په میاشت کې به یې د کار توان نه درلود؛ ځکه به نو د ټولې میاشتې لپاره د ادیلاید او یا په کوم بل جومات کې د ېره شول، ټوله میاشت به یې په عبادت تېره کړه. له مري Marree څخه د داد الله په نامه له یو افغان څخه روایت دی چې د ده په سیمه کې ټولو افغانانو د روژې په میاشت کې کار کاوه او ده داسې یو افغان هم نه پېژانده چې روژه یې نیولې نه وي. د زیاتو افغانانو مېرمنو هم که تور پوستي او یا سپین پوستې به وې روژه نیوله او اسلامي مناسک یې پر ځای کول. له روژې وروسته ټولو افغانانو د اختر په خوشحالیو کې ګډون کاوه او دا ورځې یې هماغسې لمانځلې، لکه څرنګه چې په افغانستان کې لمانځل کېدې. دا مراسم به حتی د اروپایانو لپاره هم په زړه پورې وو. همدا شان به دوی د لوی اختر لمانځنه هم په خوشحالیو سره کوله.

د استرالیا افغانانو د زکات ورکولو ته هم ډېره پاملرنه کوله، په عمومي ډول

به د زکات پیسې د جوماتونو د جوړولو لپاره او یا به هم هغو ملایانو او سیدانو ته چې د افغانستان په کلیو به ګرځېدل ورکول کېدې. په دې هکله یوه کیسه هم دا ده چې وایي د فیض محمد په نامه یو نسبتاً بډای افغان چې د اوښانو د تجارت په کاروبار بوخت وو او یادونه یې پخوا هم وشوه، د Coolgardie په سیمه کې اوسېده، خو څرنګه چې د ده کار تجارت وو؛ ځکه نو به یې نورو سیمو ته هم سفرونه کول. وایي یو وخت په ۱۸۸۷ کال کله چې دی په جنوبي استرالیا کې پخپل تجارت بوخت و، ده ته خبر ورکړ شو چې له هندوستان څخه یو روحاني چې له سیدانو څخه و، د ده په کور کې اوسېږي او دده لیدو ته په انتظار کې دی. فیض محمد په بیړه کور ته را روان شو، خو تر هغه وخته چې ده ته دا خبر رسېده او دی کور ته ستنېده، نوموړي سید درې میاشتې د ده په کور کې تېرې کړې وې، کله چې کور ته راغی، سید ورته خپل نوم یار محمد وښود او فیض محمد ته یې وویل چې له ده سره یې ۱۲ کاله پخوا د کولمبو په ښار کې چې د سریلانکا پایتخت دی لیدلی دی. ده هندوستان ته د بېرته تګ لپاره له فیض محمد څخه د مرستې غوښتنه وکړه او هغه ته یې وویل چې د ده ټوله شتمني او پیسې یو هندوستاني راجا له ده څخه غلا کړې دي. فیض محمد لومړی د سیمې ټول افغانان چې شمېر یې د سلو تنو په شاوخوا کې وو، له سید سره د پېژند ګلوۍ په مقصد خپل کاله ته مېلمانه کړل. په بله ورځ یې سل پونډه سید ته هندوستان ته د تګ لپاره ورکړل، ۳۰ پونډه نور یې هم ورکړل چې د زکات په ډول یې نورو اړو او محتاجانو ته ورکړي. سربېره پر دې یې په دوه جلا کڅوړو کې د برش د برش پونډه نور هم سید ته وسپارل چې باید دوه نورو ملایانو ته هم په استرالیا کې ورکړل شي. په بله ورځ فیض محمد له سید سره خدای پاماني وکړه او د خپل تجارت پر لور روان شو، خو درې میاشتې وروسته کله چې دی بېرته کور ته راغی، خبر ورکړ شو چې یار محمد یا هماغه سید هندوستان ته نه دی تللی، په همغو پیسو چې فیض محمد ورکړې وې، ځانته اوښان پېرودلي او ځان ته یې ښه کاروبار برابر کړی دی.

له استراليا څخه ډېر لږ شمېر افغانان د حج د فريضې د ادا کولو لپاره تللي دي او علت يې دا و چې يو خو دوى دومره پيسې نه لرلې او بل هم دا چې مسافه ډېره زياته وه.
په استراليا کې افغانانو نه يوازې دا چې د خوګ د غوښې له خوړلو څخه ډډه کوله، بلکې د هغه له وړلو څخه يې هم سخته کرکه لرله. هغه وخت په استراليا کې دا غوښه د خلکو له اساسي خوراکونو څخه وه او يوه زياته اندازه به يې له يو ځاى څخه بل ځاى او مخصوصاً د استراليا مرکزي برخو ته وړل کېده. اروپايان په دې پوهېدل چې که چېرې افغانان پوه شي چې په هغو مالونو کې چې دوى يې په اوښانو وړي، د خوګ غوښه هم شته، نو له وړلو څخه يې ډده کوله؛ ځکه نو غوښه به يې د پنېرو يا کچو په نامه له يو ځاى څخه بل ځاى ته لېږله. داسې کيسې هم شته چې کله افغانان په دې پوه شوي چې په هغو مالونو کې چې دوى يې وړي، د خوګ غوښه هم شته، نو ټول مالونه به يې له غوښې سره يو ځاى له منځه وړل او په پاى کې به يې د ټولو مالونو تاوان هم ورکاوه. وايي يو ځل د ۱۸۹۰ لسيزې په کلونو کې دې افغانانو په نيو ساوت ويلز کې زياته اندازه مالونه برابر کړي او له يو ځاى څخه يې بل ځاى ته وړل، خو کله چې دوى پوه شول چې په دې مالونو کې د خوګ غوښه هم شته، نو ټول مالونه يې په درياب کې لاهو کړل او دا يې ومنله چې د ټولو مالونو تاوان ورکړي. د اروپايانو لپاره دا خبره حيرانوونکې وه چې څرنګه هغه افغانان چې هېڅ هم نه لري او کله کله د يو سنت Cent حساب هم اخلي، په بل وخت کې حاضرېږي چې د دې ډول مالونو د له منځه وړلو له امله له ۵۰ او يا حتى ۱۰۰ پونډو څخه زيات تاوان ومني.
وايي چې په بروکن هل کې د جمعه خان په نامه يو افغان خپله ښځه په دې ووژله، چې ده ته يې د خوګ خطاب کړى او دى يې وبرولى و چې د خوګ غوښه به ورباندې خوري. د خوګ د غوښې په مقابل کې د افغانانو دا ډول عکس العمل اروپايانو ته پر دوى د ملنډو وهلو زمينه هم برابره کړه. وايي يو وخت افغانانو له بازار څخه ډېره سودا پېرودلې وه، د سيمې اروپايي هلکانو

په توکو د خوګ لږه غوښه د دوی په سودا کې ځای پر ځای کړه، خو چې کله افغانانو دا غوښه ولیده، نو ټوله سودا یې له منځه یوړه. په عمومي ډول افغانانو د ځان لپاره هر ډول غوښه پخپله برابروله او د نورو په لاس برابره شوې غوښه یې نه خوړله. په زیاتو وختونو کې به دوی خپل د اړتیا وړ پسونه یا وزې پخپلو کلیو کې روزلې. وایي چې یو وخت په یوه کلي کې یو بوډا افغان پروت و چې نه یې بل ځای ته سفر او نه په هماغه ځای کې د کوم څاروي د حلالولو توان درلود. دی چې له سختې لوږې سره مخامخ و، د شته غوښو له خوړولو څخه چې حلالې نه وې ډډه کوله. د بن مری Ben Marray په نامه یو سړی چې نیم افغان او نیم تور پوستی و راپیدا شو، ده ته یې څه حلاله غوښه برابره کړه، خو له بده مرغه کله چې یې په ادیلاید کې روغتون ته ورسوله، نو بوډا مړ شوی و. په همدې ډول افغانانو د شرابو له څښلو څخه هم په کلکه ډډه کوله. افغانانو د ناروغیو د علاج لپاره معمولاً له طبي بوټو څخه ګټه اخیسته او دا خو ځکه چې په نولسمه پیړۍ کې دوی په افغانستان کې له اروپایي درملو سره بلد نه وو. بالاخره هم دا چې له دوی سره په استرالیا کې ډېر ناوړه تبعیضي چلند روان و او حتی په روغتونونو کې هم دوی ته په ښه سترګه نه کتل کېدل او د پای خبره هم دا چې دوی به تل له لویو ښارونو څخه لرې په حرکت کې وو او ټول ژوند یې په بېدیاوو کې تېرېده.
یو له هغو کسانو څخه چې وروسته بیا په یوناني طبابت کې د زیات شهرت خاوند شو، محمد علم دی چې اصلاً د افغانستان په کندهار کې زېږېدلی و او په کندهار کې هم په همدې ډول طبابت بوخت و. کله چې استرالیا ته راغی، نو په ادیلاید کې دېره شو او خپل کار ته یې دوام ورکړ. ده به کله کله افغانستان ته هم سفر کاوه او له هغه ځایه څخه به یې طبي بوټي له ځان سره د درملو د جوړولو لپاره راوړل. وایي چې ده له ۲۵۸ ډوله بوټو څخه دوه سوه ډوله درمل جوړول او هغه به یې ناروغانو ته ورکول.
محمد علم په ۱۸۵۷ کال د افغانستان د کندهار په ښار کې زېږېدلی دی. له ماشومتوب څخه یې په خصوصي توګه د اسلامي علومو زده کړه وکړه. په

۱۸۷۸ کال یې د افغان او انګلیس په دویمه جګړه کې برخه واخیسته او له هغه وروسته یې له افغانستان څخه هندوستان ته د آسونو او اوښانو په تجارت لاس پورې کړ. دی په ۱۸۹۰ کلونو کې لوېدیزې استرالیا ته راغی او د نورو افغانانو په شان د اوښانو په کاروبار بوخت شو او په وار وار یې د استرالیا له لوېدیز څخه تر ختیځ او له شمال څخه تر جنوب پورې تر سختو اقلیمي شرایطو لاندې سفرونه وکړل، څو څو ځله د مرګ له خطر سره مخامخ شو، خو د خپلې هوښیارتیا له امله وژغورل شو. ده په دې سفرونو کې زیات شمېر ناروغان او محتاجان هم ولیدل او څرنګه چې په کندهار کې یې د یوناني طب زده کړه هم کړې او تل یې له ځان سره له بوټو څخه جوړې شوې دواګانې ګرځولې، د ناروغانو په معالجې یې هم لاس پورې کړ. یو څه موده یې د نیو ساوت ویلز د ایالت د ولکانیا (Wilcannia) په ښارګوټي کې چې نژدې دوه سوه کیلو متره له بروکن هل څخه واټن لري، د یوناني دواګانو د خرڅولو یو دوکان پرانست او وروسته بیا د بروکن هل په کانونو کې په کار بوخت شو. نوموړي دلته چې د کار او ژوند شرایط پکې ډېر خراب وو د زیاتو ناروغانو علاج هم وکړ، تر هغه چې دی خپله هم د روماتېزم په ناروغۍ اخته شو. تر دې وروسته دی د جنوبي استرالیا مرکز د ادیلاید ښار ته راغی، هلته یې د افغانانو د جومات تر څنګ یو کور په بیه واخیست او د یوناني طبیب په توګه یې د خلکو او ناروغانو علاج پیل کړ. په ادیلاید کې د محمد علم شهرت ورځ په ورځ زیاتېده، په داسې ډول چې اوس به نو له ډېرو لرې ځایونو څخه ناروغان د علاج لپاره ده ته راتلل. د منني د هغو لیکونو شمېر چې ده ته د خلکو لخوا لیکل شوي او یا په مطبوعاتو کې خپاره شوي، ډېر زیات دی چې د خلکو ترمنځ د ده د محبوبیت پوره ښکارندویي یې کوله. وایي چې محمد علم هېڅکله هم له خپلو ناروغانو څخه د پیسو غوښتنه نه کوله، یوازې هغه وخت چې د ناروغ علاج به وشو، نو بیا به یې پخپله خوښه چې هر څومره به یې له توانه پوره وې، هغه به یې د بسپنې په ډول ده ته ورکړې چې د ده لخوا به که لږې وې او یا ډېرې ومنل شوې. ده سربېره پر دې چې له چا څخه

د پیسو غوښتنه نه کوله، له محتاجانو سره به یې که افغانان وو او که استرالیایان د پیسو مرسته هم کوله. وایي چې محمد علم د پنځو کلونو په موده کې د ۱۵ زره پونډه و مرسته له غریبانانو سره کړې وه. له بده مرغه د جنوبي استرالیا حکومت د دې پر ځای چې د ده د دې کار درناوی وکړي، هغه ته یې په ۱۹۳۴ کال کې ولیکل چې باید د همدې پیسو د مالیې په توګه څو سوه ډالره حکومت ته وسپاري. یو کال وروسته د ده په مقابل کې یوه بله دسیسه هم جوړه شوه او هغه دا چې یو پولیس د ناروغ په جامه کې د علاج لپاره ده ته راغی، خو وروسته یې دی په دې ګناه چې د طبابت علمي اسناد نه لري، محکمې ته راکاږه. وایي چې محمد علم د جامو په اغوستلو کې د ډېر لوړ ذوق خاوند و. د یوې استرالیایي لیکوالې په وینا (کرستین ستیونز) په هماغه ورځ چې دی د سوال او ځواب لپاره محکمې ته وغوښتل شو، په داسې حال کې چې یو ښایسته وریښمین کمیس، یوه نوې توره دریشي او طلایي رنګه لنګۍ یې اغوستې وه، پخپل موټر کې چې موټروان چلاوه په ډېر عزت او برم سره محکمې ته ننوت. محمد علم قاضي ته په ځواب کې وویل چې ده هېڅکله هم دا خبره چې ګویا دی د طبابت شهادتنامې او یا اسناد نه لري له خپلو ناروغانو څخه پټه کړې نه ده. زیات شمېر استرالیایانو د ده د لوړ شخصیت په هکله شهادتونه ورکړل، خو له بده مرغه چې هېڅ ګټه یې ونکړه او په پای کې قاضي دی د غیر قانوني طبابت په تور ۴۵ پونډه جریمه کړ.



محمد علم له خپلې مېرمنې او لور سره

محمد علم په یوې کوچنۍ مقالې کې چې په خلکو وو بشل شوه د خپلو کارونو په انساني اړخ چې د خدای د رضا د لاسته راوړلو په مقصد خلکو ته خدمت و رڼا واچوله. محمد علم په دې رساله کې چې په ۱۹۳۴ کال خپره شوه، لیکي «ما په ادیلاید کې له ناروغانو او ځوربدلو انسانانو سره د مرستې په مقصد د یوناني طبیب په توګه کار پیل کړ. ما دا کار د خلکو د غوښتنې له امله پیل کړ، که نه نو زه هغه وخت د افغانستان په لور رهي وم. څرنګه چې زما هدف غریبانو ته خدمت و؛ ځکه نو ما هېڅکله له ناروغانو څخه د فیس غوښتنه نه ده کړې، چې هر څه یې له توانه پوره وو هغه یې راکړي دي، حتی که چا هېڅ هم نه دي راکړي، ما یې له نورو سره یو شان علاج کړی دی. زه پوهېږم چې یو شمېر خلک به په دې هکله هر څه وایي، خو زه یې پروا نه لرم او باور لرم چې دوی به بیا په قیامت کې ځواب ورکوي‌ز ما هر ډول خلک ولیدل، خو بده یې دا وه چې کله ما له خلکو سره مرستې پیل کړې، نو زما لپاره لانجې هم پیل شوې. ما سلګونو خلکو ته هره اونۍ بسپنه ورکړه، وړیا دوا مې ورکړه، د دوی علاج مې وکړ او دوی ته مې د نوي ژوند زېری ورکړ. زه داسې خلک هم پېژنم چې په یوه ورځ څو ځله د بسپنې د تر لاسه کولو لپاره ماته راغلل، خو ما سره له دې هم څوک ونه شړل. ما په ادیلاید کې له هېڅ خیریه موسسې څخه بسپنه نه ده سپمولې او داسې ورځ به نه وي چې ما لږ تر لږه پنځه پونډه خیرات ورکړی نه وي او دا په تېرو پنځو کلونو کې زما ژوند و. ما دا بسپنې د خدای د رضا لپاره ورکولې، سره له دې چې زه یو خارجي وم او په دې پوهېدم چې له یو بل قوم سره مرسته کوم. داسې هم نه وه چې ما به هره ورځ په زرګونو پونډه ګټل، ما دا کار د دې لپاره کاوه چې د خپل دین او عقیدې له پلوه د دې ډول زکات او خیرات په ورکولو مکلف وم او دا د دې ځای له خلکو او حکومت سره یوه مرسته وه. سره له دې چې زه پوهېدم چې که چېرې محتاجه شم، نو هېڅوک به را سره مرسته ونکړي، خو زه نه پوهېږم چې دوی ولې زما شا نیولې ده، ولې مې نه پرېږدي چې زه دې نېک کار ته دوام ورکړم، ولې دې زه د یو

ناپاکه انسان په توګه ورټل شم. زه له تاسو څخه دا پوښتنه کوم چې آیا ستاسې له خپل قوم څخه به څوک حاضر شي چې له دغه ډول غیر عادلانه چلند سره سره لکه څرنګه چې له ما سره کېږي له پردیو خلکو سره دغه ډول چلند وکړي، لکه څرنګه چې زه یې له تاسې سره کوم. ځواب یې دا دی چې هېڅوک به هم دې کار ته زړه ښه نه کړي. هرڅوک راته وایي چې زه ښه سړی یم او بیا باید دې له دوی سره پاتې شم، خو دوی په عمل کې زما د پاتې کېدو لپاره هېڅ نه کوي. یوازینی او هغه څه چې زه یې غوښتنه کوم عدالت او انصاف دی، خو که تاسې یې په معنی نه پوهېږئ، نو هغه له ټولو سره یو شان چلند دی. که د استرالیا حکومت دا نهویني چې زه د دې هېواد له خلکو سره مرسته کوم، نو زه به ولې په استرالیا کې پاتې کېږم.»
ده په یو بل لیک کې خلکو ته ولیکل چې نور نشي کولای، له کډو سرو او تنګ نظرو سیاستمدارانو سره ژوند وکړي؛ ځکه نو غوره ګڼي چې دا هېواد پرېږدي او بېرته افغانستان ته ولاړ شي. په بله ورځ د اډیلاید د ښار لس زره تنه اوسېدونکو په هغه لیک کې چې حکومت ته واستول شو، د محمد علم په مقابل کې د حکومت چلند وغانده. په لیک کې د محمد علم څخه غوښتل شوي وو چې له دوی سره پاتې شي. په لیک کې داسې راغلي وو: «موږ چې د دې غوښتنلیک په پای کې امضا کړې ده، د حکومت هغه پرېکړه چې محمد علم به د هغو پیسو د مالیې په ورکولو چې ده به په غریبانانو او ناروغانو وېشلې مکلف ګڼي په کلکه ردوو. محمد علم په زرګونو پونډه په خلکو د خپل شهرت لپاره نه دي وېشلي، بلکې هغه یې له بېوزلو سره مرسته کړې ده. هغه هره ورځ د ۵۰۰ ناروغانو علاج کوي او هره اونۍ ۲۵۰۰ بوتله دوا په خلکو وېشي، د ورځې لخوا ناروغان ویني او د شپې له لوري ورته دواګانې برابروي. موږ د دې لیک له لارې له ده څخه غواړو چې زموږ د لنډپارو مامورینو او حکومت په کړو خوابدي نشي او له موږ سره همدلته پاتې شي او د خدای د رضا په خاطر خپلو هغو کارونو ته چې تر اوسه هېڅ هم سرته رسولي نه دي دوام ورکړي، موږ په دې باور یو

چې هېڅوک هم دده ځای نیولای نشي.»
محمد علم دا غوښتنه ومنله، په ادیلاید کې پاتې شو او د ۸۱ کلونو په عمر یې له هغې انجلۍ سره چې له ده سره یې کار کاوه او ۱۸ کلنه وه واده وکړ. وایي چې همدا انجلۍ پخوا پخپله د علاج لپاره محمد علم ته راغلې وه، تر علاج وروسته مسلمانه شوه او بیا یې له محمد علم سره په کار پیل وکړ. په ۱۹۵۳ کال کله چې محمد علم ۹۲ کلن او د هغه مېرمن ۳۳ کلنه وه له خپلې ۱۲ کلنې لور سره افغانستان او کندهار ته ولاړ، هلته د ده مېرمن د چیچک په مرض اخته او وروسته بیا مړه شوه. د حج د فریضې د ادا کولو په مقصد عربستان ته ولاړ او بیا بېرته استرالیا ته ستون شو. استرالیا ته تر راتګ وروسته د ده لور ورڅخه جلا شوه. وایي چې ده به د ژوند په وروستیو کلونو کې د شپې لخوا یوازې څلور ساعته خوب کاوه او په پاتې موده کې به د پاک قرآن په لوستلو بوخت و. محمد علم د اسلام او طبابت په هکله لیکنې هم لري. ده له خپل اصلي ټاټوبي افغانستان سره ډېره مینه درلوده او د خپل هېواد له احوال څخه ښه باخبره و. په کابل کې د چاپېدونکې اردو مجلې په څلورمه ګڼه کې چې د ۱۹۳۷ کال د جولای په دوه ویشتمه چاپ شوې وه، د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر په نامه د محمد علم یو لیک چاپ شوی دی چې متن یې دا دی:
زما عالم او فاضل وزیر صاحب!
له خپل ورور عبدالرحمن خان قونسل نه (په بمبیي کې) خبر شوم چې الحمد لله ګران افغانستان طیارې رانیسي او زما وطن قوي کېږي او هر مامور او د ملت هر فرد اعانه ورکړې ده. خدای دې اعلیحضرت ته ډېر عمر ورکړي او زما وطن دې له ټولو خطراتو نه وساتي، پنځه سوه کلدارې مې د اعانې په ډول در واستولې، هیله لرم چې قبول یې کړئ.
محمد علم د ۱۹۶۴ کال د مارچ په یوویشتمه د ۱۰۸ کلونو په عمر وفات شو او خپله لور یې د ژوند په وروستیو شپېو کې ولیدله. وایي د ده په جنازه کې دومره زیاتو خلکو ګډون کړی وو چې د کتار اوږدوالی یې له دوه کیلو

مترو څخه زيات و. له محمد علم څخه د پاتې شوي جايداد بيه ۱۲ زره پونډه وه چې زياته اندازه يې د ده د وصيت له مخې هغو سازمانونو ته چې د ماشومانو د علاج او سوکالۍ لپاره يې خدمت کاوه ورکړل شو.
محمد علم ډېر پوه او ښه مسلمان و، له هغه څخه ډېر مطالب د اسلام په اړه په خپرونو او ورځپاڼو کې خپاره شوي دي. هغه به کله کله حتى له خپلو ناروغانو سره هم د اسلام د دين په هکله بحثونه کول او خلک به يې د اسلام د دين په حقيقت پوهول. هغه به د مسيحيت د دين په هکله ويل: «زه د مسيحيت په خلاف نه يم؛ ځکه چې عيسى عليه السلام د اسلام د دين له نظره هم يو منلى پيغمبر دى، خو هغه څه چې زه يې د دې دين په هکله نه منم له يو مسيحيت څخه د متعددو اديانو جوړېدل دي.»
ده به کله کله مسيحيانو ته ويل: «عجيبه داده چې تاسې د يکشنبې په ورځ د داسې يو چا عبادت کوئ چې سپين پوستى نه دى، خو د اونۍ په نورو ورځو کې بيا له همدې ډول خلکو څخه چې سپين پوستى نه دى خپله کرکه څرګندوئ.»
افغانانو په استراليا کې د خپلو مړو د ښخولو مراسم هم له افغاني او اسلامي دود سره سم په ځاى کول.



د ۱۹۳۰ کلونو په شاوخوا کې د مري Marree د افغانانو هديره

په کلي کې ټولو نارينه افغانانو د ښخولو په مراسمو کې ګډون کاوه، د جنازې لمونځ، فاتحه، خيراتونه او ختمونه ټول کټ مټ، لکه څرنګه چې د

افغانستان په کليوالو سيمو کې ليدل کېږي تر سره کېدل، خو څرنګه چې دوی د کوچيانو په شان تل په حرکت کې وو؛ ځکه نو چې هر چېرې به څوک مړ شو، په هماغه ځای کې به يې د لارې تر څنګ، البته د اسلامي مراسمو له تر سره کولو وروسته ښخ کړ. د افغانانو هديره په عمومي ډول د دوی د کليو تر څنګ جوړېده او که جلا هديره به نه وه، نو د دوی مړي به د هديرې په يوه جلا برخه کې ښخېدل چې اوس هم د ټولو مسلمانانو لپاره په استراليا کې رواج لري، خو د استراليا په هغه وخت کې دې کار تبعيضي اړخ هم درلود. وايي يو وخت کله چې په کال ۱۸۶۲ کې د دوست محمد په نامه لومړی افغان د مينندي (Mennendi) په ښارګوټي کې مړ شو، نو د دې ځای خلکو پخپله هديره کې د هغه د ښخېدلو اجازه ورنه کړه؛ ځکه نو هغه يې په جلا ډول له هديرې څخه لرې لرې ښخ کړ، حال دا چې اوس د ده مقبره ترميم شوې او د يوې تاريخي مقبرې په توګه يې ساتنه کېږي.

❋❋❋

# مېرمنې او ودونه

په نولسمې پېړۍ کې استراليا ته راغلي افغانان ټول نرینه وو، د دوی زیات شمېر ځوانان وو او واده یې نه درلود، حتی که واده یې هم درلود، نو خپل بچیان او کورنۍ یې ځرنګه چې هغه وخت په افغانستان کې رواج وو، له ځان سره نه درلودل، دوی ډېر لږ تعلیم درلود او یا بې سواده وو او د کار او څه پیسو د ګټلو لپاره استرالیا ته راغلي وو. د پښتنو سیمو افغانانو خو هسې هم له پخوا څخه هندوستان ته له سفر او هلته له کار او غریبۍ سره اشنایي درلوده. له پخوا څخه د غرنیو سیمو پښتنو افغانانو او مخصوصاً ځوانانو به په خپلې سیمې کې د کار د نشتوالي له امله د کار لپاره د هندوستان په لور مخه کوله او هلته به یې د خپل راتلونکي ژوند د برابرولو لپاره د څه پیسو د سپما په مقصد څه موده تېروله او بیا به بېرته خپل هېواد او ټاټوبي ته ستانه شول. استرالیا ته هم دوی د همدې مقصد لپاره راغلي وو. دوی به لومړی د کار یو درې کلن قرارداد له مخې استرالیا ته راغلل، خو ځرنګه چې د افغانستان او استرالیا تر منځ مسافه ډېره زیاته وه او دوی په درې کلونو کې حتی د بېرته تګ لپاره د لګښت بندوبست هم نشو کولای؛ ځکه نو د دوی زیات شمېر به د اوږدې مودې لپاره دلته پاتې شول. د زیاتو افغانانو هیله دا وه چې په استرالیا کې یو څه پیسې وسپموي او بیا یې افغانستان ته ولېږي، چې وروسته بیا خپل ځانته د هوسا ژوندانه په برابرولو کې ور څخه کار واخلي، خو ځرنګه چې په استرالیا کې د ژوند سطحه لوړه وه؛ ځکه نو په ډېرې لږې تنخوا چې دوی ته ورکول کېده (که څه هم دوی په استرالیا کې ډېر ساده ژوند درلود) ویې نشوای کړای چې خپل دې مقصد ته لکه ځرنګه چې دوی یې اټکل کاوه ورسېږي.



بیجا درویش او د ده اروپایي مېرمن د دوی په کور کې

اروپایانو په عمومي ډول او اروپايي ښځو په خاص ډول له افغانانو څخه وېره درلوده؛ ځکه چې دوی د افغانانو په هکله ډېرې وېروونکې کیسې اورېدلې وې چې رښتیا نه وې، مخصوصاً د افغانانو او انګرېزانو د جګړو کیسې چې ډېرې نوې او تازه هم وې؛ ځکه نو کله به چې اروپایي مېرمنو د اوښانو کاروان له لرې ولید ، په منډه به یې خپلو کورونو ته وځغاستل او خپل بچیان به یې هم کورونو ته دننه کړل، تر هغه چې د اوښانو کاروان به د دوی د استوګنې له ځای څخه تېر شو. د نولسمې پېړۍ متعصبو اروپایانو افغانان وحشیان بلل؛ ځکه نو اروپایي نجونو له افغانانو سره له واده کولو څخه ډډه کوله. د تور پوستو لپاره هم افغانان استرالیا ته د دوی د راتګ په لومړیو کلونو کې پردي وو ، دوی هم د افغانانو په هکله زیات بد شیان اورېدلي وو ؛ ځکه نو دوی هم له افغانانو څخه ځانونه لرې ساتل. تور پوستو به په لومړیو کلونو کې خپلې نجونې وېرولې چې که افغانانو ته نژدې شئ، نو هغوی به تاسې وخوري، خو د وخت په تېرېدو سره حالات په بدلېدو شول او د اروپایانو او تور پوستو دواړو بد ګوماني د افغانانو په

هکله په کمېدو شوه. یو شمېر تور پوستي له افغانانو سره په کارونو بوخت شول، له دې امله د دوی تر منځ ښې اړیکې ټینګې شوې.
افغانانو هېڅکله خپلې مېرمنې له افغانستان څخه استرالیا ته راوستې نه دي او دا ځکه چې یو خو دوی په موقتې او د لنډې مودې لپاره دلته پاتې کېدل او بل دا چې د استرالیا حکومت هم د دوی مېرمنو ته استرالیا ته د راتګ اجازه نه ورکوله، خو کله چې دوی له یوې خوا دلته د اوږدې مودې لپاره پاتې شول او له بل پلوه لږ تر لږه د ځینو تور پوستو او اروپایانو چلند له دوی سره په بدلېدو شو؛ ځکه نو دوی هم د ودونو او د کورنیو د جوړولو په لټه کې شول. د تور پوستو په هکله مهمه د یادولو وړ خبره دا وه چې د اروپایانو د زیات نفوذ له امله دوی هرې خوا ته خپاره شول او د هغوی ترڅنګ د دوی قبایلي سیستم ته تاوان ورسېد او د نورو بدلونونو ترڅنګ د دوی نجونو له خپلو قبیلو څخه بهر هم ودونه پیل کړل. زیاتو افغانانو چې په استرالیا کې یې ودونه وکړل، په افغانستان کې یې هم ودونه درلودل، د مثال په ډول د عاصم خان په نامه یو افغان چې له یوې تورپوستې نجلۍ سره واده وکړ. په افغانستان کې یې هم خپله مېرمن او درې بچیان درلودل. دده ورور نعمت خان چې په افغانستان کې یې واده درلود، په استرالیا کې له یوې تور پوستې سره واده وکړ. د ۱۸۹۰ د لسیزې په وروستیو کلونو کې فیض محمد په یو سفر کې خپل زوی له ځان سره استرالیا ته راووست، خو هېڅکله یې د خپلې مېرمنې د راوستلو هڅه ونه کړه. د آزاد خان په نامه یو بل افغان چې په استرالیا کې تر واده وروسته هم په افغانستان کې له خپلو کورنیو سره اړیکې ټینګې ساتلې او تل به یې کالي او نور د اړتیا وړ شیان ورلېږل. سره له دې چې له دوی څخه زیات شمېر هېڅکله بېرته افغانستان ته نه ولاړل. یو شمېر افغانانو له اروپایي نجونو سره هم ودونه کړي وو له هغو څخه یو تن چې ګل محمد نومېده په کولګاردي (Coolgardie) نومي ځای کې له یوې فرانسوي نجلۍ او د دوست محمد په نامه یو بل افغان په پورت هدلنډ (Port Headland) کې له یوې جرمني نجلۍ سره ودونه کړي

وو.


د ګل محمد مېرمن او د هغې بچیان

خو سره له دې چې په استرالیا کې د چینایي او جاپاني نجونو شمېر کم نه وو هېڅ داسې شواهد نشته، چې له اسیایي نجونو سره د افغانانو د ودونو ښکارندوی وي. کله چې ګل محمد له فرانسوي نجلۍ مادام آدریان Adrienne سره واده کاوه، د ۶۰ اوښانو خاوند و او کاروبار یې ښه جوړ و.

وایي چې د ګل محمد مېرمنې له یوې بلې فرانسوي ښځې سره یو ځای ژوند کاوه، دا ښځه یوه ورځ کله چې کورته راغله، نو د آدریان یو لیک یې وموند، په لیک کې لیکل شوي وو چې «زه له خپل اروپایي ژوند څخه ستړې شوې یم او ولاړم چې له یو داسې سړي سره چې سپین پوستی نه دی، خو زړه یې سپین او ډېر مهربانه دی واده وکړم؛ ځکه نو له تا سره خدای پاماني کوم.» آدریان له ګل محمد سره د کولګاردي Coolgardie په جومات کې نکاح وتړله او د افغانانو په کلي کې یې له ګل محمد سره یو ځای خپل نوی ژوند پیل کړ. وایي چې د فرانسوي نجلۍ دا کار او د هغه وخت اروپایي ټولنه چې څرنګه یوه اروپایي ښایسته نجلۍ له یو افغان سره واده کوي او وروسته بیا له هغه سره د افغانانو په کلي کې یو عادي ژوند ته غاړه ږدي، هک حیران کړي وو، خو هر کله به چې یوې اروپایي نجلۍ له کوم افغان سره واده وکړ، نو هر ډول اړیکې به یې له اروپایي ټولنې نه وشلېدې. دوی به په کورونو کې تر سخت د سپلین لاندې ژوند کاوه او د اروپایي ټولنې زیاتې آزادۍ به یې له لاسه ورکړې وې.

د زیاتو استرالیایي لیکوالو په وینا سره له دې چې افغانانو په مجرد ډول هغه هم کله کله په ډله ایز ډول په یوې خونې یا یوه کور کې ژوند کاوه، خو

بیا هم لواطت په دوی کي هېڅ رواج نه درلود.
وایي په لومړي سر کي کله چې افغانانو له اروپایي او یا تورپوستو نجونو سره ودونه کول، د ولور په نامه د پیسو ورکولو رواج نه درلود، خو کله چې د دوی بچیان لوی شول او د دوی تر منځ ودونه پیل شول، د ولور د پیسو اخیستلو هم رواج وموند. د افغانانو تر منځ ودونه به تل د میندو او پلرونو په خوښه او رضا تر سره کېدل. افغانانو هڅه کوله چې لوڼې یې د ځوانۍ په عمر کې واده شي او دا به یې هم غوره ګڼله چې ودونه یخپله د افغانانو تر منځ تر سره شي، خو کله کله د داسې ودونو له امله د افغانانو تر منځ شخړې هم پېښې شوي دي. د مثال په ډول په ۱۹۰۴ کال د سرور خان په نامه د یوه افغان مشره لور له یوه ځوان افغان سره چې شېر خان نومېده په نامه (نامزد ) شوه. د دې نجلۍ ولور ۱۵۰ پونډه وټاکل شو، شېر خان ۱۰۰ پونډه سرور خان ته ورکړل او د پاتې پیسو د لاس ته راوړلو په مقصد د کوینز لند په لور رهي شو. د شېرخان په نشتوالي کې د موسی خان په نامه یو بل افغان د سرور خان لور وغوښته او د ۲۰۰ پونډه ولور د ورکولو ژمنه یې وکړه. سرور خان هم خپله لورموسی خان ته واده کړه، خو کله چې شېر خان له دې کیسې خبر شو، په بیړه یې ځان مري Marree ته چې د سرور خان کور هلته و، ورساوه او د انتقام په فکر کې شو.
د موسی د کور ترڅنګ پټ شو او په هغه یې ډزې وکړې او یخپله له هغه ځای څخه وتښتېد، خو وروسته بیا د پولیسو لخوا ونیول شو او په اووه کلونو بند محکوم شو. موسی خان هم سره له دې چې نهه (۹ ) ډزې لګېدلی و، خو بیا هم په روغتون کې تر علاج وروسته روغ شو. له واده څخه یې یو کال تېر شو، خو ده بیا هم د سرور خان د ولور ۲۰۰ پونډه رسولي نه وو. سرور خان له دې امله په ادیلاید کې د پولیسو مشر ته په یو غوښتنلیک کې له موسی خان څخه د پیسو غوښتنه وکړه، خو پولیسو په دې هکله له ده سره هېڅ مرسته هم ونه کړه. د شمال په لور په بروکن هل کې د شمروز په نامه یو بل افغان چې ۲۰ کلن و، د خپل ملګري زید الله له لور سره چې مریم نومېده

او ۱۷ کلنه وه واده وکړ او زیاتې پیسې یې هغه ته د ولور په نامه ورکړې، سره له دې چې دوی دواړه یو ځای له افغانستان څخه استرالیا ته راغلي وو. په ډېرو محدودو حالاتو کې ځینې اروپایانو هم خپلې لونې له افغانانو سره د ولور د پیسو د اخیستلو په بدل کې واده کړې وې. یو مثال یې یوه اروپایي ښځه وه چې زیات شراب به یې څښل، هغې موافقه وکړه چې خپله ۱۳ کلنه لور چې دا وخت یې مېړه د کار لپاره کوم لرې ځای ته تللی وو، د ولور د پیسو په بدل کې مبین پیروز ته چې ۳۵ کلن و واده کړي. عیسوي ملا له دې کاره چې د نجلۍ عمر ډېر ټیټ و، د هغې له واده څخه ډډه وکړه؛ ځکه نو دوی یو بل ښار ته ولاړل، هلته یې د نجلۍ عمر ۱۵ ته اوچت کړ او د دې ځای پر عیسوي ملا یې زیات فشار راووست چې د دوی نکاح وتړي. البته د دوی نکاح د اسلامي قوانینو له مخې تړل شوې وه او په نکاح خط کې د مبین پیروز د مېرمنې مهر لس پونډه ټاکل شوی و. د افغانانو کونډو پوره ازادي درلوده چې له هر چا سره چې وغواړي واده وکړي. د مبین پیروز مېرمن چې پخوا یې یادونه وشوه، د هغه له مړینې وروسته له یو اروپایي سره واده وکړ، حال دا چې یوې بلې کونډې چې هغې هم په شپاړس کلنۍ کې د سلطان محمد په نامه له یو نسبتاً بوډا افغان سره واده کړی و، د هغه له مړینې وروسته بیا هم له یو بل افغان سره واده وکړ.
نرینه افغانانو چې کوچیاني ژوند درلود، کله کله به له شپږو اونیو څخه تر درې میاشتو پورې په سفر تلل. د دوی مېرمنې به په کاله پاتې وې؛ ځکه نو د کلي ښځو به پخپلو منځو کې ډېرې ټینګې اړیکې درلودې. په کور کې به د دوی دنده د کور د کارونو سرته رسول او د ماشومانو روزل و. افغانانو ته د پښتونولۍ د اساساتو له مخې د خپل پت او ننګ ساتنې زیات اهمیت درلود، نو ځکه له خپلو مېرمنو څخه یې هم د هغو د ساتلو کلکه غوښتنه کوله. وایي چې یو وخت د ګونډي په نامه کوم افغان د یو بل افغان له مېرمنې سره نا مشروع اړیکې درلودې، بله ورځ د ښځې خاوند د سفر په نامه له خپلو اوښانو سره له کور څخه ووت، خو له کاله څخه لږ څه لرې یې

خپل اوښان ودرول او پخپله له خپلې وسلې سره کورته بېرته راستون شو، په رښتیا یې هم ګوندي پخپل کور کې وموند، هغه یې په ټوپک وویشت. د هغه مړی یې په یو لرې ځای کې پټ کړ او پخپله په سفر رهي شو، خو د پولیسو لخوا ونیول شو او زنداني شو.

په دې هکله یوه بله کیسه د یو بل افغان دوست محمد ده، د دوست محمد پلار له افغانستان څخه د کراچۍ ښار ته تللی او هلته یې ځانته ښه کاروبار برابر کړی و. دوست محمد ډېر آرامه ژوند درلود، خو سره له دې هم کله چې ۲۱ کلن و، له نورو هغو کسانو سره چې استرالیا ته راتلل دې هېواد ته راغی او د لوېدیزې استرالیا د سرو زرو په کانونو کې له فیض محمد سره، چې له پخوا یې ورسره پېژندګلوي درلوده، په کار بوخت شو. دوه کاله وروسته یې له یوې ۱۷ کلنې نجلۍ سره چې آني "Annie" نومېده او په اصل کې جرمنۍ وه اړیکې ټینګې کړې. نجلۍ غوښتل چې له دوست محمد سره واده وکړي، خو کورنۍ یې له دې کار سره چې د دوی لور له هغه چا سره چې سپین پوستی نه و واده کوي، موافقه ونکړه. بله شپه آني له دوست محمد سره وتښتېده. د نجلۍ ورونو ډېرې هڅې وکړې، خو د خپلې خور او دوست محمد په موندلو بریالي نشول. دوست محمد خپل اوښان د استرالیا شمال ته یوړل او هلته یې ځانته کاروبار برابر کړ. دوی په دې ترڅ کې څو ځله کراچۍ ته هم ولاړل، د کلونو په تېرېدو سره دوی د پنځو ماشومانو خاوندان شول او د «آني» له کورنۍ سره هم پخلا شول. د «آني» کورنۍ پورت هدلند یا هغه ځای ته چې دوست محمد او د هغه مېرمنې او بچیانو په کې ژوند کاوه کډه وکړه. دوست محمد په دې ښار کې یو هوټل په بیه واخیست او د «آني» دوه ورونه یې په هغه کې په کار وګومارل، خو د «آني» ورونو ته دا لوی عیب برېښېده چې یو جرمن له یو افغان سره مزدوري وکړي؛ ځکه نو یوه ورځ یې له دوست محمد سره جګړه شوه. دوست محمد چې غښتلی ځوان و، دوی دواړه یې ښه وټکول، تر هغه چې د یو ورور لاس یې هم په دې لانجه کې مات شو. د «آني ورونه د شپې لخوا کله چې ټول

ویده وو، د دوست محمد کور ته راغلل او دوست محمد یې چې ویده و د یو لوی لرګي په وهلو سره وواژه.» د آنې ورونه بندیان شول، خو وروسته بیا کله چې آنې د دوی په بېګناهۍ شاهدي ورکړه او د دوست محمد وژل کېدل یې یو تصادف وګاڼه د دوه میاشتو په موده کې له زندان څخه خلاص شول.
د دوست محمد هېواد والو افغانانو په دې برخه کې څه ونکړای شول؛ ځکه په ژبه نه پوهېدل او لیک او لوست یې هم زده نه و. په دې سربېره د «بروم» Broome په ښار کې محکمې هم د وخت د تبعیضي چلند له مخې هېڅکله یو افغان او یو جرمن د مساوي حقوقو خاوندان نه ګڼل. آنې تر دې وروسته د خپلې کورنۍ د سپارښت په خلاف کراچۍ ته ولاړه؛ ځکه یو خو د دې مشر زوی د دوست محمد د پاتې جایداد تر لاسه کولو غوښتنه کوله «آنې» د ۱۸ میاشتو لپاره په کراچۍ کې پاتې شوه او د دوست محمد له کورنۍ سره یې خپلې حقوقي دعوا ته دوام ورکړ. د دې مودې په پای کې کله چې پوه شوه چې د دې د وژلو لپاره توطیه روانه ده، پرېکړه یې وکړه چې بېرته استرالیا ته ستنه شي. په دې هکله یې یو پټ پروګرام برابر کړ او خپلو بچیانو ته یې هم وویل چې د دې پلان په هکله چاته څه ونه وایي، خو د دې مشر زوی دا خبره خپل یوه مزدور ته چې هغه ته د باور وړ و، وکړه او په دې هکله نور هم له دې پلان څخه خبر شول. په دې لړ کې دوه تنو هغو افغانانو چې په استرالیا کې یې له دوست محمد سره کار کاوه او یوازې د دوست محمد د غچ د اخیستلو په مقصد کراچۍ ته راغلي وو، د آنې د وژلو پرېکړه وکړه، د شپې لخوا د هغې کورته واوښتل او هغه یې د دوست محمد سره د خیانت په ګناه ووژله.
د آنې قاتلین دواړه وروسته بیا د پولیسو لخوا ونیول شول او د محکمې په حکم په کراچۍ کې په دار وځړول شول. د دوست محمد بچیان د هغه له مشر زوی څخه پرته ټول بېرته استرالیا ته ولاړل او هلته د یتیمانو په توګه د دولت لخوا ساتل کېدل؛ ځکه د آنې کورنۍ له هغو سره هېڅ ډول اړیکې نه ساتلې. د دوست محمد کورنۍ څو ځله هڅه وکړه چې دوی بېرته کراچۍ ته

راولي، خو نه دولت دا اجازه ورکړه او نه دوی چې د دوی د مور وژنې ډېر وېرولي وو.



د افغانانو يوه ډله بچيان

په استراليا کې افغانانو خپل بچيان په افغاني نومونو يادول او هغوی يې تر سخت اسلامي او افغاني د سپلين لاندې روزل. هغوی کټ مټ افغاني کالي اغوستل او د اسلامي او افغاني ادابو مراعات يې کاوه. هغه مهال په استراليا کې د قانون له مخې د پنځو او څوارلسو کلونو تر منځ ټول ماشومان ښوونځي ته تلل؛ ځکه نو د افغانانو ماشومان هم مجبور وو چې په دې عمر کې ښوونځي ته ولاړ شي. سره له دې چې د دوی غيابت به په ښوونځيو کې معمولاً ډېر زيات وو؛ ځکه چې دوی به په زده کړو سربېره د کور په کارونو کې هم ونډه اخيسته، خو په عمومي ډول دا ډول زده کړې د افغاني کورنيو لپاره ګټورې وې؛ ځکه د دوی د ماشومانو زده کړې به دوی ته چې ليک او لوست يې نشو کولای په ورځنيو چارو کې ګټه رسوله. خود څوارلسو کلونو عمر ته په رسېدو سره به هلکانو او نجونو دواړو ښوونځي پرېښودل. هلکان به د خپلو پلرونو سره د اوښانو په کاروبار بوخت شول او نجونې به په کورونو کې دننه له خپلو ميندو سره د کور په کارونو بوختې شوې او زيات شمېر به هم پېغلتوب ته په رسېدو سره نورو ته په نامه او يا

به هم واده شوي. د افغاني نجونو ودونه به معمولاً د دوی په کليو کې دننه له نورو افغاني ځوانانو سره تر سره کېدل چې معمولاً به يې په زياتو حالاتو کې د بدل بڼه درلوده، همدې کار د کليوالو تر منځ د اړيکو په ټينګولو کې هم لويه ونډه لرله.

له ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ کلونو څخه وروسته د ماشومانو د روزنې په هکله د افغانانو په سخت دريځ کې څه بدلون را منځته شو، نجونو ته اجازه ورکړل شوه ترڅو له کاله څخه بهر کار وکړي او حتی د خپل ژوند راتلونکی ملګری يا مېړه وټاکي. وايي چې له دې افغانانو څخه يو تن د موسی بلوچ په نامه دوه لوڼې درلودې، چې موسی بلوچ ورته په يوه هوټل کې د کار کولو اجازه ورکړې وه، خو سره له دې به هم موسی بلوچ د تګ او راتګ په وخت کې خپلې لوڼې د دوی د کار ځای ته چې يوازې څو سوه متره يې د دوی له استوګنځي څخه واټن درلود بدرګه کولې.

## په افغاني کليو (Ghantowns) کې ژوند:

په استراليا کې هغه کلي چې افغانان پکې اوسېدل، له فزيکي او کلتوري پلوه د اروپايانو او حتی تور پوستو د استوګنې له ځايونو څخه جلا وو. دې دواړو ډلو لکه څرنګه چې پخوا هم ورته اشاره وشوه، افغانان په ډېرو بدو صفتونو پېژندل؛ ځکه يې له هغو څخه ځانونه لرې ساتل، اصلاً ډېر لږ اروپايان او يا تور پوستي به ليدل شوي وي چې د افغانانو کلي ته ننوتي وي. د دوی ژبې، کاليو، دين، خوراک او نورو مشخصاتو د ټولنې له نورو وګړو څخه پوره توپير



د ګل محمد زامن

درلود ؛ ځکه نو دوی په داسې حال کې چې پخپل منځ کې يې ډېرې ټينګې اړيکې درلودې، د ټولنې له نورو غړو څخه جلا پاتې شوي وو. کله چې افغانان لومړی استراليا ته راغلل، نو د افغانستان عنعنوي کالي يې اغوستل. د يوه استراليايي ليکوال (کرستين ستيونز) په وينا ، سره له دې چې اروپايانو به افغانان ناپاکه خلک بلل، خو په اصل کې دوی خپل ځانونه او کالي ډېر پاک ساتل. سره له دې چې د استراليا په بېدياوو کې اوبه ډېرې کمې وې او تل به يې خاورو او دوړو کې مزلونه کول. دوی سره له دې چې ډېر پاک ګرځېدل، خو زيات کالي او يا د کور سامانونه يې نه لرل، يوازې هغو مره کالي او نور سامان به يې درلود چې دوی ته به پکار و. د ۱۹۱۷ کال د سپتمبر په مياشت په مري Marree کې د يو افغان له مړينې وروسته پوليسانو د ده ټول کالي او د کور سامان خرڅ کړل چې بيه يې له څو پونډو څخه نه زياتېده او په هغو کې څلور جوړې کالي، دوه جوړې بوټان، يو ساعت، يوه کوچنۍ غالۍ، يو حلبي بکس او د پخلي څو لوښي د يادولو وړ وو.
افغانانو به په ودونو، اخترونو او نورو محفلونو کې نوي او پاک کالي اغوستل، له نڅا او سندرو سره يې مينه درلوده، په اوږدو لارو د مزلو په وخت به يې سندرې ويلې او په بېدياوو کې به چې کله د شپې له لوري دوی اورونه بل کړل، نو د اور په شاوخوا به يې اتڼونه کول.
د موسيقۍ له آلاتو څخه يې په ډولونو سربېره رباب او سرينده هم غړوله (( د دوی د کاليو يوه نمونه او همدا شان يو رباب همدا اوس هم د بروکن هل د جومات تر څنګ ساتل شوی دی )). د وخت په تېرېدو سره د افغانانو په کاليو کې د دوی د کار د شرايطو سره سم بدلون را منځته شو ؛ دا ځکه چې د افغانانو په عنعنوي کاليو کې د استراليا په ډېرو سختو شرايطو کې کار کول يو څه ګران و.
افغانان په استراليا کې د خپل ژوند په لومړيو کلونو کې په خېمو کې اوسېدل، خو څرنګه چې له يوې خوا د خېمو درولو او يا ټولولو زيات وخت

غوښتا او له بل پلوه دوی په یوې لارې تګ راتګ کاوه؛ ځکه نو د دایمي استوګنځیو او کورونو په جوړولو یې پیل وکړ، په خاص ډول د اوښانو خاوندانو د خپلو کارګرانو د استوګنې لپاره له ښارونو څخه بهر او یا د لارو په اوږدو کې د ځمکو کوچنۍ ټوټې وپېرودې او په سیمه کې یې له شتو ساختماني موادو څخه په استفادې سره د کارګرانو لپاره دایمي استوګنځي جوړ کړل. دا کورونه معمولاً هغه ځړځایونو ته چې دوی به په هغو کې خپل اوښان څرول، نژدې جوړ شوي وو چې د ۱۸۸۰ لسیزې د وروستیو او د ۱۸۹۰ لسیزې د لومړیو کلونو په ترڅ کې ورو ورو له منځه ولاړل او افغانانو ځانونو ته له فلزي ټوټو یا تختو څخه د جلا کورونو جوړول پیل کړل.



اوښان د افغانانو د یو کلي ترڅنګ

د دوی کورونو یوه، دوه او یا کله هم درې خونې لرلې، د مېلمنو لپاره پکې جلا ځای په نظر کې نیول شوي و، کورونه ډېر ساده جوړ شوي او د افغانستان کلیوالي کورونو ته پوره ورته وو، ژوند په دې کورونو کې له کړاوونو ډک وو؛ ځکه چې په دوبي کې به ډېر تاوده شول او په ژمي کې به ډېر سړېدل او د ونو او نورو بوټو د نشتوالي له امله په کې له شګو او دوړو سره جوخت د بادونو چلېدو د ژوند کړاوونه نور هم زیاتول. په زیاتو حالاتو کې د دې سیمو اوسېدونکي مجبور وو چې د اړتیا وړ اوبه له لرې ځایونو

څخه را وچلوي. د اوبو له نشتوالي سره سره به دوی د خپلو کورونو ترڅنګه نیالګي کېنول او د هغو پالنه به يې کوله. په دې ترڅ کې د خرما ونو زیات عمومیت درلود ، اصلاً زیات پوهان په دې نظر دي چې د خرما ونې د لومړي ځل لپاره د افغانانو لخوا په استرالیا کې کېنول شوې او روزل شوې دي. د افغانانو هر کلي يو جومات هم درلود. افغانانو له استرالیایي بانکونو سره اړیکې نه درلودې او په عمومي توګه به يې خپلې پیسې له ځان سره ساتلې، یا به يې وربانډې اوښان اخیستل او یا به يې هم په سرو زرو بدلولې. په زیاتو نورو حالاتو کې به دوی خپلې ټولې شوې پیسې په کوم لوښي کې واچولې او هغه به يې د کوم بوټي او یا ونې ترڅنګ چې یوازې دوی پرې پوهېدل ښخې کړې.

وریجې، د پسه غوښه، د غنمو ډوډۍ او چای د دوی په خوراکي موادو کې د یادولو وړ دي. د شپې له مخې به يې د خاورو د تېلو څراغونه روښانه کول او یا به يې له کورونو څخه بهر اورونه بل کړل، ټول نرینه به ترې چاپېره ناست وو او د شپې زیاته برخه به يې په خبرو او یا کله هم په نڅا او نورو خوښیو تېروله، ښځو په دې ډول غونډو کې د ګډون حق نه درلود.


آصف پهلوان د لوبډیزې استرالیا په کولګاردي کې

د افغانانو په کلیو کې د وګړو شمېر له څو تنو څخه ترڅو سوه تنو پورې توپیر موند ، معمولاً د روژې په میاشت او یا په اخترونو کې به په کلیو کې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وه؛ دا ځکه چې دوی به له هرې خوا څخه په دې ورځو کې خپلو کورونو ته ستانه شول.

په استرالیا کې افغانانو له ورزشي لوبو سره هم مینه درلوده، هغه لوبه چې دوی ورسره د استرالیا په شرایطو کې زیاته مینه ښودله، د اوښانو د ځغلولو لوبه وه. دې لوبې بیا وروسته زیات شهرت

ومونـد او زيـات شـمېر اروپايـان بـه يې هـم د ننـداري لپـاره راتلـل. داسې شواهد شته چې په وروستيو کلونو کې کله کله به اروپايانو هم په دې لوبو کې له افغانانو سره ګډه برخه اخيستې وي. دا لوبې اوس هم په استراليا کې رواج لري او هر کال يو زيات شمېر سيلانيان لـه نورو زياتو ايالتونو څخه هـم د هغـې د ننـداري لپـاره جنـوبي اسـتراليا تـه ورځـي، سـره لـه دې چې لوبغاړي يې اوس ټول استراليايان دي. بلـه لوبـه چې افغانـانو ورسره مينـه درلوده پهلواني وه. سره له دې چې افغانانو ته په لوبغالو کې د ننوتلو او يا له نورو لوبغاړو سره په مسابقو کې د ګډون اجازه نه ورکول کېده. وايي چې پـه افغانـانو کـې د آصف او دوست محمد پـه نومونـو د دوه تنـو مشـهورو پهلوانانو نومونه په زياتو آثارو کې راغلي دي.

پـه استراليا کې افغانـانو د شرابو لـه څښـلو څخـه ډېره کرکـه درلـوده، خو وايي چې د تنباکو او کله کله هم د چرسو څکول او يا ډېر کم شمېر افغانـانو تر منځ د اپينو خوړلو رواج درلود. يو خو دا چې دوی يو ازې وو او بل دا چې د دوی لپاره د اپينو خوړل د زياتو ناروغيو او دردونو علاج و. وايي چې مخصوصاً سپين ږيري او زاړه افغانان به ټوله ورځ د خپلو کورونو مخې تـه او يا په جومات کې ناست وو او ټوله ورځ به يې پـه عبادت يا خبرو تېرولـه. جواري (قمار) په استراليا کې منع و او له اسلامي قوانينو سره يې هم اړخ نه لګاوه؛ ځکه نو افغانـانو تـرې ډډه کولـه، خـو دا هـم ويـل شـوي چې ځينو افغانانو به کله کله په پټو (قطعه بازی) د لوبو پـه کولـو سره هم خپـل وخت تېراوه.

وايي چې يو وخت د منير خان په نامه يو بوډا افغـان پـه پټـو سره د لـوبې پـه وخت کې يو ناڅاپه د زړه د حملې له کبله مړ شو. کلـه چې افغانـانو غوښـتل نوموړی ښخ کړي، نو بارانونه پيـل شول او د درې ورځـو لپـاره روان وو چې له دې امله د منير خان د ښخولو مراسم وځنډېدل. ټولو افغانـانو داسې فکـر کاوه چې د منير خان يو ناڅاپي مړينـه او د مـري Marree پـه ببـديا کـې درې ورځې پرلپسې بارانونه چې پخوا هېڅکله ليدل شوي نه وو، پر نوموړي د

خدای د قهر او د ده د هغې ګناه يعنې له پتو سره د لوبو له امله پېښ شوي وو.
د افغانانو په کليو کې د اوبو نشتوالی تر ټولو لويه لانجه وه، دا اوبه به کله له څاګانو او کله هم له هغو ډنډونو څخه چې د باران اوبه په کې ذخيره کېدې په لاس راتلې. په زياتو نورو حالاتو کې به د څښلو اوبه له لرې ځايونو څخه په اوښانو راوړل کېدې او کله کله به هم په زياتې بيې خرڅېدې. کله کله به په اوبو کې د کلي ناپاکي هم ورګډه شوه؛ ځکه نو د غير صحي اوبو د څښلو له امله به زياتې ناروغۍ را منځته شوې. د شته شواهدو له مخې، ځينې کلونو کې زيات شمېر افغانان مخصوصاً د دوی کوچنيان د ساري ناروغيو له امله مړه شويدي؛ دا ځکه چې يو خو د حفظ الصحې مراعات نه کېده او بل دا چې په لرې پرتو سيمو کې ډاکتران او روغتونونه هغه هم د افغانانو لپاره هېڅ نه وو.
هغه افغانان چې استراليا ته راتلل، مخصوصاً په لومړيو کلونو کې، هغوی په انګرېزي ژبه ويل، ليکل او لوستل نشوای کولای. سره له دې چې دوی به کله کله په خپلو ژبو کې سواد درلود، خو څرنګه چې په انګرېزي ژبه نه پوهېدل؛ ځکه نو کله به چې دوی په ماته ګوډه انګرېزۍ خبرې کولې، نو خلکو به وربانديې خندل او مخصوصاً اروپايانو به په دوی ملنډې وهلې. وايي يوه ورځ د ګل محمد په نامه يو افغان چې په انګرېزي ژبه لږ زيات پوهېده، له يو بل افغان سره چې په انګرېزي هېڅ نه پوهېده، په يوه اورګاډي کې سفر کاوه، تر څنګ يې يو اروپايي هم ناست و. د ګل محمد ملګري يوې ورځپاڼې ته لاس کړل او ورته يې کتل، اروپايي چې هغه ته کتل په خندا شو او ګل محمد ته يې وويل چې ستا ملګری ورځپاڼه نه لولي، ولې چې هغه يې چپه نيولې ده. ګل محمد دا خبره خپل ملګري ته ورسوله، ملګري فوراً ځواب ورکړ: ده ته ووايه چې موږ پخپل هېواد کې ورځپاڼې همدا ډول لولو. وايي کله به چې افغانان په روغتون کې بستري شول، نو د روغتون ډوډۍ به يې نه خوړله او ملګرو به يې دوی ته ډوډۍ

راوړله.
ټول هغه اروپايان چې له افغانانو سره يې اړيکې لرلې، وايي چې دوی ډېر زيات مېلمه پالونکي وو. د پښتونولۍ د اساساتو به يې چې مېلمه پالنه په کې مهمه برخه جوړوي، ډېر درناوی کاوه. ټول هغه اروپايان چې د دوی کليو او يا کورونو ته تللي د دوی د مېلمه پالنې، صميميت او سخاوت ستاينه کوي. ټول هغه افغانان چې د لومړي ځل لپاره استراليا ته راتلل، نو له هغو افغانانو سره پاتې کېدل چې پخوا راغلي وو او د استوګنې ځای، خوراک او حتی کارونه به ددوی لخوا ورته برابرېدل. په همدې ډول د پښتونولۍ د اساساتو په رڼا کې دوی د خپل ځان، خپلو خپلوانو او حتی هېوادوالو د غچ اخيستنه له خپلو دندو څخه بلله. وايي چې دوی به هېڅکله د نورو ښه او يا بد له دوی سره نه هېرول. په دې هکله يوه کيسه دا ده چې يو وخت يو شمېر افغانان د يوه سيند تر څنګ دېره وو نابېره د دوی يو اوښ چې پښې يې تړلې وې په اوبو کې ولوېد. يو اروپايي چې له دې افغانانو سره پخوانۍ پېژندګلوي درلوده اوبو ته ټوپ کړ، د اوښ د پښو رسۍ يې پرې کړه او د اوښ په ايستلو کې يې له افغانانو سره مرسته وکړه او د همدې مرستې له امله وو چې اوښ له مړينې وژغورل شو. وايي چې څو کاله وروسته همدا اروپايي مړ شو، د ده د جنازې په مراسمو کې يو افغان هم ګډون کړی و چې له هېچا سره يې پېژندګلوي نه درلوده، خو وروسته بيا څرګنده شوه چې دا په دې سيمه کې يوازينی پاتې افغان و چې د ټولو افغانانو په نمايندګۍ يې د اروپايي د هماغه احسان په بدله کې د هغه په جنازه کې ګډون کړی او په دې غم کې يې د هغه له کورنۍ سره ځان ګډ بللی و؛ دا ځکه چې دی افغان و او له يو افغان سره د احسان بدله يې ادا کوله، سره له دې چې دی د اوښ له خاوندانو څخه نه و. دی پر دې پوهېده چې دا د نومړي اروپايي د احسان د پر ځای کولو لپاره وروستی چانس دی؛ ځکه هغه اوس مړ دی او که دی دا کار ونه کړي، نو هغه نور افغانان به هېڅکله هم ونه شي کړای د ده پور ادا کړي؛ ځکه نو ده نه غوښتل چې يو افغان دې د

اروپايي پورورۍ پاتې شي، په دې توګه ده د پښتونولۍ اساسات پر ځای کړل. په دې هکله د يادونې وړ خبره دا ده چې د هغه اروپايي له کورنۍ څخه هېڅ يوه دا افغان نه پېژانده؛ ځکه چې د اوښ د ژغورنې د پېښې په وخت کې دی کوچنی ماشوم و او همدا شان د هغه اوښ اصلي خاوند هم اوس مړ شوی و.

افغانانو پخپلو کليو کې ځانونو ته جلا ټولنه جوړه کړې وه، يو ځای به يې سره مېلې کولې، په اخترونو کې به يې په ګډه برخه اخيسته او له يو بل سره به په غم او ښادۍ کې شريک و. پلرونو به خپلو بچيانو ته د پښتو ژبې او ديني علومو زده کړه کوله. ماشومانو به هم د خپلو پلرونو درناوی کاوه او هغه ته به يې «بابا» ويل. د دوی مېرمنې چې يا به له تور پوستو او يا کله به هم اروپايانو څخه وې ټولې د اسلام په دين مشرف شوې وې؛ ځکه نو دوی او د دوی بچيانو د اسلام له اساساتو او د پښتني دودونو څخه په کلکه ملاتړ کاوه.

کرستين ستيونز پخپل کتاب کي ليکي چې د ملا عاصم خان په نامه يو افغان چې سکاتلنډۍ مېرمن يې درلوده، پخپل کور کې يو ټوک قرآن مجيد درلود چې هغه يې په ټوکرانو کې نغښتی او د خونې د ننوتلو د دروازې پر سر اېښی و. هر کله به چې دوی له کاله څخه وتل نو قرآن به يې ښکل کړ او کله به چې په اوږده سفر روان وو، نو درې ځله به له دروازې څخه تر قرآن لاندې تېر شول تر څو په دې توګه يې سفر په خوندي توګه تر سره شي. د خيراتونو ورکولو رواج درلود او نجونو به له واده څخه پخوا له سينګار او يا ډېرو ښايسته کاليو له اغوستلو څخه ډډه کوله. له پلار څخه وروسته به مشر زوی د کاله مشر و او د درناوي وړ و چې د پلار د نشتوالي او يا بوډاتوب په حالت کې به د کور ټول مسووليت د دوی پر غاړه و. ټول استراليايي ليکوال په دې باور دي چې افغانانو په استراليا کې له مينې ډک کورنی چاپېريال درلود، دوی پر خپلو بچيانو زيات مهربانه وو او د دوی د تعليم په هکله يې ډېره پاملرنه کوله. د کليو اوسېدونکو د دوی تر

منځ ته‌ینګکې اړیکې ساتلې وې، د اړتیا پر وخت یې له یو بل سره مرسته کوله او له لرې ځایونو څخه به یې د افغانانو د مړینې په مراسمو کې ګډون کاوه. ځوانانو د زړو ډېر درناوی کاوه. لنډه دا چې د کلي او سېدونکو به د یوې کورنۍ د غړو په شان له یو بل سره مرسته کوله.

***

# وروستي کلونه

د ۱۹۰۰ او ۱۹۱۰ کلونو ترمنځ په استرالیا کې د مالونو د وړلو راوړلو لپاره د ډاډ وړ اقتصادي وسیله اوښان وو، له آسونو څخه ګټې اخیستنې یوازې د سواحلو ترڅنګ او په لویو ښارونو کې رواج درلود. له هغو شخړو وروسته چې استرالیا ته د افغانانو د راتګ په لومړیو کلونو کې د آسونو د خاوندانو او افغانانو ترمنځ یو بل سره د سیالۍ له امله پیښې شوې، په وروستیو کلونو کې د هرې ډلې د فعالیت ساحه روښانه او ښکاره وه. یو شمېر افغانان په دې کلونو کې پخپله د اوښانو خاوندان شول، خو یو زیات شمېر یې همدا وخت هم د نورو افغانانو او یا اروپایانو لخوا استخدام شوي وو.
په استرالیا کې د جنوبي استرالیا حکومت، لومړنی حکومت و چې د اوښانو د روزنې او له هغو څخه د ګټې اخیستلو په مقصد یې د ۱۸۰۰ لسیزې په ورستیو کلونو کې د اوښانو د ساتلو حکومتي مرکزونه پرانستل، چې البته له دې اوښانو څخه به د حکومتي چارو په سرته رسولو، لکه جیولوجیکي سروې ګانو، علمي څېړنو، پولیسي چارو او نورو کې ګټه اخیستل کېده. معمولاً به له ۷۵ څخه تر ۱۵۰ اوښان په دې مرکزونو کې ساتل کېدل او حکومت د هغو د ساتنې او له هغو څخه د ګټې اخیستنې په مقصد یو شمېر افغانان په کار ګومارلي وو. همدې حکومت په کال ۱۹۰۰ او ۱۹۰۲ کې دوه نور ورته مرکزونه هم پرانستل.
په دې مرکزونو کې هم افغانان د اوښانو د روزنې او ګټې اخیستنې لپاره په کار ګومارل شوي وو.
د لوېدیزې استرالیا حکومت هم د ۱۹۰۰ لسیزې په لومړیو کلونو کې ورته

حکومتي مرکزونه د اوښانو د روزنې او له هغه څخه په حکومتي چارو کې د ګټې اخیستلو لپاره پرانستل. په ۱۹۱۱ کال د موسی خان په نامه یو افغان له لوېدیزې استرالیا څخه نوي ډیلي ته ولاړ او هلته یې د استرالیا د افغانانو په نمایندګۍ د انګلستان پاچا اووم ادوارد King Edward VII د تاج اېښودلو په مراسمو کې ګډون وکړ. له دې څخه لس کاله پخوا همدې موسی خان د انګلستان یوې شهزادګۍ ته چې د فدرالي استرالیا د لومړي پارلمان د پرانستلو لپاره استرالیا ته راغلې وه، د سپرلۍ یو اوښ د تحفې په ډول ورکړ. شهزادګۍ مینه وښوده ترڅو له ځینو افغانانو سره وګوري او د اوښ سورلۍ هم تجربه کړي. محمد علم چې وروسته بیا یو لوی یوناني طبیب شو، د دې کار لپاره وټاکل شو او هغه له شهزادګۍ وروسته بیا دا اوښ د پرت Perth د ښار ژوبڼ ته ورکړ.
په استرالیا کې د افغانانو د پاتې کېدو په ټوله موده کې دا تر ټولو ښه کلونه وو. د افغانانو په هکله بې اعتمادي تر زیاتې اندازې کمه شوې وه او د دوی د اوښانو لپاره تقاضا هم په ټولې استرالیا کې ډېره زیاته وه. په بل عبارت دا په استرالیا کې د افغانانو د ژوندانه طلایي دوره وه؛ ځکه کله چې په ۱۹۲۷ کال د انګلستان د هماغې شهزادګۍ زوی استرالیا ته راغی، نو له هغو خبرو څخه چې مور یې د افغانانو او د دوی د اوښانو په هکله ورته کړې وې، څه پر سترګو نشول.
په ۱۹۰۸ کال امریکایي هنري فورد په اتومات ماشینونو کې د فورد د موټرونو تولیدول پیل کړل، په دې کار سره د موټرو تولیدات زیات او بیه یې ټیټه شوه چې په چټکۍ سره استرالیا ته هم راورسېدل، خو سره له دې هم په لومړیو کلونو کې یوازې بډایو استرالیایانو موټر درلودل. په ۱۹۱۴ کال په جنوبي استرالیا کې د ادیلاید او مرکزي برخو تر منځ د موټرو تګ راتګ پیل شو. د لومړۍ نړیوالې جګړې په موده کې (۱۹۱۴_۱۹۱۸) د پیسو د نشتوالي او جګړې ته د ځوانانو د لېږدولو له امله له موټرو څخه ګټې اخیستنې ډېر چټک پرمختګ ونه کړ. وایي چې د جګړې په ترڅ کې د

عبدالواحد په نامه د اوښانو یو سوداګر د استرالیا حکومت ته دا وړاندیز وړاندې کړ چې که دوی وغواړي نو دی تیار دی چې د برتانوي پوځیانو او د دوی متحدینو ته د سینا په دښتو کې (د سینا دښته اوس د مصر یوه برخه ده) د جګړې لپاره د اړتیا وړ اوښان برابر کاندي، خو تاریخي شواهد دا سې ښیي چې له استرالیا څخه اوښان دغې جګړې ته استول شوي نه دي. که هر څه وو، خو لږ تر لږه هغه استرالیایي پوځیان چې د منځني ختیځ په بېدیاوو کې جنګېدلي وو، له اوښانو او د دوی د خاوندانو له ژوندانه سره څه نا څه اشنا شول؛ ځکه نو استرالیا ته له راتګ څخه وروسته له افغانانو څخه پخوانۍ کرکه څه کمه شوه. له بل پلوه، له موټرو څخه ګټه اخیستنه ورځ په ورځ پراخه شوه، له هر پلوه موټرو د ښارویو، آسانو او اوښانو په پرتلې زیات امتیازات درلودل؛ ځکه نو د مالونو په وړلو او راوړلو کې افغانانو او د دوی اوښانو له هغو سره د سیالۍ توان نه درلود. د موټرونو شمېر په استرالیا کې ډېر ژر په زیاتېدو شو؛ ځکه چې دا هېواد زیات غرونه نه لري، د سړکونو جوړول پکې ډېر ګران نه وو؛ ځکه نو د ۱۹۲۰ لسیزې په اوږدو کې په چټکۍ سره سړکونه هرې خوا ته وغځېدل، چې ورسره یو ځای موټر هم د استرالیا هرې سیمې ته ورسېدل. په ۱۹۲۴ کال کې موټر حتی د استرالیا په منځنۍ برخې کې د بروکن هل Broken Hill سیمې ته هم ورسېدل. وایي چې له دې څخه یو کال وروسته یعنې په کال ۱۹۲۵ کې د موټرونو څلورو کمپنیو په دې سیمې کې فعالیت درلود، خو سره له دې هم یو شمېر افغانانو او د دوی اوښانو د یو څو نورو کلونو لپاره په ځینې لرې پرتو سیمو کې خپل فعالیت ته دوام ورکړ. وایي چې ۱۹۲۹ کال د سپتمبر د میاشتې په نهمه، سلطان عزیز وروستی افغان و چې په بروکن هل کې یې خپل مالونه په اوښانو بار کړل. دا خبره هم د یادولو وړ ده چې په لومړیو کلونو کې له موټرونو څخه ګټه اخیستل د استرالیا په ټولو بېدیاوو کې چېرته چې سړکونه هم د ډاډ وړ نه وو څه آسانه کار نه و. په لومړي سر کې ډېر کسان پخپلو هڅو کې ناکام شول او له همدې امله وو چې استرالیا ته د

موټرو له راتګ څخه وروسته هم د زیاتو کلونو لپاره په ځینې لرې پرتو سیمو او یا د خاصو مقصدونو لپاره له اوښانو څخه ګټې اخیستنې دوام وموند. په عمومي ډول په هغو ځایونو کې چې موټر او ډریوران یې له خطرونو سره مخامخ وو، د افغانانو فعالیت لا هم دوام درلود. په ډېرو ځایونو کې چې سړکونه نه وو او یا ډریورانو ته د لارو د ورکېدو له امله د ژوند خطره وه، افغانان لا هم په فعالیت بوخت وو؛ ځکه دوی په دې سیمو کې د ۶۰ کلونو تجربه درلوده او ټولې لارې یې په ښه توګه پېژندلې. افغانانو په دې لارو د کلونو کلونو لپاره مزل کړی او له خپل ژوند څخه په تېرېدو سره یې د زرګونو خلکو ژوند ژغورلی وو، خو له بده مرغه چې د استرالیایي لیکوال کرستین ستونز په وینا په استرالیا کې هېڅکله هم د دوی د دې قهرمانیو ستاینه څرنګه چې ښایي ونه شوه.

په هر صورت په ۱۹۲۹ کال کله چې په جنوبي استرالیا کې د اوسپنې پټلۍ د استرالیا په مرکزي برخه کې د Alice Springs په لور وغځېده، نو افغانان هم په سیمه کې د کار د موندلو په هیله له نورو سیمو څخه دې لور ته مخه کړه، خو څرنګه چې موټر له دوی څخه پخوا د استرالیا مرکزي برخو ته رارسېدلي وو؛ ځکه نو دوی ته په دې سیمه کې هم د کار امکانات زیات پاتې نه شول.

زیات لیکوالان په دې نظر دي چې حتی د موټرونو له راتګ څخه پخوا هم د کار او روزګار له پلوه د افغانانو ورځ د حکومتي قوانینو له امله بده وه؛ ځکه د دې قوانینو له مخې دوی یوازې په حکومتي ځړ ځایونو کې او هغه هم د فیس یا پیسو له ورکولو وروسته د خپلو اوښانو د څرولو حق درلود، خو کله چې له موټرونو څخه ګټه اخیستل پیل شول، د دوی ورځ نوره هم بده شوه، په دې چې اوښان یې وزګار ولاړ وو، خو د هغو لپاره د فیس ورکولو دوام درلود. په ۱۹۱۷ کال دوی یو غوښتنلیک حکومت ته وړاندې کړ چې په هغه کې د ځړ د سیمې د پراخېدو او فیس د کمېدو غوښتنه شوې وه، خو له بده مرغه چې د دوی دا غوښتنه ونه منل شوه، دوی په اډیلاید کې د جنوبي

استراليا حکومت ته نور زيات غوښتنليکونه هم وړاندې کړل، خو چا ورته پاملرنه ونه کړه. موږ د دوی د ژوند د څرنګوالي د ښودلو په مقصد له دې ډول ليکونو څخه يو دلته په لنډ ډول کټ مټ را اخلو.

د ۱۹۲۷ کال د جنوري ۱۵

محترم عليجناب د اديلايد ګورنر

ښاغليه!

له نن څخه له پنځوسو تر اتيا کلونو د مخه زما يو شمېر هېوادوال استراليا ته راغلل، په لومړي سر کې هر څه سم روان وو، خو نن سبا يو نوی قانون نافذ شوی چې د هغه له مخې بايد په عامه څړ ځايونو کې د هر اوښ د څرولو لپاره په يوه اونۍ کې نهه پنسه Pence(د هغه وخت د پيسو واحد ) حکومت ته ورکړل شي. له هغه ځايه چې دا خلک له اوښانو پرته بل هېڅ شی نه لري او حتی د دوی د اوښانو لپاره هم نن سبا هېڅ کار نشته؛ ځکه نو دوی او د دوی کورنۍ له زياتو کړاوونو سره مخ دي. دا به ستاسې ډېره مهرباني وي، که له دوی سره د هغه ډول چلند امر ورکړئ، کوم چې تاسې ته عادلانه برېښي. لکه څرنګه چې ما پخوا هم وويل دلته زما يو شمېر هېوادوال شته چې له دېرشو کلونو را په دېخوا په استراليا کې استوګنه لري. موږ نه غواړو چې زموږ اوښان له منځه يوړل شي، که په دې برخه کې له موږ سره مرسته وشي، نو موږ به ستاسې ډېره مننه وکړو؛ ځکه د اوښانو له منځه وړل زموږ لپاره لويه ضايعه ده. هېڅوک نه غواړي چې د هغه شته او يا دارايي ور څخه واخيستل شي، مخصوصاً موږ چې د خپل ژوند د دوام لپاره بل هېڅ نه لرو. موږ به ډېر خوښ شو که داسې يو اقدام وشي چې د هغه له امله زموږ د اوښانو د له منځه وړلو مخه ونيول شي. همدا شان زموږ خلک په اونۍ کې د نهو پنسو د ورکړې توان نه لري؛ ځکه چې دوی زيات وخت وزګار پاتې وي. که موږ ته په دې هېواد کې کار نه وي، نو ښه به دا وي چې حکومت زموږ اوښان په بيه واخلي او موږ ته اجازه راکړل شي چې خپل هېواد ته ستانه شو. موږ د دې وطن په آبادولو کې زيار ايستلی د اورګاډو

پټلۍ زموږ په اوښانو جوړې شوي، خو اوس موږ ته په دې وطن کې کار نشته.

په درناوي
ستاسي خدمتګار
ملا عاصم خان

وايي چې له مري Marree څخه د سعادت بلوچ په نامه د يو افغان اوښان په ۱۹۱۹ کال درې اونۍ وروسته تر هغه چې خپل لايسنس يې له لاسه ورکړ، له حکومتي ځړ ځای څخه وشړل شول او د هغه پر ځای د يو انګرېز اوښان ځړ ځای ته پرېښودل شول. په ۱۹۲۵ کال د يو قانون له مخې د ځمکې خاوندانو ته دا اجازه ورکړل شوه چې هغه اوښان چې له اجازې پرته د دوی په ځمکو يا ځړ ځايونو کې څري له منځه يوړل شي، په دې شرط چې يوه مياشت پخوا د اوښانو خاوندانو ته خبر داری ورکړل شوی وي. تر دې يو کال وروسته په دې قانون کې يوه ضميمه هم ورزياته شوه چې د هغې له مخې په ځړ ځايونو کې حکومتي کار کوونکو ته اجازه ورکړل شوه ترڅو هغه اوښان چې رسماً ثبت شوي نه وي او يا خاوندان يې لايسنس ونه لري او حکومتي ځړ ځايونو ته ننوځي وويشتل شي. په دې توګه په ټوله استراليا کې د حکومتي مامورينو لخوا د اوښانو ويشتل او وژل پيل شول. وايي چې په ۱۹۲۷ کال يوازې د فارينا Farina په سيمه کې ۹۲ اوښان ويشتل شوي او وژل شوي وو. اووه مياشتې وروسته په همدې سيمه کې ۱۲۴ نور اوښان هم وويشتل شول او د اوښانو په دې بېرحمانه وژنې کې د ځړ ځايونو په ساتونکو او محلي پوليسو سربېره د سيمې خلکو او نورو هغو خلکو چې له پخوا څخه يې افغانان او د دوی اوښان نه نه ايسېدل هم لاس درلود. په ۱۹۲۸ کال يو غوښتنليک چې د ۴۲ افغانانو لخوا لاسليک شوی وو، په هغه کې د دې ډول وژنو بندېدل غوښتل شوي وو، خو دې غوښتنليک ته چا پاملرنه ونه کړه او د اوښانو وژنې د پخوا په شان دوام وموند.

په دې توګه اوښان چې یو وخت په استرالیا کې له ډېرو ګټورو ځارویو څخه ګڼل کېده، اوس په غیر ضروري او حتی مضره ځارویو بدل شول؛ ځکه نو د مالونو په وړلو راوړلو کې ور څخه کار اخیستل کېده او نه یې د غوښې خوړلو په استرالیا کې رواج درلود او حتی نه یې له پوستکي څخه کار اخیستل کېده. افغانانو هم چې په همدې اوښانو پورې تړلي وو، خپل کار او روزګار له لاسه ورکړ او له حکومت څخه د وزګارتیا په حقوقو چې په یوه اونۍ کې له ۳۰ شلنګو (Shilling) څخه نه زیاتېده وتړل شول، حال دا چې د مثال په ډول په جنوبي استرالیا کې دوی مجبور وو چې د یوه اوښ د څرولو لپاره نهه (۹ ) پنسه (Pence) په اونۍ کې حکومت ته وسپاري، په دې توګه که چا پنځوس یا شپېته اوښان درلودل، نو مجبور وو چې په یوه هفته کې لږ تر لږه ۵۰ شلنګه د محصول په توګه حکومت ته وسپاري چې په وزګارتیا کې یې دوی د ورکړې توان نه درلود. د برک Bourke ترانسپورتي شرکت چې زیات اوښان یې لرل وتړل شو. د شرکت خاوند چې عبدالواحد نومېده په ۱۹۲۰ کال افغانستان ته ولاړ. وایي کله چې څو کاله وروسته عبدالواحد بېرته استرالیا ته راغی، نو له خپل زوی څخه یې وغوښتل چې ټول هغه اوښان چې د ده د شرکت نښه (AZZ) ورباندې لګېدلې وه او د استرالیا په بېدیاوو کې ګرځېدل ووژني، خو زیات شمېر نورو افغانانو چې د خپلو اوښانو وژل یې زغملای نه شول، دا یې غوره وګڼله چې خپل اوښان په بېدیاوو کې خوشې کړي. همدا اوښان اوس هم د استرالیا په بېدیاوو کې څري او اوس د دې هېواد لپاره یوه پانګه بلل کېږي. ویل کېږي چې د دې اوښانو شمېر په استرالیا کې پنځه لکو ته رسېږي او استرالیا په نړۍ کې لومړی هېواد دی چې په دې شمېر وحشي اوښان لري. له همدې اوښانو څخه په ۲۰۰۲ مېلادي کال د جون په میاشت کې ۱۱۸ اوښان په سعودي عربستان کې وپلورل شول. په یقین سره که چېرې د دې اوښانو د خرڅلاو لپاره مساعد بازارونه ولټول شي، نو په ملیونو ډالره به هر کال د هغو له خرڅلاو څخه تر لاسه شي. د بارک H.M Barke په نامه یو استرالیایي لیکوال

پخپل کتاب Camels and The Outback کې په ۱۹۲۷ کال د خپلو سترګو لیدلی حال د افغانانو د دورې د پای په هکله داسې بیانوي: «زه د شېر محمد نومي افغان تر شا روان وم او دا مې پخپلو سترګو ولیدل چې شېر محمد څرنګه خپل اوښان له یوې غونډۍ څخه واړول، له خپلو اوښانو سره یې خدای پاماني وکړه او هغه یې په بېدیا کې خوشې کړل، زه د ده تر شا ولاړ وم، هر څه مې لیدل او هېڅ مې نه ویل، ترڅو چې ده مخ را واړاوه او ویې ویل: پنځوس کاله مې په دې هېواد کې ژوند او ټوله موده کار وکړ، خو اوس هر څه ختم شول.)) شېر محمد یو ځل بیا د بېدیا په لور وکتل یو ازې یو یا دوه اوښان لیدل کېدل چې د بېدیا په لور روان وو او په څو شېبو کې هغه هم له سترګو لرې شول. له بېدیا څخه راپورته شویو دوړو دا وښودله چې اوښان شګو ته رسېدلي او نور نو د تل لپاره د شېر محمد له لاسه وتلي دي. شېر محمد چې دا وخت د اویا کلونو و، په رښتیا یې هر څه له لاسه ورکړي وو. ده ټول ژوند له اوښانو سره کار کړی و، نه یې بل کار زده و او نه یې په دې عمر کې د بل کار د کولو او یا زده کړې توان درلود او دا په استرالیا کې د افغانانو د غمیزې پای و؛ ځکه نور نو په استرالیا کې نه اوښان د چا په کار وو او نه هم د افغانانو شتهوالي ته اړتیا لیدل کېده.



د استرالیا په بېدیاوو کې د افغانانو لخوا خوشې کړای شوي اوښان

د اوښانو په ورکېدو سره د افغانانو ورځ په استراليا کې بده شوه، ډېره بده خو دا وه چې هېڅ له افغانانو سره د دې ټولو بدلونونو په ترڅ کې پخپله د دوی او یا د دوی د اوښانو د راتلونکي په هکله مشوره ونکړه. دوی سره له دې چې په دې وخت کې یې څه انګرېزي ژبه هم زده کړې وه او د نورو کارونو د سرته رسولو توان یې هم درلود، خو له بده مرغه چې نه یې سیاسي او یا اقتصادي قدرت درلود، نه یې کومه اتحادیه درلوده او نه هم چا د دوی ملاتړ کاوه. د دوی ځارویو هم خپل ارزښت له لاسه ورکړی وو، د مثال په ډول د یوه اوښ بیه چې یو وخت سل پونډو ته رسېدلې وه، په ۱۹۳۲ کال پنځو پونډو ته را ټیټه شوه، هغه هم که چېرې څوک یې پېرودلو ته موندل شوي وای. په همدې کلونو کې د یوه ټن مال د لېږدولو کرایه هم چې پخوا ۲۰ پونډه وه یوازې اوه (۷) پونډو ته را ټیټه شوه، چې هغه هم نه موندل کېده.
یو ډېر لږ شمېر افغانانو په دې کلونو کې هغه هم په ډېرو لږو پرتو سیمو او په ډېرې ټیټې کرایې خپل کار ته تر سختو شرایطو لاندې دوام ورکړ. لنډه دا چې افغانانو له خپلو اوښانو سره ځانته د کار او روزګار د برابرولو په هیله هرې خواته منډې ووهلې، خو د کار هر ډول امکانات یې له لاسه ورکړل. د افغانانو په کلیو کې هغه پخوانۍ ګڼه ګوڼه نه لیدل کېده؛ ځکه ټول د کارونو د موندلو په لټه کې د خپلو کورونو او کلیو پرېښودلو ته اړ شول. په ډېرو کلیو کې به یوازې یو نیم افغان چې د زیات سفر توان یې نه درلود پاتې و. وایي چې د جنوبي استرالیا د Marble Bar له سیمې څخه کله چې افغانان د کار په لټه کې د شمال پر لور وخوځېدل، نو د افغانانو په کلي کې یوازې یو تن چې زرین نومېده پاتې و. زرین چې بوډا شوی و او د زیات سفر توان یې نه درلود، پخپل کلي کې له خپلو اوښانو سره پاتې شو، کله کله به یې یو څه مالونه هغه هم که به پیدا شول له یو ځای څخه بل ځای ته وړل.
څرنګه چې زرین یو مهربانه سړی و او ټوکې یې هم زیاتې کولې؛ ځکه د سیمې په خلکو ګران و. وایي یو وخت کله چې دی یوازې و، یوه جاپاني

اشپز چې له ده سره پېژندګلوي درلوده، د زرين په کور کې مېلمه شو، زرين پخپل کور کې جاپاني مېلمه په پوره عزت سره وساته، خو له څو ورځو وروسته نوموړي جاپاني زرين وواژه او د ده ټول شته يې چې هرڅه وو غلا کړل، خو جاپانی وروسته بيا د پوليسو لخوا ونيول شو او د زرين د وژلو په تور اعدام کړای شو. همدا ډول د Cloncurry په سيمه کې چې يو وخت د افغانانو يو لوی کلی په کې جوړ شوی و، په ۱۹۳۰ کال پورې له دې ځای څخه ولاړل او د مسو په کانونو، ښارونو او يا د اورګاډو په سټېشنونو کې يې ځانونو ته د عادي کارګرانو په توګه د کار روزګار بندوبست کړی و.
افغانان د ۱۹۳۰ کلونو اقتصادي بحران چې هسې هم د کارونو له سخت نشتوالي سره مخامخ وو، له نورو کړاوونو سره هم مخ کړل. په ۱۹۳۴ کال د جنوبي استراليا يوې ورځپاڼې په مري Marree کې د افغانانو له لوی کلي څخه د کار په لټه کې د جنوب په لور د زياتو افغاني کورنيو د خوځېدو رپوټونه خپاره کړل. د ۱۹۳۰ لسيزې په لومړيو کلونو کې يو شمېر افغانان د Underbool په سيمه کې د مالګې په کيندلو او پر اوښانو هغو ډيپوګانو ته د هغو په لېږدولو، چې نژدې ۱۲ ميله د مالګې له کانونو څخه لرې پراته وو بوخت شول او دا هم له دې امله چې دې کار ډېر زيار غوښت او سپين پوستو دې کار ته زړه نه ښه کاوه، خو وروسته چې په ۱۹۳۲ کال دې سيمې ته هم د موټرو لارې او سرکونه جوړ شول، افغانانو دا کار هم له لاسه ورکړ.
د برک Bourke په سيمه کې د مبين پيروز په نامه يو افغان چې پخوا يې دلته د بای خان په نامه له يوه بل افغان سره پر اوښانو د مالونو د لېږدولو يو ښه کاروبار برابر کړی و، په ۱۹۲۹ کال خپل وروستي اوښان د ۲۲۵ پونډو په بيه وپلورل. مبين پيروز د خپل ژوند وروستي کلونه په هغو څو جريبه ځمکه کې چې پخوا يې پېرودلې وه، د سبو په کرلو او په يو کوچني دوکان کې د څرمنو په پلورلو تېر کړل. يو شمېر نورو افغانانو هم چې څه پيسې او يا پانګه درلوده، نو د ځانونو لپاره يې کوچني دوکانونه پرانستل او له دې لارې يې ځانونو ته د څه کاروبار بندوبست وکړ، خو خبره دا وه چې افغانانو

ټول عمر له اوښانو سره کار کړی وو؛ ځکه نو نه یې کوم بل مهارت درلود او نه د پانګې خاوندان وو. د هغوی زیات شمېر په عادي کارونو بوخت شول، یو شمېر افغانانو د کارګرانو په توګه د اورګاډي په سټېشنونو کې کار کاوه، ځینې نور هم په نورو ورته کارونو بوخت شول، د مثال په ډول ګل محمد چې فرانسوی مېرمن یې هم درلوده، خپل څو اوښان ساتلي وو او له هغو څخه یې د اوبو د بندونو په جوړولو او همداشان د څاګانو په کیندلو کې کار اخیست. ده وروسته بیا د Mulgaria په سیمه کې یوه ټوټه ځمکه هم د ځان لپاره وپېرودله. د ګل محمد له مړینې وروسته د هغه دا ځمکه د نوموړي زوی صالح ته ورسېده. ده دا ځمکه په ۱۹۵۵ کال په یوې کمپنۍ وپلورله او پخپله له کورنۍ سره Alice Springs ته ولاړ او هلته یې له خپلو درې زامنو سره د محمد د لاریو چلولو یو شرکت جوړ کړ، چې له Alice Springs څخه به یې د جنوب په لور تر ادیلاید او د شمال پر لور تر داروین Darwin پورې مالونه وړل راوړل، خو له بده مرغه زیاتو افغانانو، څرنګه چې پخوا هم وویل شول، د صالح په شان مادي امکانات نه درلودل. لنډه دا چې د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ په لسیزو کې اوښان حتی د استرالیا په لرې پرتو سیمو کې له نظرونو څخه لرې شول. وایي چې د امیر بخش په نامه یو افغان په ۱۹۴۰ کال خپل څلوېښت اوښان د لوېدیزې استرالیا په لوی بېدیا کې خوشې کړل؛ ځکه چې نه یې له هغو څخه کار اخیستلای شو او نه یې خرڅولای شول. همدا ډول په ۱۹۴۷ کال د عبدالرحمن خان په نامه یو بل افغان د کمبرلي Kimberlys په سیمه کې خپل څلوېښت اوښان په بېدیا کې خوشې کړل او د استرالیا د شمالي سیمې د Wave Hill د څارویو سټېشن ته نژدې ځان ته د یو دوکان بندوبست وکړ ترڅو د ۱۹۵۰ کال د فبروري په میاشت کې د ۷۸ کلونو په عمر د داروین له هوایي ډګر څخه بېرته خپل هېواد ته ستون شو. له بده مرغه چې د افغانانو له خدمتونو څخه د دوی د ژوندانه په وخت کې هېڅ ډول یادونه او نمانځنه ونه شوه. د هغه وخت په ورځپاڼو او نورو لیکنو کې زیات څه د اوښانو په هکله ولیکل

شول، لېکن له افغانانو څخه چې دا اوښان يې چلول، هېڅ يادونه نه کېده. لږ شمېر افغانان هم موندل کېدل، چې د خپل نژدې چاپېريال څخه بهر هم په ښه او يا بد نامه پېژندل شوي وو. له افغانانو څخه يو تن چې د زيات شهرت خاوند و، عبدالواحد نومېده. دی لومړی د برک Bourke په نامه د مالونو د لېږدولو د يو شرکت مشر و او د زياتو اوښانو خاوند و چې خلکو به په برک کې د افغانانو شهزاده باله. د يو لوی شرکت د مشر په توګه او همدا شان د زياتو پيسو د لرلو له امله نوموړی د افغانانو او اروپايانو دواړو په ټولنو کې د زيات نفوذ او شهرت خاوند و؛ ځکه نو حتی په اروپايي ټولنې کې هم يو پېژندل شوی او منلی شخصيت و. عبدالواحد د ژوند په وروستيو کلونو کې د خپلو عادتونو له پلوه د افغانانو په پرتلې اروپايانو ته ډېر نژدې و. ده د آسونو له ځغلولو سره ډېره مينه درلوده؛ ځکه يې د آسونو ځغلولو په زياتو لوبو کې له خپلو آسونو سره ګډون کاوه او په ډېرو مشهورو هوټلونو او رستورانتونو کې ليدل کېده. وايي چې دی يو ځل د لندن د ښار په يو خورا مشهور هوټل کې هم ليدل شوی و. عبدالواحد ډېر ځيرکه سوداګر و. هغه لس کاله پخوا تر دې چې موټر د استراليا مرکزي برخو ته لار پيدا کړي، د موټرو په اهميت او ارزښت پوه شو او د کوينزلند په شمال کې پر موټرو د مالونو د لېږدولو کاروبار پيل کړ، خو په پای کې دی پخپل کاروبار کې پاتې راغی؛ ځکه نو د هند په لور ولاړ او په اديلايد کې امنيتي مقاماتو ونه شو کړای چې د ده پته په افغانستان او يا کوم بل ځای کې ولګوي. يو بل افغان چې د څه شهرت خاوند شو، بيجا Bejah نومېده چې د بيجا درويش زوی و، ده د ۱۸۹۲ کال په علمي تحقيقاتو او په ۱۹۳۹ کال د Simpson له بېديا څخه د تېرېدو په هڅو کې ځرګندونه ونډه اخيستې او د هيئت مشر د هغه د مېړانې زياته يادونه کړې وه.

د ۱۹۲۰ کلونو په شاوخوا کې د فيصل احمد په نامه د يو بل افغان نوم د کوينزلند په شمال او لوېديز کې زيات يادېده. دی د يو استراليايي سپين پوستي په وژلو تورن و. دی د استراليا په سترې محکمې کې تر محاکمې

لانديږ ونيول شو او وروسته بيا مجرم وپېژندل شو او په ۲۸ کاله بند محکوم کړای شو، خو پخپله فيصل تر پايه پخپلې بې ګناهۍ ټينګار کاوه.
فيصل د ۱۹۲۸ کال په شاوخوا کې د کوينزلند د مسو په کانونو کې کار کاوه او دوه اونیان يې درلودل چې پر هغو به يې کيندل شوي کاني مواد بازار ته رسول. کوم استراليايي چې دی يې په وژلو تورن و ادوارد ميلر Edward Miller نومېده. دوی دواړه ګاونډيان وو او دواړو د مسو په کانونو کې کار کاوه او له يو بل سره يې مرسته کوله. وايي چې يوه ورځ فيصل له کانونو څخه ۳۲ کڅوړې مس را ټول کړي او د خپلې کوټې ترڅنګ يې ايښي و، خو چې کله دی له کار څخه راستون شو، کڅوړې يې غلا شوې وې. پوليس وايي چې فيصل ډېر په غوسه و، داسې فکر يې کاوه چې کڅوړې يې ميلر غلا کړي دي؛ ځکه يې له هغه سره شخړه شوه او ويې واژه، مړی يې ورته وسوځاوه. پوليس وايي چې فيصل يو ټوپک درلود او تل به يې ګوابنونه کول چې که دی د خپلو مالونو غل ووينې، نو هغه به ژوندی نه پرېږدي، خو فيصل به حتی له زندان څخه له راوتلو وروسته هم دا ويل چې دی بې ګناه دی او استراليايي ميلر يې نه دی وژلی. د ميلر د وژلو په وخت کې د دل خان په نامه يو افغان هم چې د مسو په کانونو کې کار کاوه، په هماغه ډول وژل شوی او د هغه مړی سوځول شوی و، خو د هغه د وژلو په تور څوک ونه نيول شو. د فيصل چې انګرېزي ژبه يې ډېره لږه زده وه، په زندان کې يې د انګرېزي ژبې زده کړې ته دوام ورکړ او دا به يې ويل چې که چېرې له زندان څخه خلاص شو، نو خپله بې ګناهي به ثبوت ته ورسوي.
فيصل چې ۲۸ کاله وروسته له بند څخه خلاص شو، بوډا شوی و. سره له دې هم ده هڅه وکړه، چې خپله بېګناهي ثابته کړي؛ ځکه يې په دې اړه يو ليک د انګلستان ملکې ته ولېږه.
د ۱۹۳۰ کال په شاوخوا کې جمعه پيروز د مبين پيروز زوی او د هغه اروپايي مېرمن هم زيات یادېدل. هغه د خپلې مېرمنې په مرسته د برک Bourke په سيمه کې د راديو يو سټېشن جوړ کړ، چې غږ به يې په ټولې

لوېديزې استراليا کې اوربدل کېده. وايي چې جمعه په ماشومتوب کې له خپل پلار سره د اوښانو کاروبار کاوه، خو کله چې زلمی شو، سدني ته ولاړ او هلته يې د راډيو د خپرونو په هکله زده کړه وکړه. ده وروسته بيا خپل لايسنس تر لاسه کړ او په برک Bourke کې يې د خپل کور ترڅنګ د راډيو يو کوچنی سټېشن په کار واچاوه. وايي چې ده په شاوخوا سيمو کې زيات اورېدونکي درلودل او د دوېمې نړيوالې جګړې تر پيل پورې يې له خپلې راډيو څخه د خپرونو خپرولو ته دوام ورکړ. د جګړې له پيل سره سم د امنيتي ملحوظاتو له امله د ټولو خصوصي راډيو ګانو خپرونې بندې شوې، چې په دې ترڅ کې د هغه د راډيو خپرونې هم ودرول شوې. تر دې وروسته چې د الوتکو پيلوټې يې هم زده کړې وه د استراليا په هوايي قواوو کې يې خپل نوم وليکه او د جګړې په ټولو کلونو کې يې د راډيويي مخابرې په برخه کې د مديترانې د بحيرې په جبهه کې خدمت وکړ.

يو بل خورا مشهور افغان چې د جنوبي استراليا ټولو اوسېدونکو په ښارونو او کليو کې پېژانده يوناني طبيب محمد علم و، چې موږ د هغه د ژوندانه په هکله پخوا ليکلي دي. وايي چې محمد علم پخپل ټول ژوندانه کې هېڅکله ناروغه شوی نه و. له همدې امله د ۸۲ کلنۍ عمر له خپلې مرستيالې ۱۸ کلنې انجلۍ سره واده وکړ او درې کاله وروسته د يوې لور خاوند شو.

محمد علم وروسته بيا دومره مشهور شو چې په ډاکترانو سربېره يې په حکومت کې د نورو استراليايانو غوسه راوپاروله.

څرنګه چې پخوا مو وويل محمد علم د خلکو د علاج په مقابل کې له هغو څخه د پيسو غوښتنه نه کوله، هر څه به چې خلکو ورکړل هغه به يې منل. ده به همدا پيسې هم بېرته پر بېوزلو کسانو باندې وېشلې. وايي چې په ۱۹۳۴ کال د جنوبي استراليا حکومت پر ده تور ولګاوه، چې ده په پنځو کلونو کې د هغو ۱۵ زره پونډه مرستو، چې په بېوزلو خلکو وېشل شوې وې ماليه نه ده ورکړې؛ ځکه يې له ده څخه وغوښتل چې د همدې پيسو ماليه

چې څو سوه پونډه کېدله تحویل کړي. وروسته بیا د پولیسو یو مامور د ناروغ په جامه کې محمد علم ته ورغی، محمد علم د ده علاج وکړ، خو وروسته بیا همدې مامور دی محکمې ته راکاږه. محمد علم به په ډېرعزت سره چې پاک قرآن به یې په لاس کې و، محکمې ته راته او سوالونو ته به یې ځواب وایه. محاکمه د څلورو ورځو لپاره روانه وه او په پای کې محکمې محمد علم له دې امله چې د اسنادو له لرلو پرته یې طبابت کړی و، د ۴۵ پونډو جریمې په ورکولو محکوم کړ، خو له دې سره سره د خلکو بهیر د ده پر لور په زیاتېدو و. په محکمې کې هغې نجلۍ هم د ده په ګټه شهادت ور کړ، چې ده یې علاج کړی و. نجلۍ په محکمې کې وویل چې د هغه درناوي له امله چې ده ته یې لري مسلمانه شوې ده او دا هماغه نجلۍ وه، چې محمد علم ورسره وروسته بیا واده وکړ. له ده سره کندهار ته راغله او د ۳۳ کلونو په عمر هلته مړه او خاورو ته وسپارل شوه. محمد علم د ۱۹۲۴ کال د مارچ په ۲۱ د ۱۰۸ کلونو په عمر چې په زرګونو تنو ورته دعاګانې کولې مړ شو. وایي چې د ده د جنازې تر شا د خلکو کتار چې شمېر یې زرګونو تنو ته رسېده، نژدې دوه کیلو متره اوږد و. د محمد علم جنازې ته دومره خلک راغلي وو، چې هېڅکله هم په بله جنازه کې لیدل شوي نه وو. له محمد علم څخه د پاتې جایداد بیه د ۱۲ زره پونډو په شاوخوا کې وه. دا پیسې د ده د وصیت له مخې هغو سازمانونو ته ورکړل شوې، چې د ماشومانو د روزنې او پالنې دندې ورپه غاړه وې.

**د افغانانو د دورې پای:**

د ۱۹۴۰ کال په لسیزه کې لومړی نسل کوم افغانان چې خپل هېواد ته ستانه شوي نه وو ، هغوی له کاره وتلي د زاړه عمر خاوندان وو چې د افغانانو په پخوانیو او پاتې شویو کلیو او یا د ادیلاید او پرت د جوماتونو په شاوخوا خونو کې یې ژوند کاوه. د دریم نسل افغانان چې نیمایي افغان او نیمایي اروپایي یا تور پوستي وو په نوي کلتوري چاپېریال کې یې ژوند کاوه. د دوی افغاني او اسلامي اصلیت یو دروند ټولنیز پېټی و ؛ ځکه نو د افغانانو دغه ځوان نسل د افغانانو له خاصو او جلا کلیو (Ghantown) څخه راووتل او په نورو ښارونو او کلیو کې د نورو استرالیایانو سره مېشت شول. له نورو سره د ګډ ژوندانه په نتیجه کې دوی په تدریجي ډول خپل اسلامي عقاید او دودونه له لاسه ورکړل. سره له دې چې د خوګ د غوښې له خوړلو څخه کرکه او په اسلامي دود د مړو ښخول تر زیاتې مودې په دوی کې پاتې وو ، خو کله چې دوی له نورو استرالیایانو سره ودونه وکړل؛ ځکه یې هغوی ته ورته دودونه غوره کړل او له کلتوري پلوه له نورو استرالیایانو څخه د دوی جلا کول ګران شول.

د ۱۹۴۰ لسیزې په وروستیو کلونو کې د افغانانو کلي چې یو وخت له اوسېدونکو څخه ډک وو ، په کنډوالو بدل شول او اوسېدونکي یې هرې خواته خپاره شول. د افغانانو له هغو کلیو Ghantown څخه چې تر زیاتې مودې پاتې شول، یو په مري Marree کې و.



په مري کې د افغانانو له کلي څخه یو کور، چې تراوسه پاتې دی

له هغو افغانانو څخه یو چې تر پایه په دې کلي کې پاتې شول، بیجا درویش Bejah Darwish و. وایي چې د ۱۹۴۰ کال د لسیزې په وروستیو کلونو کې یوازې ده د مري افغانانو په کلي کې ژوند کاوه. بیجا درویش چې شپېته کلونه یې په استرالیا کې تېر کړي و، دا وخت اتیا کلن و. ده تر پایه په همدې کلي او پخپل کور کې چې ترڅنګ یې د خرما ونې ولاړې وې په پوره عزت سره ژوند کاوه. هره ورځ پخپلو افغاني کالیو کې د خپلو لیکونو د تر لاسه کولو لپاره د اورګاډي ستېشن ته روان و. هغه یو باوقاره انسان و او د سیمې ټولو خلکو یې درناوی کاوه. بیجا به هره ورځ له څو نورو پاتې افغانانو سره د لمانځه د ادا کولو لپاره مري جومات ته راته. د جومات پاک ساتنه هم د همدې سپین ږېرو له دندو څخه وه. د دې کلي یو بل سپین ږیری مولاداد نومېده چې د استرالیا په بېدیاوو کې د زیاتو سفرونو له امله په دواړو سترګو ړوند شوی و. وایي چې مولاداد به تل له دې څخه چې ځوان افغان له خپلو دودونو څخه اووښتل او له خپل دین، ژبې او کلتور سره یې مینه په کمېدو وه ځورېده. مولاداد په ۱۹۰۱ کال استرالیا ته راغلی و او خپل هېواد ته ځکه ستنېدلای نه شو چې د کورنۍ ټول غړي یې مړه شوي وو. یو بل افغان چې نوم یې په ۱۹۴۸ کال زیات یادېده عبدالقدیر و. وایي چې ده په مري Marree کې د خرما د ونو یو باغ جوړ کړی و چې نژدې شل جریبه ځمکه یې نیولې وه، خو په هغو کلونو کې د دې بڼ یوازې دوه ونې پاتې وې. همدا شان د هغه کلي کورونه چې ده په کې ژوند کاوه ټول وران شوي وو.

کله چې افغانانو خپل کلي پرېښودل، نو د اوبو څاګانې هم په سیمه کې له منځه ولاړې؛ ځکه نو ورو ورو ټولې ونې وچې شوې او د وخت په تېرېدو سره هغه سیمه په بېدیا بدله شوه، چې پخوا به په کې زیات خلک او سېدل او د ماشومانو ګڼه ګونه به په کې وه او له باغونو څخه به یې زیاتې خرماوې په لاس راتللې.

له ۱۹۳۰ لسیزې څخه وروسته د شلو کلونو په موده کې د افغانانو

جوماتونه په ورانېدو شول، تر دې چې د ۱۹۵۰ کال په لسیزه کې د افغانانو له جوماتونو څخه یو لږ شمېر پاتې وو. زیاتو افغانانو کله چې ولیدل چې دوی د دې جوماتونو د ساتنې او پالنې توان نه لري؛ ځکه یې زیات شمېر جوماتونه پخپله ونړول. دوی نه غوښتل یا یې نه شوای زغملای چې پخپلو سترګو جوماتونو ته بې احترامي وګوري. له دې جوماتونو څخه یو هم د مري د کلي جومات و چې له ورانېدو وروسته یې د لېږدولو وړ شیان د اډیلاید جومات ته یوړل. له وروستیو افغانانو څخه چې د مري په کلي کې په حق ورسېد ، سید غلام دین وو. دی په قام غلجی و او په ۱۸۷۰ کال زېږېدلی و. په بلوچستان کې یې له خپلې مېرمنې او دوو بچیانو سره استوګنه لرله. وایي چې یو زوی او مېرمن یې دواړه مړه شول، نو دی استرالیا ته ولاړ، څه موده وروسته یې دوېم زوی هم چې له خپل نیکه سره یې استوګنه لرله مړ شو.
غلام دین د خپل تره له زامنو سره چې سید غلام جان او سید غلام عادل نومېدل، په بروکن هل کې د اوښانو په کاروبار بوخت شول. وروسته یې بیا یو شمېر اوښان وپېرودل او د ځان لپاره یې د جلا کاروبار بندوبست وکړ. یو څه موده وروسته یې د تره زامن دواړه مړه شول. ده هم بروکن هل پرېښود او مري ته ولاړ او د خپل عمر تر پایه په هماغه ځای کې پاتې شو او د خپل عمر په ورستیو کلونو کې ناروغه او ناتوانه و. څنګه چې د جومات د ساتنې او پالنې توان یې نه درلود ، د ۱۹۲۰ لسیزې په لومړیو کلونو کې د مري د جومات له ورانېدو پنځه کاله وروسته په حق ورسېد.
په همدې ډول د ۱۹۲۰ په لسیزه کې د بروکن هل جومات هم له نظره وغورځېد. د دې جومات وروستی ملا امام زید الله نومېده چې په ۱۹۲۱ کال کې وفات شو او جومات د امام او مقتدیانو دواړو د نشتوالي له امله په ورانېدو شو. زیات شمېر زاړه او سپین ږیري افغانان، حتی د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ لسیزو په اوږدو کې له بروکن هل څخه د اډیلاید او پرت Perth پر لور چې لوی جوماتونه یې لرل په کډه شول. دوی به په ګډه د جومات تر څنګ په

ارزان بیه مېلمستونونو او یا د جومات په خونو کې اوسېدل. وایي چې له دوی څه یو تن د عزت خان په نوم د ۱۰۷ کلونو په عمر وفات شو. همدا ډول یو بل افغان د شېرګل په نوم د ۹۰ کلنۍ او سلمان خان د ۹۲ کلنۍ په عمر وفات شول. یو بل زوړ افغان چې د خپل عمر وروستي کلونه یې د اډیلاید په جومات کې تېر کړل، فیصل احمد نومېده چې له ۲۸ کاله زندان څخه وروسته د ۸۲ کلونو په عمر د اډیلاید په جومات کې د ېره شوی و. وایي چې له مړینې څخه پخوا د اډیلاید په روغتون کې د ده وروستۍ خبره دا وه چې «خدای تعالی خو پوهېږي چې ما هېڅکله هم هغه دوه تنه چې زه یې د وژلو په تور زنداني شوی وم وژلي نه وو».

❋❋❋

# د افغانانو کلي او هديرې

څرنګه چې پخوا هم ورته ګوته ونيول شوه، په استراليا کې افغانان معمولاً له نورو استراليايانو څخه جلا په هغو کليو کې اوسېدل چې دوی پخپله ودان کړي وو او د استراليايانو لخوا د Ghantowns په نومونو يادېدل. په جنوبي استراليا کې دا ډول کلي په مري Marree، فارينا Farina، پورت اګوستا Port Augusta، اودناداتا Oodnadata او بيلتانه Beltana کې په کوينزلند کې د Cloncurry نارمنټن Townsville Normanton او Duches د سيمو ترڅنګ د نيو ساوت ويلز د برک Bourke او بروکن هل Broken Hill په سيمو په لوېديزه استراليا کې د فريمنټلFremantale، کولګاردي Coolgardie، کال ګورلي Kalgoorlie، ماربل بار Marble bar، ويلونا wiluna، ميکاتانا Meekathana، ويندم Wyndham او پورت هدلينډ Port Headland په سيمو او په پای کې د شمالي سيمې د اليس سپرنګز Alice Springs د سيمې ترڅنګ جوړ شوي وو چې دا دی موږ يې دلته د ځينو مهمو کليو يادونه کوو.



د افغانانو ځيني مهم کلي او د اوښانو د تم کېدو مرکزونه

## د بیلتانه کلی Beltana Ghantown:

د افغانانو تر ټولو لومړی کلی په جنوبي استرالیا کې د Port Augusta ترڅنګ جوړ شو. په همدې ځای کې د ۱۸۶۶ کال د نوي کال په ورځ ۱۲۱ اوښان له ۳۱ تنو افغانانو سره د Black Well په نامه بېړۍ ځخه را پلي شول. د افغانانو د اوسېدلو لپاره د بندر په یوه څنډه کې یو جلا کمپ وټاکل شو چې وروسته بیا د بیلتانه Beltana په سیمه کې د افغانانو کلی جوړ شو. له همدې کلي څخه به هره ورځ د افغانانو د اوښانو کتارونه هرې خواته روان وو او د Elder لخوا پر اوښانو باندې د مالونو د وړلو راوړلو لویه کمپنۍ هم همدلته جوړه شوې وه. دا کلی د شمال پر لور د لویې لارې ترڅنګ جوړ شوی او د ځینو ودانیو په جوړولو کې یې له ډبرو څخه هم کار اخیستل شوی و چې ځینې یې تر نن ورځې پورې هم پاتې دي. د څښلو اوبه به له یوې ژورې ژاه څخه په لاس راتللې. وایي چې دا کلي د Flinders د غرونو په لمنو کې جوړ شوي وو. ښایسته منظره او د اوښانو لپاره یې پرېمانه واښه درلودل. د دې کلي لوېدیز لور ته د افغانانو هدیره پرته ده چې پنځه یا شپږ تنه افغانان په کې ښخ شوي دي. د ځینو قبرونو چاپېره د لرګیو پنجرې هم جوړې شوي دي.

## د فارینا کلی Farina Ghantown:

په ۱۸۸۳ کال له ادیلاید څخه د شمال پر لور د اورګاډي هغه پټلۍ چې له Port Augusta او بیلتانه Beltana څخه تېرېده تر فارینا پورې وغځېده او په دې توګه د فارینا د اورګاډي سټېشن په دې ایالت کې تر ټولو لوی شمالي سټېشن شو چې له هغه څخه او یا هغه ته د مالونو وړل راوړل پیل او ډېر ژر په کې د خلکو استوګنه هم پیل شوه او په دې ترځ کې سټېشن ته نژدې د یوې غونډۍ پر سر د افغانانو کلی هم منځته راغی. وایي دلته چې هېڅ ونې او یا بوټي په کې نه لیدل کېدل د ژوند شرایط ډېر ناوړه وو. له شاوخوا بېدیاوو څخه له شګو سره یو ځای تند بادونه چلېدل او هوا به هم

مخصوصاً په دوبي کې ډېره توده وه. کلي د ښپرې په شان يو کوچنی جومات درلود، خو وايي چې جومات به ډېر پاک ساتل کېده. په کلي کې استوګن افغانان ټول مجردان وو. په دوی کې يوازې ګل محمد له خپلې فرانسوې مېرمنې او پنځو اولادونو سره جلا ژوند کاوه. دا کلی اوس وران او نښې يې نه دي پاتې. يوازې د افغانانو ځينې زاړه لوښي او د ګل محمد د مېرمنې په ګډون چې په کال ۱۹۳۹ کې همدلته مړه شوه، د پنځو افغانانو قبرونه په کې ليدل کېږي. د ګل محمد د مېرمنې ترڅنګ د هغه ۱۲ کلن زوی او ۱۴ کلنه لور هم ښخ دي.

## د خرماوو باغونه:

د ۱۸۸۰ کال د لسيزې په اوږدو کې عبدالقدير نومي افغان د مري Marree په سيمې کې چې د شلو تنو په شاوخوا کې نور افغانان هم ورسره وو، د اوښانو په کار بوخت وو. عبدالقدير او افغانانو له فيض محمد سره چې يو بډای افغان و او زيات اوښان يې درلودل کار کاوه. ده د افغانانو له کلي څخه څو سوه متره لرې پر هغه ځمکه باندې ژوند کاوه چې دی يې خاوند و. عبدالقدير پخپله ځمکه کې چې نږدې ۱۸ جريبه وه، د خرماوو نيالګي کېنول. وايي چې د خرماوو زړي ممکن د جنوبي استراليا د حکومت لخوا په ۱۸۸۴ کال له سعودي عربستان څخه راوړل شوي وو. حکومت هم د ۱۸۸۴ او ۱۸۸۷ کلونو په ترڅ کې درې سوه د خرماوو نيالګي په فارينا Farina او د جنوبي استراليا په ځينې نورو سيمو کې کېنول، خو داسې بريښي چې دا هڅې په پای کې له ناکامۍ سره مخامخ شوې. همدا شان د جنوبي استراليا حکومت د Lake Harry نومي ځای په شاوخوا کې هم د خرماوو نيالګي کېنول او د هغو د پالنې لپاره يې افغانان وګومارل، خو د دې ځای د اورګاډي د سټېشن په بندېدو سره دا هڅې هم بندې شوې. حال دا چې د عبدالقدير هڅې په دې برخه کې بريالۍ شوې او د ده تر پاملرنې لاندې د ده د خرماوو بڼونو په بريالیتوب سره وده وکړه؛ ځکه نو دی لومړنی

بزګر دی چې په استرالیا کې یې د خرماوو د ونو کرلو او روزلو ته رواج ورکړ. هغه د خپلو بڼونو حاصلات د مري Marree په شاوخوا کې خرڅول. ډېرو نورو افغانانو هم له ده څخه د دې ډول کرنې د پوهې او تجربې په تر لاسه کولو د خرماوو ونې په بڼونو او حتی د خپلو کورونو په شاوخوا کې وروزلې. عبدالقدیر ټولو هغو افغانانو ته چې د ده په کرونده کې یې کار کاوه، د خپل استوګنځي په شاوخوا کې د استوګنې ځایونه جوړ کړي وو چې ځینې یې لا تر اوسه پورې که څه هم وران او ویجاړ دي، خو پاتې دي. په یوه نسبتاً لوړه برخه کې د کلي جومات لیدل کېده، د جومات مخې ته د اوداسه لپاره یو کوچنی حوض جوړ شوی و. د حوض او د خرماوو د بڼونو لپاره اوبه له هغې څاه څخه وې چې ویاله یې پخپله عبدالقدیر کیندلې وه. د دې جومات ځینې نښې او په شاوخوا کې یې هغه توري ډبرې او نغري چې افغانانو به پکې پخلی کاوه، همدا اوس هم پاتې دي. وایي چې د شلو تنو په شاوخوا کې افغانانو به له عبدالقدیر سره د بڼونو د چارو په سمبالولو کې مرسته کوله. سربېره پر دې عبدالقدیر د سلو په شا وخوا کې وزې هم ساتلې وې. د وزو له غوښې او د وزو او اوښانو له شیدو څخه یې ګټه اخستل کېده. عبدالقدیر د خپل بڼ شاوخوا یوه کټاره جوړه کړې وه تر څو بڼ ته د ځاروېو د ورتګ مخنیوی وکړي. همداشان وزې، اوښان او آسان په جلا جلا ځایونو کې ساتل کېدل.

څرنګه چې افغانانو شهرت درلود چې خپل شته په مخصوصو ځایونو او یا د خاورو لاندې پټوي؛ ځکه نو په ۱۹۸۲ کال یو شمېر خلک د عبدالقدیر کلي ته چې هغه وخت په کې څوک نه اوسېدل ورغلل او په کیندنو یې پیل وکړ، خو په پای کې هېڅ هم په لاس ورنغلل. عبدالقدیر چې په بوډاوالي کې مړ شو، هېڅکله یې هم واده ونه کړ او هغو افغانانو هم چې له ده سره یې کار کاوه ودونه نه درلودل.

## د مري کلی Marree:

د ۱۸۵۹ کال د اپریل په میاشت کې د D.D Herrgott هرګوت په نامه یو الماني نبات پېژندونکي چې د جنوبي استرالیا په شمالي برخو کې له یوې تحقیقاتي ډلې سره سفر کاوه د اوبو چینې وموندلې چې وروسته بیا د ده په نوم یادې شوې. په ۱۸۸۴ کال د اورګاډي پټلۍ له فارینا څخه د شمال پر لور تر همدې چینو پورې وغځېده؛ ځکه نو هغه ښارګوټی چې د اورګاډي د سټېشن په شاوخوا کې منځته راغی د Herrgott Springs په نامه یاد شو. دا نوم وروسته بیا په مري Marree بدل شو. ځینې وایي دا هغه وخت و چې خلکو به له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته له المانیانو څخه کرکه ښودله، خو ځینې بیا وایي چې دا نوم حتی په ۱۸۸۴کال چې د ښار لومړنۍ نقشه برابرېدله، په دې ښار ایښودل شوی و. د مري Marree د نوم د اصلي ریښې په هکله ځینې وایي چې دا نوم په هغو تور پوستو پورې اړوند دی چې د همدې ځای په شاوخوا سیمو کې یې ژوند کاوه او د یوه کوچني حیوان (Possum) معنا ورکوي، خو خبره دا ده چې د دې سیمې په شاوخوا کې دا ډول حیوان چې په ونو کې ژوند کوي هېڅ نه لیدل کېږي؛ ځکه نو ځینې داسې ګومان کوي چې ګوندې دا نوم به په بلوچستان کې د پښتنو د مري د قوم له نامه څخه اخیستل شوی وي او دا به د هغو افغانانو په ویاړ وي چې له انکشافي او تحقیقاتي ډلو سره یې دنده تر سره کړې وه. داسې وایي چې په استرالیا کې د افغانانو د ټولو کلیو په پرتله د مري Marree کلی لوی او با اهمیته و؛ دا ځکه چې ټول هغه کاروانونه چې د Port Augusta له بندر څخه به هرې خواته تلل له همدې ځای څخه به تېرېدل. وایي چې په دې کلي کې د افغانانو د کورونو شمېر له ۲۵ کورونو څخه زیات و.



د مري کلي ته نژدې افغانان پراوښانو باندې د مالونو د ترلو په وخت کې

له کلي څخه په لږ واټن کې د عبدالقدير کور او بڼ پروت وو. دا کلی تراوسه هم پخپل حال پاتې دی او په ځينې کورونو کې يې همدا اوس هم د افغانانو بچيان ژوند کوي. د گان (Ghan) په نامه د اورگاډي پټلۍ د دې ښارگوټي له منځ څخه تېرېږي چې ختيځې خواته يې همدا اوس هم د افغانانو بچيان او لوېديز لورته يې سپين پوستي استراليايان ژوند کوي. په مري کې د افغانانو هديره هم په ټولې استراليا کې د افغانانو له هديرو څخه لويه او پراخه ده. د دې هديرې پر ځينو قبرونو باندې ليکل شوې ډبرې هم ليدل کېږي چې تر ټولو پخوانۍ يې د وهاب په نامه د يوه افغان وه، چې اصلاً له کندهار څخه و او په ۱۸۹۵ کال مړ شوی و.

## د اودناداتا کلی Oodnadatta:

د ۱۸۹۱ کال د جون په مياشت کې په جنوبي استراليا کې د اورگاډي پټلۍ نوره هم د شمال پر لور وغځېده چې ورسره ځينو افغانانو هم له مري Marree او شاوخوا سيمو څخه دې لور ته مخه کړه. وايي چې په ۱۸۹۳ کال نژدې څلور سوه اوښان د Oodnadatta د اورگاډي په سټېشن کې په کار اچول شوي وو چې له هغو سره د پنځوسو (۵۰) تنو په شاوخوا کې افغانان هم دلته ډېره شول. دوی دلته د افغانانو يو جلا کلی د ښار شمال لوېديز لور ته جوړ کړ چې د راتلونکو ۳۷ کلونو لپاره چې د اورگاډو له دې سټېشن

ځخه ګټه اخیستل کېده، همدلته پاتې شول. له دې ځای ځخه به د اوښانو کاروانونو الیس سپرنګز (Alice Springs) او نورو شاوخوا سټېشنونو او ښارونو ته تګ راتګ کاوه او د اړتیا وړ ټول مواد یې د شمالي سیمې ټولو برخو ته د ۹۰۰ میلو په واټن رسول. د اوښانو پر همدې کاروانونو پوسته هم له اودناداتا ځخه Alice Springs ته وړل کېده. نن سبا د دې کلي له کنډوالو او ځینو ماتو لوښو ځخه پرته نور څه پاتې نه دي. کومه ثرګندنه نښه چې دلته له افغانانو ځخه پاتې ده، هغه د خرماوو ونې دي چې همدا اوس هم د دې ځای د پولیسو د ماموریت د ودانۍ په شاوخوا او د لوېدیز پر لور د لارې په اوږدو کې لیدل کېږي. همدا شان کلي ته نژدې د افغانانو هدیره ده چې د لسو په شاوخوا کې د افغانانو قبرونه پکې لیدل کېږي.

## د الیس سپرنګز کلی Alice Springs:

د الیس سپرنګز سیمې ته د اورګاډي پټلۍ په ۱۹۲۹ کال کې وغځول شوه. دا وخت له موټرو ځخه ګټه اخیستل په استرالیا کې عام شوی وو؛ ځکه یو لږ شمېر افغانان د اورګاډو د سټېشن پر لور ورکډه شول، خو خبره دا وه چې دا وخت د دوی کاروبار په استرالیا کې خپل اهمیت له لاسه ورکړی و. په الیس سپرنګز کې د مري Marree یا اودناداتا Oodnadatta په شان د افغانانو کلي نه لیدل کېدل، خو سره له دې هم یو شمېر افغانان دلته له خپلو کورنیو سره اوسېدل. ځینې افغانان دې سیمې ته د اورګاډو د پټلۍ تر غځېدو پخوا رارسېدلي وو، د اوښانو په کاروبار بوخت وو او مالونه یې له شاوخوا سټېشنونو ځخه دې ځای ته وړل راوړل. د افغانانو تر ټولو لوی کمپ یا کلي ته نژدې یو جومات هم ودان شوی و چې د خرماوو ونې پکې کېنول شوې وې. د خرماوو له څو ونو پرته د افغانانو له کمپونو ځخه په دې سیمې کې څه نه دي پاتې، یوازې د ښاروالۍ د ودانۍ ترڅنګ یوه یادګاري ډبره چې په الیس سپرنګز کې د مېشته افغانانو نومونه وربانديې کېندل شوي لیدل کېږي. د ۱۹۵۰ کال د لسیزې په کلونو کې زیات شمېر د

خرماوو ونې له دې ځای څخه د يوې استراليايي كورنۍ لخوا ايستل شوې او د ښار په يو بله څنډه كې كېنول شوې دي. د خرماوو ځينې ډولونه به د ځينو افغانانو لكه سعد الدين، شاتور او مجيد په نومونو يادېدل. د دې ځای د خرماوو د ونو زړي بيا نورو ځايونو ته هم يوړل شول. د اودناداتا او اليس سپرنگز تر منځ د اورګاډو پټلۍ له يو بل ځای څخه چې د Dalhousie په نامه يادېده او زياتې طبيعي او مخصوصاً د تودو اوبو چينې يې درلودې تېرې شوې وې. دلته هم د اورګاډو يو سټېشن جوړ شوی و او ترڅنګ يې يو شمېر افغانان دېره شوي وو چې شاوخوا سيمو ته به يې مالونه وړل راوړل. دلته هم افغانانو يو كوچنی كلی درلود چې له ځينو څېنو دېوالونو او د خرماوو له ونو پرته يې نور څه نه دي پاتې. په اليس سپرنگز كې هم د افغانانو هديره په جلا ډول ليدل كېږي چې د افغانانو نژدې د برش قبرونه په كې شته چې زيات شمېر يې د نرينه وو دي او د ۱۹۳۰ او ۱۹۴۰ لسيزو په كلونو كې مړه شوي دي.

## د برک كلی Bourke:

په برک كې د افغانانو له دوو كليو او يا كمپونو څخه څه نه دي پاتې، له دې دوه كليو څخه يې ډېر پخوانی د ظريف خان او د ده د ورور غني خان لخوا په ۱۸۸۷ كال د ښار په يوې څنډې كې منځته راغی.
دوېم كمپ يا كلی چې د عبدالواحد تر سر پرستۍ لاندې د برک په نامه د مالونو د وړلو راوړلو د كمپنۍ لخوا جوړ شو. د ښار د پراختيا له امله دا دواړه كلي اوس له منځه تللي دي، حال دا چې په ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ لسيزو كې د ظريف او غني خان كلي په خاصه توګه د زياتې ګڼې ګوڼې ځای وو او له قومي تربګنيو تر ډولونو او اتڼونو پكې هر څه ليدل كېدل، په برک كې ځينې نور افغانان په خواره ډول حتی په خېمو كې هم اوسېدل، په دغو كې د مبين پېروز په نامه د يو افغان كور چې زيات اوښان يې لرل، تر اوسه پورې پاتې دی چې د هغه اروپايي مېرمنې پكې تر دې وروستيو كلونو پورې ژوند

کاوه، داسې وایي چې مبین پېروز ممکن وروستی افغان وي چې په برک کې مړ شوی دی. د ده د تره زوی عبدل جان چې په ۱۹۵۳ کال د ۹۲ کلونو په عمر مړ شو په دې شهرت درلود چې یو وخت یې یو وران شوی هوټل د اوښانو پر شا له یو ځای څخه بل ځای ته وړی وو. د ده د اوښانو واګون، تر هغه چې دی ژوندی وو د افغانانو په کلي کې د ده د کور ترڅنګ ولاړ وو. د برک په کمپنۍ پورې مربوط کلي ترڅنګ دوه لوی ګودامونه هم جوړ شوي وو چې د وړلو لپاره تیار او یا رارسېدلي مالونه به یې په کې ساتل، په دې کلي کې یو جومات هم جوړ شوی وو، په لومړي وخت کې پخپله عبدالواحد هم په همدې کلي کې اوسېده، خو وروسته یې لږ څه ځانته جلا کور جوړ کړ او شاوخوا ته یې یو شمېر افغانان هم دېره شول، عبدالواحد پخپل کلي کې یو جلا جومات هم ودان کړی وو. د برک په کلي کې دوه تنه افغانان چې بای خان او ګل ولي نومېدل تر وروستیو کلونو پاتې شول، کله چې د ۱۹۳۰ کال په لسیزه کې د اوښانو کاروبار ختم شوی وو، بای خان یو موټر درلود چې پر هغه به یې خپل ژوند کاوه، وروسته بیا دی د کلي ملا شو او د ۱۰۷ کلونو په عمر په برک کې مړ شو، بای خان تر پایه په استرالیا کې واده ونه کړ؛ حال دا چې ګل ولي یوه اروپايي مېرمن او له هغې څخه پنځه بچیان درلودل، هغه په ۱۹۵۰ کال د ۷۹ کلونو په عمر وفات شو، د برک په هدیره کې همدا اوس هم د ۱۴ تنو افغانانو قبرونه لیدل کېږي. ظریف خان دریېم افغان و چې په برک کې د ۳۲ کلونو په عمر مړ شو، د هغه د قبر په ډبره لیکل شوي چې دی د عبدالله زوی او په قام سلیمان خېل و.

## د بروکن هل کلی Broken Hill:

افغانانو په بروکن هل کې دوه کلي درلودل، یو یې لوی کلی و چې د ښار شمال لوري ته پروت و او بل یې کوچنی و چې د ښار لوېدیز خوا ته یې موقعیت درلود. شمال لوري ته د پراته کلي افغانانو به پخپلو اوښانو د بروکن شمال لور ته د کوینزلنډ تر لوېدیزو څنډو پورې تګ راتګ کاوه،

حال دا چې د لوېدیز کلي افغانان د جنوبي استرالیا خواته په غځېدلو لارو پر کاروبار بوخت وو. د بروکن هل کلي د مري Marree له کلیو څخه وروسته منځته راغلل، دوا ړو کلیو جوماتونه درلودل چې له هغو څخه د لوېدیز کلي جومات په ۱۹۲۰ لسیزه کې د بروکن هل د تاریخ د ټولنې لخوا وژغورل شو او د استرالیا له لرغونو تاریخي ودانیو څخه وګڼل شو، د ۱۹۹۰ کال په لسیزه کې د استرالیا له مختلفو ایالتونو څخه یوې ډلې افغانانو، څو ځله بروکن هل ته سفرونه وکړل او د دې جومات د بیارغونې په هکله له مقاماتو سره وغږېدل چې په نتیجه کې یې یو څه پیسې له مختلفو منابعو څخه برابرې شوې او د جومات بیا رغونه ترسره شوه، خو څرنګه چې له موټرو څخه ګټه اخیستنه په بروکن هل کې تر نورو سیمو ژر پیل شوه؛ ځکه نو یو شمېر افغانانو له خپلو اوښانو سره نورو سیمو ته کډه وکړه، د مثال په توګه د علي اکبر او خانزاده په نومونو دوه تنه افغانان مري Marree ته کډه شول، خو یوه ډله افغانان تر پایه همدلته پاتې شول، له هغو څخه یو د شمروز په نوم د یوه افغان کورنۍ وه چې د هغه ۲۲ کلنه لور او د هغې دوه ورونه چې پخوا امان الله او حیات الله نومېدل او اوس یې نومونه بدل شوي دي، له خپلو کورنیو سره همدا اوس هم په بروکن هل کې استوګنه لري، د شمروز لور چې روزان نومېږي، وایي چې د دې پلار چې کوم وخت استرالیا ته راته، نو ۱۲ کلن وو، دې ویل چې پلار یې په پټه هغې ببېړۍ ته چې له کراچۍ څخه استرالیا ته را روانه وه او افغانان او د هغو اوښان هم پکې بار وو، ننوتی او په دې توګه له اجازې پرته استرالیا ته راغلی وو. د دې پلار وروسته بیا له یوې تور پوستې سره واده وکړ او په پای کې دلته په بروکن هل کې دېره شو. روزان چې د افغانانو له ډلې سره د بروکن هل د لیدو لپاره راغلې وه، د هغه ځای جومات ته ننوتله، ویې ویل چې دا لومړی ځل دی چې دا پخپل ژوند کې دې جومات ته ننوتې ده؛ دا ځکه چې د دې د کوچنیوالي په وخت کې نجونو جومات ته د ننوتلو اجازه نه درلوده، له خپل پلار څخه د روزان یوه پښتو جمله په یاد پاتې وه او هغه

دا چې د دې په وينا کله به چې دوی شوخي کوله، نو پلار به يې د دوی غوږونه راکاږل او دې ته به يې ويل چې څه شوخي مه کوه.
اوس خو روازن د دې جملې په معنا هم نه پوهېږه. په اوسني وخت کې له يوه جومات څخه پرته د بروکن هل د کلي نور څه هېڅ پاتې نه دي او د کلي ټول کورونه د ښار د پراختيا له امله وران شوي دي، د ځينو نورو افغانانو کورنۍ او بچيان هم تر اوسه پورې په بروکن هل کې ژوند کوي، په بروکن هل کې د افغانانو هديره هم اوس له منځه تللې ده، خو وايي چې دا استراليا د نورو سيمو پر خلاف په بروکن هل کې افغانانو ته پخپله د قبر د کيندلو اجازه نه ورکول کېده، قبر بايد د ښاروالۍ د کارکوونکو لخوا کيندل شوی وای او مړی بيا په تابوت کې ښخ شوی وای، حال دا چې په نورو سيمو کې افغانانو دا کار نه کاوه او مړي به يې په تابوت کې نه ښخول، خو څرنګه چې د شمروز زوی امان الله هم وايي د افغانانو مړي به له اسلامي او افغاني دودونو سره سم د ښخېدو لپاره برابرېدل.

## د کولګاردي کلی Coolgardie:

په ۱۸۹۴ کال افغانان او د دوی اوښان په لوېديزې استراليا کې د سرو زرو د کانونو سيمو ته راورسېدل او په کولګاردي کې چې د سرو زرو د پلټنې لوی مرکز و، ډېر ژر د افغانانو يو لوی کلی منځته راغی چې شاوخوا ته يې د کانونو ترڅنګ هم د افغانانو د استوګنې کمپونه ليدل کېدل. کولګاردي د لوېديزې استراليا په بېديا کې يو کوچنی ښارګوټی و.



په لوېديزه استراليا کې له اوښانو څخه د لرګيو په لېږدولو کې ګټه اخستل

له شګو او دوړو سره ګډ بادونه پکې چلېدل او اوبه پکې نه موندل کېدې. اوبه به افغانانو پخپلو اوښانو دلته راوړې او په ګرانه بیه به خرڅېدې، نن سبا په دې ځای کې د افغانانو له کلي څخه څه نه دي پاتې. وایي چې افغانانو د خپل کلي په یو نسبتاً جګ ځای کې یو جومات هم جوړ کړی و چې ترڅنګ یې د اوداسه لپاره یو کوچنی حوض هم لیدل کېده. د کولګاردي ښار ګوټي په ډېرې چټکۍ سره پرمختګ وکړ او په ۱۸۹۰ کال یې د وګړو شمېره ۱۵ زره تنو ته ورسېده، چې لس زره تنه یې په لرې او نژدې شاوخوا کې ژوند کاوه. په کولګاردي کې د مختلفو ملیتونو خلکو لکه سپین پوستو استرالیایانو، تور پوستو، جاپانیانو، چینایانو، ایټالیایانو، فرانسویانو، جرمنیانو، امریکایانو او افغانانو ژوند کاوه.



افغانان په ۱۸۹۲ کال د کولګاردي Coolgardie سیمې ته د او سپنې د پټلیو د غځېدلو په مراسمو کې برخه اخلي.

د ۱۸۹۲ کال د مارچ د میاشتې په ۲۵ په کولګاردي کې د اورګاډي د سټېشن د پرانستلو ورځ وه او ټاکل شوې وه چې د ټولو ملیتونو خلک د رسم ګذشت په ډول د مېلمنو له مخې تېر شي چې البته افغانانو هم پکې ګډون درلود. افغانانو هڅه کوله چې په رسم ګذشت کې تر ټولو لومړی حق دوی ته ورکړل شي، حال دا چې سپین پوستو استرالیایانو دا خپل حق ګاڼه.

په اوږده لانجه کې طبيعي وه چې اروپايي استراليايان بريالي شول، خو د ډېرو مورخينو په وينا دا افغانانوو چې پخپلو رنګ رنګ کاليو، ښکليو واسکټونو او سينګار شويو اوښانو يې د زياتو نندارچيانو پاملرنه ځانته را اړولې وه. وايي چې کولګارډي وروسته بيا په ډېرې چټکۍ سره خپل وګړي له لاسه ورکړل، چې په دې برخه کې دوه ځله په ښار کې د اورونو لګېدل او په نتيجه کې يې سوځېدلو هم ښکاره ونډه لرله. په وروستي اور کې چې د ۱۸۹۵ کال د اکتوبر په مياشت کې ولګېد، افغانانو د تاج محمد په مشرۍ د اور په وژلو کې لويه ونډه واخيسته او چې کله غږ شو چې يو سړی په اور کې ګېر پاتې دی، نو تاج محمد اورته ودانګل او هغه سړی يې له حتمي مرګ څخه وژغوره. وايي چې له دې پېښې څخه دوه کاله پخوا هم تاج محمد او د ده ورور د نورو افغانانو په مرسته په سلګونو تنه هغه د کانونو کارګران چې له حتمي مرګ سره مخامخ وو، دوی ته د خوړو او اوبو په رسولو سره وژغورل او يو زيات شمېر کارګران يې پر خپلو اوښانو په وړيا ډول د کولګارډي ښار ته ورسول. په کولګارډي کې د افغانانو کلي ته نژدې د دوی هديره هم ليدل کېږي، چې له ۱۸۹۵ تر ۱۹۴۷ کال پورې ۳۱ تنه افغانان پکې ښخ کړای شوي دي. څرنګه چې په دې هديره کې ښخ کړای شوي افغانان ټول ځوانان دي، ځکه نو دا په خورا ښه توګه څرګندېږي چې دوی په دې ځای کې تر څومره سختو شرايطو لاندې ژوند کاوه. په هديره کې يوازې د تاج محمد پر قبر چې په کال ۱۸۹۲ کې وژل شوی او د حاجي ملا مهربان پر قبر چې په ۱۸۹۷ کال وفات شوی و، هغه ډبرې چې د دوی نومونه پرې ليکل شوي ليدل کېږي.

**په اديلايد کې د افغانانو هديره:**

د ۱۸۹۲ کال د اګست په مياشت او پوره شپږ مياشتې وروسته تر هغه چې د ده ورور په Coolgardie کې ووژل شو، فيض محمد د لوېديز اديلايد په هديره کې د مسلمانانو لپاره د هديرې پوره برخه وپېرودله، هغه وخت د يوه

قبر لپاره د ځمکې بیه پنځوس (۵۰) پونډه وه. فیض محمد د هدیرې د پېرودلو لپاره اړتیا وړ پیسې له خپل یو پخواني آمر Elder Smith څخه د پور په ډول تر لاسه کړې. د ۱۸۹۲ او ۱۹۵۰ کلونو ترمنځ د برش تنه مړي چې زیات شمېر یې افغانان او یا د دوی د کورنیو غړي وو، په دې هدیره کې ښخ شول. په وروستیو کلونو کې د جنوبي استرالیا په شمالي سیمو کې د افغانانو له کلیو څخه زاړه کسان به د ادیلاید جومات ته راتلل او د خپل ژوند وروستي کلونه به یې د دې جومات په حجره کې تېرول. په ۱۹۳۵ کال محمد علم د ادیلاید په یوه بله هدیره کې هم یوه ټوټه ځمکه د مسلمانانو د ښخولو لپاره تر لاسه کړه، خو دی یوازینی سړی و چې په دې ځمکه کې ښخ شو.

## د کلانکري کلی Cloncurry:

دلته د افغانانو کلی د ښار لوېدیزې خواته پروت و. له ښار څخه لږ څه لرې خو د چینایانو کلي ته نژدې و. د کورونو شمېر یې شلو (۲۰) ته رسېده، په کلي کې مېشته افغانانو یا پخپله اوښان درلودل او یا یې د عبدالواحد لپاره کار کاوه. د عبدالواحد ناظر په دې ځای کې سید عمر نومېده، چې د کلي د جومات ملا امام هم و. وایي چې سید عمر ډېره ښه ځواني درلوده او د ډېر نېک سیرت خاوند و. ده چې د ۱۸۹۰ کال په لسیزه کې د لوېدیزې استرالیا د سرو زرو په کانونو کې کار کاوه، په ۱۹۱۵ کال د ۴۵ کلونو په عمر په کلانکري کې وفات شو. د کلانکري له شاوخوا کلیو څخه مس لرونکې ډبرې د اورګاډي تر سټېشن او یا د Townsville تر بندر پورې رسول کېدل. افغانان د کوینز لند د شمال او لوېدیز په زیاتو ځایونو کې په کاروبار بوخت وو، خو د استوګنې لوی مرکز یې د کلانکري کلی و. هغه دوو وروستیو افغانانو چې په دې کلي کې ژوند کاوه، یو مظلوم شاه او بل محمد رحیم نومېدل. وایي چې مظلوم شاه به آسان ساتل او یو ډېر ساده او پاک انسان و. خلکو به یې درناوی کاوه، خو په ځینې حالاتو کې به بیا

ځوانانو ورباندې ملنډې هم وهلې او ټوکې يې ورسره کولې. وايي چې يوه ورځ مظلوم شاه د لاټري يو ټکټ پېرودلی و، د کلي ځوانان ورته ورغلل او ده ته يې وويل چې جايزه يې ګټلې ده. مظلوم شاه په تلوار بانک ته ورغی چې خپله جايزه تر لاسه کړي، خو کله چې خبر شو چې دا ټوکې وې، نو ډېر په غوسه شو. وايي چې مظلوم شاه به تل ويل چې بوره (افغانان) او شګه (کافران) هېڅکله سره مه ګډوئ، خو سره له دې هم ده يو اروپايي ملګرې درلود، چې تر پايه يې له ده سره اړيکې ډېرې ټينګې پاتې شوې. يو وخت کله چې دی د اتيا کلونو و، پخپل پخلنځي (آشپزخانه) کې وښويېد او په اور باندې وسوځېد. مظلوم شاه يې روغتون ته ورساوه، خو څو ورځې وروسته د همدې سوځېدو له ټپ څخه مړ شو. مظلوم شاه خپل آسان او خپل قيمتي شيان چې هر څه يې لرل ټول خپل سپين پوستي اروپايي ملګري ته وبښل. بل افغان محمد رحيم هم په يوه څېره کې ژوند کاوه او د اوښانو په کاروبار بوخت و. وايي چې يو وخت محمد رحيم د يو عاجل کار لپاره د ۹۲ ميلو واټن مزل يوازې په يوه ورځ کې وهلی و. کله چې د اوښانو کاروبار په خرابېدو شو، نو محمد رحيم د کلانکري په کلي کې ديره شو او د خپل کور په شاوخوا ځمکه کې به يې مېوې او سابه کرل. د محمد رحيم کور د يوې ويالې ترڅنګ وو؛ ځکه نو د اوبو کموالی نه ليدل کېده، خو ده بايد اوبه پخپله له ويالې څخه راپورته کړې وای؛ ځکه چې ځمکه له ويالې څخه په لوړه کې پرته وه. په همدې سيمه کې يو بل افغان يو دوکان پرانستی و؛ ځکه نو محمد رحيم به هم د خپلې ځمکې حاصلات د ده په دوکان کې خرخول. د محمد رحيم د ژوند په وروستيو کلونو کې کله چې دی ډېر زوړ شوی و، د افغانانو په کلي کې پرته له مظلوم شاه څخه بل څوک پاتې نه و. وايي چې د ژوند په وروستيو کلونو کې به محمد رحيم تل د جومات ترڅنګ پروت و. محمد رحيم په ۱۹۴۷ کال د اتيا کلونو په عمر د کلانکري په روغتون کې مړ او د هماغه ځای په هديره کې ښخ شو. د کلي جومات د محمد رحيم له مړينې څخه وروسته په لږه موده کې وران شو او د جومات په

شاوخوا او د محمد رحیم د کور ترخنګ باغونه هم د زمانې په تېرېدو له منځه ولاړل. نن سبا د کلانکري له کلي څخه چې یو وخت په کې د افغانانو ګڼه ګوڼه وه او د هغه له جومات او د انګورو له تاکونو، د نارنجو له ونو او له ځینو ماتو لوښو پرته نور هېڅ هم نه دي پاتې. دلته حتی د افغانانو هدیره هم د نورو اوسېدونکو له هدیرې څخه لرې او د هغه د شمال په لور په یو وران او ویجاړ حالت کې لیدل کېږي. په هدیره کې یوازې دوه قبرونه د پېژندنې ډبرې لري، چې یو یې د کلي د ملا سید عمر دی چې په **۱۹۱۵** کال د **۴۵** کلونو په عمر مړ شو او بل یې د Nellie Edwards په نامه یوه اروپایي ښځه ده، چې په غالب ګومان د کوم افغان مېرمن وه؛ ځکه چې د افغانانو په هدیره کې په اسلامي طریقه ښخه شوې ده.
دا هغه کلی و چې کرستین ستیونز Christin Stevens لیدلی و او د خپل کتاب د لیکلو په وخت کې یې ترې کتنه کړې وه. د دې په وینا د استرالیا په مختلفو ځایونو کې د افغانانو نور کلي هم شته چې دا یې په لیدو بریالۍ شوې نه ده. کرستین وړاندیز کوي چې لرغون پېژندونکي دې ډېر ژر دغه کلي وګوري او په دې اړه دې علمي څېړنې تر سره کړي، که نه نو استرالیا به هغه ډېر لږ څه چې د دې هېواد د تاریخ له یوې ځلانده او استثنایي دورې څخه را پاتې دي، له لاسه ورکړي.

***

# هغه څه چې له افغانانو څخه پاتې شول

له ۱۷۸۸ کال څخه وروسته د نړۍ له هر ګوټ څخه خلک دلته استرالیا ته راغلي دي. هرې ډلې ځانګړې مهارتونه او دودونه له ځانونو سره دې هېواد ته راوړي دي. همدا مهارتونه دي چې په دې هېواد کې د دوی د پاتې کېدو اصلي عوامل هم جوړوي، سره له دې چې د وخت په تېرېدو سره دوی د استرالیا د پراخه ټولنې یوه برخه وګرځېدل. د افغانانو لپاره هغه مهارت چې د هغه له امله دوی استرالیا ته راغلل د اوښانو چلول او روزل وو. افغانان هغه وخت استرالیا ته راوستل شول چې په وچو سیمو کې د اوښانو شته والي ته اړتیا ولیدل شوه. د همدې مهارتونو په لرلو سره دوی د استرالیا په پرمختګ کې ونډه واخیسته، سره له دې چې دا مهارتونه وروسته بیا ځینې اروپایانو او تور پوستو هم زده کړل. له افغانانو څخه د دې مهارتونو د زده کړې عملیه اوږده او دوامداره وه. په کوم ځای کې به چې دوی د ډېره شول، هلته به یې د سیمې له اروپایانو او تور پوستو سره اړیکې ټینګې شوې. د بارکر (Barker) په نامه د نوي زیلاند او سېډونکی چې د ډېرو کلونو لپاره په استرالیا کې د اوښانو په کاروبار بوخت و، پخپل کتاب کې لیکي چې ډېر څه یې په دې برخه کې له افغانانو څخه زده کړي دي. نوموړی په دې اړه په خاصه توګه د محمد حسن په نامه د یو افغان نوم اخلي او وایي چې د اوښانو د روزلو او چلولو په هکله یې هر څه له هغه څخه زده کړي دي. د اروپایانو په شان د استرالیا تور پوستو هم زیات څه له افغانانو څخه زده کړي دي. دا هم وایي یو زیات شمېر تور پوستي ځوانان د افغانانو لخوا په کارونو وګومارل شول او دوی ته د اوښانو د چلولو زده کړه ورکړل شوه. د اوښانو لپاره د کتو (Saddle) او نورو اړتیا وړ شیانو

جوړول هم یوازې د افغانانو زده وو چې وروسته بیا اروپایانو هم له هغوی څخه زده کړل. د کلونو لپاره په زرګونو اوښان استرالیا ته راوړل شول، حال دا چې وروسته بیا د اوښانو د نسل زیاتېدل او روزنه په استرالیا کې د ننه پیل شوه او د استرالیا حکومت نورو اروپایانو او حتی افغانانو لخوا د دې مقصد لپاره جلا مرکزونه د استرالیا په ګوټ ګوټ کې پرانستل شول، چې البته ټولې چارې یې د افغانانو لخوا پر مخ بېول کېدې. د دې کار یوه نتجه دا وه چې د اوښانو بیه را ټیټه او له هغو څخه استفاده نوره هم پراخه شوه. د مثال په ډول د مالونو په چلولو سربېره په نورو چارو لکه د واګونونو په چلولو او حتی د اوبو د بندونو په جوړولو کې هم له اوښانو څخه ګټه اخیستل پیل شول. د افغانانو او د دوی له اوښانو څخه په لومړۍ نړیوالې جګړې کې هم کار واخیستل شو. په جنوبي استرالیا کې د استرالیا د پوځونو لپاره د اړتیا وړ اوښانو د روزنې لپاره یو مرکز پرانستل شو او داسې اټکل کېده، چې د استرالیا پوځونه به له دې اوښانو څخه په منځني ختیز کې ګټه اخلي؛ ځکه د جنګي مهماتو په وړلو راوړلو کې دا اوښان د منځني ختیز د اوښانو په پرتلې ډېر ښه وو. له هغو زیاتو نومونو او کلماتو څخه چې له افغانانو څخه پاتې دي، یو هم د هوشته (Hooshta) یا هوش (Hoosh) کلمه ده چې افغانانو به د اوښانو په درولو او په ګونډه کولو کې ور څخه کار اخیست او تر نن پورې د همدې مقصد لپاره استعمالېږي. د استرالیا په صحرایي سیمو کې پولیسانو هم پخپلو ورځنیو چارو کې له اوښانو څخه ګټه اخیستله، خو د افغانانو تر ټولو لوی کار استرالیا ته د اسلام د دین راوړل وو.

کله چې اوښانو خپل ارزښت په استرالیا کې له لاسه ورکړ، زیات شمېر افغانان خپل هېواد ته ستانه شول، خو ځینې همدلته پاتې شول. دوی او د دوی نیمایي اروپایي او یا نیمایي تورپوستو بچیانو د افغانانو په کلیو کې خپل پاتې ژوند تېر کړ. د افغانانو له درېیم نسل څخه چې اوس یې زیات شمېر د اویاوو (۷۰) کلونو په شاوخوا کې عمر لري، ډېر لږ شمېر همدا

اوس هم د خپلو پلرونو په پخوانیو او زړو کورونو کې ژوند کوي، خو د دوی شمېر د زماني په تېرېدو سره په کمېدو دی.



اتیا کلنه زیني خان د موسی بلوچ لور په مري کې د خپل پلرني کور ترڅنګ

د دوی لمسیان اوس له کورونو څخه وتلي او د استرالیا د پراخه ټولنې په منځ کې یې ژوند غوره کړی دی، له همدې امله یې د مسلط کلتور تر نفوذ لاندې خپل افغاني دودونه او حتی خپل دین له لاسه ورکړی دی د ځینو یې پخواني دودونه او ځینې پښتو او یا عربي ټکي او جملې اوس هم په یاد دي. اوس هم له یو بل سره مینه لري او حتی په خبره کې له نورو تور پوستو او یا سپین پوستو څخه یې توپیر کېږي.
اوس نژدې څلوېښت یا پنځوس کاله کېږي، چې دا خلک او د دوی اوښان خلکو هېر کړي چې یو وخت به یې د وحشي ښارویو په توګه خلکو ښکار کاوه، خو اوس په استرالیا کې له ارزښتناکه ښارویو څخه دي. د استرالیا مرکزي برخو ته د زیات شمېر سیلانیانو د ورتګ له امله اوس د اوښانو اهلي کولو او ساتنې ته بیا پاملرنه اړول شوې ده. د اوښانو ځغلولو او داسې نورې لوبې اوس په مرکزي استرالیا کې عمومیت مومي او زیات شمېر کورني او بهرني سیلانیان یې له لیدلو سره مینه ښیي. اوس اوس استرالیا د نړۍ یوازینی هېواد دی چې په بېدیاوو کې یې اوښان په آزاد او وحشي ډول ژوند لري. د روغتیا او جنسیت له پلوه هم د استرالیا اوښان د

نړۍ د ټولو هېوادونو په پرتلې ډېر ښه دي. د يوه اټکل له مخې چې په استراليا کې د اوښانو شمېر ۵۰۰ زرو ته رسېږي، په دې وروستيو کلونو کې ځينو هېوادونو يې له پېرودلو او واردولو سره هم مينه ښودلې ده، د مثال په توګه د ۲۰۰۲ کال د جون په مياشت کې ۱۱۸ اوښان په سعودي عربستان کې خرڅ شول.

نن سربيره پر دې چې ژوندي اوښان منځني ختيز او شمالي افريقا ته صادرېږي، د هغو له غوښې څخه په استراليا کې د ننه هم ګټه اخيستل پيل شوي دي. د اوښانو له غوښې څخه په خاص ډول د سپيانو او نورو ځناورو د خوړو په برابرولو کې زيات کار اخيستل کېږي.

وروستيو کلونو کې څه ناڅه پاملرنه د اوښانو د چلوونکو په لور هم اړول شوې ده او اوس لږ څه د استراليا خلک د استراليا په تاريخ کې د دوی په ونډې پوهېدلي دي او د استراليا په ځينو کوچنيو مرکزي ښارونو کې يو شمېر آبدې د دوی په وياړ جوړې شوې دي. د اديلايد Adelaide او پرت Perth جامع جوماتونه چې دوی جوړ کړي وو، اوس هم په دې ايالتونو کې د اسلام د مقدس دين د خپرېدو لپاره لوی مرکزونه دي. د اليس سپرنګز Alice Springs په ښار کې چې د استراليا په مرکزي برخه کې پروت دی، د ښار ځينې برخې او واټونه يې د پخوانيو افغانانو په نومونو يادې شوې دي، خو له افغانانو څخه تر ټولو مهم پاتې شوی اثر د ګان Ghan په نامه د اورګاډو هغه پټلۍ ده چې د جنوبي استراليا له شمال څخه د دغه هېواد تر مرکزي برخو پورې غزېدلې ده او پخوا د افغان اکسپريس (Afghan Express) په نامه يادېده. د اوسپنې دا پټلۍ همدا اوس هم د اديلايد او اليس سپرنګز ښارونه سره نښلوي او د ګان Ghan په نامه چې د افغان Afghan لنډه شوې بڼه ده يادېږي. د اورګاډي دا پټلۍ چې د ۲۰۰۴ کال د فبروري په مياشت کې پرانستل شوې او د استراليا په جنوب کې د اديلايد ښار، په شمال کې د داروين له ښار سره نښلوي بيا هم د ګان Ghan په نامه يادېږي. د اورګاډو دا پټلۍ سيلانيانو ته د هغه په اهميت سربېره د مالونو

او مسافرو په وړلو راوړلو کې ډېر زيات اهميت لري. په مري Marree کې د افغانانو اولادونه ژوند کوي. په کلي کې هغه دوکان چې پخوا د افغانانو لخوا چلېده، تر اوسه پورې د همدې افغانانو لخوا چې د موسی خان بلوچ لور ده چلېږي او په ښارګوټي کې تر ټولو لوی دوکان دی. استراليايي مشهورې ليکوالې کرستين ستيونز چې د دې دوکان خاونده زيني خان Zainie Khan يې ليدلې وه، وايي چې دا مېرمن چې ناروغه هم وه، د خپلو پلرونو په شان مېلمه پاله او د پښتني پت او عزت لرونکې مېرمن وه، خوله يې له خندا ډکه وه او تل به يې ټوکې کولې. د هغې يو ورور او يوې خور هم د ېته نژدې ژوند کاوه. د هغې ورور احمد نومېده چې په ۱۹۸۵ کال کې ۸۰ کلن و او تر پايه يې واده نه و کړی. د دې د کور ترڅنګ د هغې خور فاطمه او د هغې مېړه نور محمد چې په چارلي مشهور دی ژوند کاوه. کرستين ستيونز چې چارلي ليدلی و، وايي چې هغه ډېره ښه حافظه درلوده او ټولې پخوانۍ کيسې يې په ياد وې. د يادولو وړ ده چې په مري کې استوګن دوېم نسل افغانان اوس هم د خوګ د غوښې له خوړلو او د الکولو څښلو څخه ډډه کوي، حال دا چې د دوی په درېيم او څلورم نسل کې د الکولو څښل عام دي. د افغانانو دوېم نسل که څېرې پاتې وي، په زيات شمېر کې اوس هم روژه نيسي، د قرآن شريف په ځينو سورتونو پوهېږي او د مړينې په صورت کې د اسلام په دود ښخېږي. په مري کې د هغه ځای جومات د سيمې د تاريخي ټولنې لخوا چې د ملا عاصم خان لمسۍ يې مشره ده، د يوې تاريخي ودانۍ په توګه ساتل کېږي.

په استراليا کې د افغانانو کلي د اورګاډو د پټليو په اوږدو کې د اورګاډو د سټېشنونو ترڅنګ جوړ شوي و؛ ځکه د دوی دنده د مالونو وړل راوړل و، حتی کله چې د اوښانو کاروبار هم په ختمېدو شو، دوی د اورګاډو په سټېشنونو کې د کارکوونکو په توګه دندې غوره کړې، کوم چې د دوی د استوګنې ځايونو ته نژدې وو. په ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ کلونو کې هم په تېره بيا د مرکزي استراليا د اورګاډو په زياتو سټېشنونو کې کارګران د افغانانو

زامن او اولادونه وو. دوی د مالونو او بارونو په بنکته پورته کولو کې په زیاتو تجربو سربېره، له فزیکي او جسمي پلوه هم د دې کار وړتیا درلوده. وایي چې یو افغان حتی کله چې ۹۰ کلن هم و، په یو ستېشن کې د کارګر په توګه کار کاوه او پخپل کار کې به هم له ځوانانو څه ببرته نه پاتې کېده. همداشان له موټرونو څخه د ګټې اخیستلو په رواج سره ځینو افغانانو د موټرونو د چلوونکو په توګه کار پیل کړ. دوی به د استرالیا په مرکزي برخه کې په هماغه لارو تګ راتګ کاوه چې یو وخت د دوی پلرونو او نیکونو په اوښانو وربانديې مزلونه کړي وو. د موټرونو او د ترانسپورتي کمپنیو خاوندان په زیات شمېر کې اروپایي استرالیایان وو؛ ځکه چې زیات شمېر افغانانو د موټرونو د پېرودلو توان نه درلود، خو سره له دې هم ځینې افغانان وو چې د موټرونو خاوندان وو، د مثال په توګه صالح محمد چې الیس سپرنګز Alice Springs او عبدل فیض الله چې په بروکن هل Broken Hill کې یې ځانونو ته د موټرونو کاروبار برابر کړی و. عبدل د ملا فیض الله چې ۱۲ بچیان یې لرل زوی و. پخپله ملا فیض الله دیني زده کړه نه درلوده، خو څرنګه چې د بروکن هل په جومات کې افغانانو ملا او امام نه درلود؛ ځکه نو دا دنده ده ته ورو سپارل شوه او کله چې ملا فیض الله مړ شو، نو دا دنده د ده مشر زوی عبدل ته وسپارل شوه، خو کله چې ده د موټرو کاروبار پیل کړ او کله ناکله به د زیاتې مودې لپاره له بروکن هل څخه لرې اوسېده؛ ځکه نو د جومات د امامت دنده ور څخه پاتې شوه. له دې سره جوخت له بروکن هل څخه د نورو افغانانو کډه کول هم پیل شول او جومات هم چې په ۱۹۲۱ کال ملا فیض الله مړ شو، نو د جنازې د لمانځه د ورکولو لپاره یې په کلي کې امام هم ونه موندل شو او د هغه یو ملګری چې مسیحي و، د هغه لپاره دعا او فاتحه وکړه. تر هغه وروسته هم چې هر کله به د افغانانو له اولادونو څخه څوک مړه کېدل، نو د مسیحي ملایانو لخوا د افغانانو په هدیره کې ښخېدل.

په افغانانو کې د دوی وروستی مشر صالح محمد نومېده، چې د ګل محمد زوی و او مور یې فرانسوی وه. د صالح پلار په ۱۸۹۷ کال له کندهار څخه جنوبي استرالیا ته راغی او په پورت اګستا Port Augusta کې دېره شو. په هماغه ځای کې یې اوښان چلول چې له یوې فرانسوي نجلۍ سره اشنا شو، وروسته بیا کله چې دې نجلۍ د اسلام دین ومانه له هغې سره یې واده وکړ، څو میاشتې وروسته دوی لویدیزې استرالیا ته کډه وکړه.


صالح محمد په الیس سپرنګز کې ۱۹۷۹ کال

صالح محمد په ۱۹۱۱ کال د لوېدیزې استرالیا په کالګورلي Kalgoorlie نومې ځای کې وزېږېد، هغه وخت په لوېدیزې استرالیا کې د افغانانو کاروبار ښه روان وو او دوی ته زیاته اړتیا لیدل کېده. د هغه پلار چې څه پیسې یې سپما کړې وې، په ۱۹۲۳ کال بېرته جنوبي استرالیا ته راغی او د ځان لپاره یې د اوښانو د کاروبار بندوبست وکړ. دا وخت صالح ۱۲ کلن و، خو بیا به یې هم له خپل پلار سره د اوښانو په چلولو کې مرسته کوله. دوی به پخپلو اوښانو فلزي شیان، ساختماني مواد، لرګي، خوراکي مواد او نور د اړتیا وړ سامانونه د استرالیا مرکزي برخو ته رسول او په راستنېدو کې به یې وړۍ او د سیمې ځینې نور تولیدات بندرونو ته رسول. هره ورځ به یې له ۱۸ څخه تر ۲۰ ساعتونو پورې مزل کاوه، د سهار په څلور بجو به یې سفر پیل شو او پرته له هر ډول ځنډ څخه به یې تر شپې پورې مزل کاوه. یوازیني شیان چې دوی یې له وړلو څخه ډډه کوله، شراب او د خوګ غوښه وه. دا شیان به اروپایانو په پټه پر دوی له یو ځای څخه بل ځای ته وړل. صالح پخپل کور کې په پښتو ژبه خبرې کولې، خو انګرېزي ژبه یې هم زده وه؛ ځکه نو په اووه کلنۍ کې ښوونځي ته ولاړ، خو په ښوونځي کې د

سپین پوستو شاګردانو او حتی زیاتو ښوونکو له تعصب څخه ډک چلند دی څوراوه؛ ځکه ټولو به په ده پورې ملنډې وهلې. صالح محمد به تل دا ویل چې د ده ښه په یاد دي چې یو ښوونکي به هر وخت د ده په مخ کې شاګردانو ته ویل چې مسلمانان ډېر ناولي خلک دي؛ ځکه دوی په ژوند کې دوه ځله ځانونه وینځي یو ځل کله چې وزېږي او بل ځل کله چې مړ شي، خو صالح به د دې ټولو ناخوالو په مقابل کې هېڅ عکس العمل نه ښوده او هغه یوازې له دې امله چې ده ته دده پلار ویلي وو چې باید د استادانو احترام وکړي او د شاګردانو خو به ځکه خیال ساتي چې هغوی سپین پوستي دي او د دوی درناوی لازم دی، دا ځکه چې دا د هماغه وخت قانون و او د ټولو اقلیتونو پر وګړو باندې منل شوی و.

دده مشر ورور چې وروسته بیا مړ شو، شېر علي نومیده. صالح محمد چې لومړی یې فارینا Farina ته نژدې د اورګاډي یو سټېشن په اجاره اخیستی و. وروسته بیا مرکزي استرالیا ته ولاړ او هلته یې د موټرونو کاروبار پیل کړ. په۱۹۴۷کال یې له یوې استرالیایي مېرمنې سره چې ایرس (Iris) نومېده واده وکړ. وایي چې د دوی د واده مراسم په یوه ورځ د ادیلاید په جومات او همداشان د هغه ترڅنګه په یوې کلیسا دواړو کې تر سره شول. دی له هغو افغانانو څخه و چې د ژوند تر پایه پخپله عقیده ټینګ مسلمان پاتې شو. صالح محمد او د ده پلار ګل محمد تل د ادیلاید د جومات پالنه کوله او زکاتونه، خیراتونه او صدقې به یې ورکولې. وایي چې صالح محمد تر۱۹۵۰کلونو پورې چې یو شمېر نور مسلمانان د بالکان له هېوادونو څخه دې ښار ته را ورسېدل د ادیلاید دجومات پالنه کوله. صالح محمد د مشهور افغاني طبیب محمد علم ډېر نژدې ملګری و چې د محمد علم د جنازې لمونځ هم د صالح محمد په امامت تر سره شو. وروسته بیا دی په الیس سپرنګز Alice Springs کې د افغانانو مذهبي مشر شو او د استرالیا په مرکزي برخه کې د نژدې درې سوه افغانانو مشري ور په غاړه شوه. په۱۹۷۰کلونو کې یې هڅه وکړه چې یو جومات هم په الیس سپرنګز

کې ودان کړي، خو د پیسو د نشتوالي له امله یې دا هیله تر سره نه شوه. په ۱۹۷۵کال کله چې په الیس سپرنګز کې د یوې کوچنۍ ترانسپورتي کمپنۍ خاوند و ، له کانبیرا Canberra څخه یې یو ټیلیفون تر لاسه کړ. په ټیلیفون کې د استرالیا د حکومت یو لوړ رتبه غړي له صالح محمد څخه چې هغه وخت په ټوله استرالیا کې د افغانانو مذهبي مشر بلل کېده، وغوښتل تر څو د استرالیا د حکومت په نمایندګۍ څو اوښان د تحفې په ډول د سعودي عربستان پاچا ملک فیصل ته ورسوي. وایي پخوا تر دې چې صالح محمد ته دا دنده ور وسپارل شي، د استرالیا حکومت مامورین الیس سپرنګز ته ورغلي او د ده ځارنه یې هم د لمانځه د اداء کولو په وخت کړې وه، حتی تردې چې د ده عکسونه یې هم د لمانځه د اداء کولو په وخت اخیستي وو. صالح محمد ته د ده دې بریالي ماموریت لپاره پیسې ورنکړل شوې، خو دی د مېلمه په توګه په سعودي عربستان کې پاتې شو او استرالیا ته د بېرته راتلو پر مهال ورته د حج د ادا کولو زمینه برابره شوه. صالح محمد دا څلور اوښان پخپله له بېدیاوو څخه رانیولي وو. اوښان په الیس سپرنګز کې د ډاکټرانو تر کتنو وروسته په بېړۍ کې د سعودي عربستان پر لور وخوځول شول، خو کله چې صالح محمد ریاض ته ورسېد ، د سعودي پاچا ملک فیصل وژل شوی او د هغه پر ځای ملک خالد پر تخت ناست و. څلور استرالیایي اوښان (له هغو څخه د نسل د اخیستلو او په مسابقو کې د ګډون په مقصد ) د شاهي کورنۍ له څارویو سره وساتل شول. صالح محمد په الوتکه کې مدینې منورې ته او له هغه وروسته د حج د ادا کولو لپاره مکې معظمې ته یوړل شو. دلته په استرالیا کې افغانان د حکومت په دې کار چې یو افغان یې سعودي عربستان ته د دې تحفې د رسولو لپاره ټاکلی و هک حیران وو؛ ځکه چې تر دې پخوا دوی ته په استرالیا کې د پردیو په سترګو کتل کېدل او حتی خلکو له دوی څخه کرکه کوله. استرالیا ته په راتګ سره صالح محمد خپل موټرونه خرڅ کړل او بیا یې د اوښانو کاروبار ته مخه کړه؛ ځکه چې د اوښانو اهمیت مخصوصاً د توریزم په برخه کې ورځ

په ورځ مخ په زیاتېدو و. ده یو زیات شمېر اوښان له ببدیاوو څخه په الیس سپرنګز او کنبیرا کې د ګرځندوی د دوو موسسو لپاره ونیول او د هغو په روزلو او سمبالولو کې یې له دوی سره مرسته وکړه او په دې برخه کې یې زیات کسان وروزل.

په هغو کسانو کې چې د اوښانو د روزنې او پالنې په هکله یې له ده څخه زده کړه کوله یوه ښځه هم وه، چې روبین دیوید سن Robyn Davidson نومېده. روبین چې ۲۵ کلنه وه او پخوا د Brisbane په پوهنتون کې محصله وه، په ۱۹۷۵ کال الیس سپرنګز ته راغله. دې غوښتل چې له اوښانو څخه په ګټې اخیستلو سره په یوازې ډول د Gibson له ببدیاو څخه په تېرېدو ځان د هند سمندر ته ورسوي. روبین د ۱۵ میاشتو لپاره په الیس سپرنګز کې پاتې شوه او د اوښانو د روزنې او سمبالولو زده کړه یې له صالح محمد څخه وکړه. صالح محمد په ۱۹۸۳ کال په حق ورسېد. وایي چې د ادیلاید له جوماتونو څخه یو ملا د ده د جنازې د لمانځه د ادا کولو او د ښخولو د مراسمو د تر سره کولو لپاره الیس سپرنګز ته ورغلی و. په جنوبي استرالیا کې اسلامي ټولنې د دې ځای جوماتونو او اسلام ته د ده د خدمتونو د درناوي په توګه د ده د ښخولو د مراسمو ټول لګښت منلی و. وایي چې د ده د مړینې له امله د خواخوږۍ پیغامونه او تلګرامونه د اسلامي نړۍ له ګوټ ګوټ څخه الیس سپرنګز ته را رسېدلي وو.

د مایکل سیګلر Michael Cigler په نامه استرالیایي لیکوال وایي چې کله په ۱۹۷۹ کال ما له صالح محمد سره وکتل، نو زه په دې پوه شوم چې دی خورمه پوه انسان دی، خصوصاً د اسلام په هکله خورمه زیات معلومات لري.

**اوښان په اوسنۍ استراليا کې:**

په نولسمې پېړۍ کې اوښان د امريکا د متحده اياالتونو وچو سيمو ته راوړل شول، خو له تکساس څخه تر کليفورنيا پورې د اوښانو له کاروانونو څخه د ګټې اخيستلو پلان له ناکامۍ سره مخامخ شو. د ۱۸۹۰ لسيزې په کلونو کې د Edmund Mtchell په نامه يو امريکايي استراليا ته راغی، چې په استراليا کې له اوښانو څخه د ګټې اخيستلو د بريالي پروګرام په هکله معلومات تر لاسه کړي. هغه د دې مقصد لپاره په استراليا کې د ننه زيات سفرونه وکړل. د نوموړي په نظر په استراليا کې له اوښانو څخه په بريالي ډول د ګټې اخيستنې يو علت هغه مناسب حالات وو چې د اوښانو د واردولو په هکله هغه هېواد درلودل؛ البته بل علت يې په بريالي ډول د هغو پالنه او ساتنه وه. استراليا ته اوښان د هغو له تجربه لرونکو او فني چلوونکو سره يو ځای وارد شول، حال دا چې په امريکا کې له اوښانو سره چلوونکي ملګري نه وو. په دې سربېره د اقتصاد د دې برخې اداره چې په موثره توګه تر سره شوه او په پای کې هم د استراليا په بېدياوو کې اوښانو ته زياته اړتيا ليدل کېده؛ ځکه چې دا يوازينۍ ترانسپورتي وسيله وه. نن سبا دا اوښان د استراليا په بېدياوو کې خوشې دي او شمېر يې هم ورځ په ورځ زياتېږي. د يو اټکل له مخې د دې اوښانو شمېر اوس پنځه سوه زرو ته رسېږي، سره له دې چې دا اوښان پرته له کوم څښتنه په بېدياوو کې څري، خو بيا هم د روغتيايي حالاتو له پلوه ممتاز دي. وايي د ۱۹۵۰ کال په لسيزه کې به اوښان (هر اوښ د يو پونډ په بدله کې) ويشتل کېدل. په هماغه کلونو کې د دې اوښانو يو شمېر له بېدياوو څخه ونيول شول او د امريکې د کلفورنيا په ژوبڼ کې د ساتلو په مقصد هغه هېواد ته ولېږدول شول. په ۱۹۷۱ کال د اليس سپرنګز ځينو اوسېدونکو يو شمېر اوښان ونيول، چې د دې ښار په کلنيو نندارو او مېلو کې ورځخه ګټه واخلي. ځرنګه چې زياتو محلي خلکو په تېره بيا سيلانيانو د اوښانو له نندارو سره مينه وښودله؛ ځکه نو په اليس سپرنګز کې د اوښانو د ځغاستې کلنۍ مسابقې را منځته

شوي. د بېته ورته لوبې په ۱۹۷۷ کال په کولګاردي Coolgardie کې هم تر سره شوې. وايي چې په پخوا زمانو کې به افغانانو هم دې ته ورته لوبې په همدې ځای کې تر سره کولې. د افغانانو لخوا دا لوبې چې په هغه وخت کې يې زيات نندارچيان درلودل، په ۱۹۰۵ کال د وروستي ځل لپاره ترسره شوې. په ۱۹۷۷ کال د کولګاردي لوبه په خندا پای ته ورسېده او ګټونکی يې نه درلود ؛ دا ځکه چې کله اوښان د مسابقې د پای ليکې ته نژدې شول، له کټونکو او نندارچيانو څخه يو تن په لوړ اواز د «اوشته» غږ پورته کړ چې دا د اوښانو لپاره د درېدو او په زنګون د ښکته کېدو اشاره وه، ټول اوښان ودرېدل او په زنګنو ښکته شول؛ ځکه نو د مسابقې ګټونکی ونه پېژندل شو.

نن سبا هر کال په کولګاردي کې د اوښانو د ځغاستې لوبې ترسره کېږي. وايي چې کولګاردي ته ورته يوه پېښه په ۱۹۲۰ کال په اليس سپرنګز کې هم شوې وه. هغه وخت يو عېسوي ملا چې په اوښ سپور و، د کلي خلکو ته چې ټول ولاړ وو ديني وعظ کاوه. له ولاړو خلکو څخه کوم يو چې اوښ ته نژدې ولاړ و په ټيټ آواز «اوشته» غږ کړ او اوښ چې ملا وربانديې سپور و په زنګنو راښکته شو.

اوس اوس په اليس سپرنګز او کولګاردي کې زيات شمېر اوښان په مسابقو کې د ګډون او همداشان د سيلانيانو لپاره تر ساتنې لاندې دي، په دې توپير چې د اوښانو روزونکي او پالونکي نور نو هغه پخواني افغانان نه دي، دا هغه نور استراليايان دي چې د کاروبار د موندلو په لټه کې يې اوښانو او د اوښانو ساتنې او پالنې ته مخه شوې ده. له ۱۹۸۸ کال څخه وروسته چې د استراليا دوه سومه کاليزه وه، دې صنعت ته نور هم پاملرنه را واړول شوه او د سيلانيانو لپاره د اوښانو د تګ راتګ نورې لارې هم په ګوته شوې.

داسې ښکاري چې استراليا به په راتلونکي کې په نړۍ کې د اوښانو د صادرولو لوی هېواد وي. په منځنی ختيز او شمالي افريقا کې زياتو

هېوادونو د استراليا له اوښانو سره مينه ښودلې ده، خو له دې بازارونو څخه د استراليا لرېوالی په دې برخه کې لوی خنډ بلل کېږي. د ۱۹۸۵ کال په وروستيو شپو ورځو کې چې په پاريس کې د استراليا د يو تجارتي هيئت او د مراکش د حکومت تر منځ خبرې اترې روانې وې، د شمالي افريقا دې هېواد تـه د استراليا د اوښانو د صادرولو غوښتنه هم وشوه. د مراکش حکومت تياري وښودله چې د استراليا حکومت ته د هر اوښ د بيې په توګه (۱۵۰۰) استراليايي ډالره ورکړي. په هماغه کال د څارويو يو استراليايي محقق او د څارويو ډاکتر چې له ختيزې افريقا څخه يې ليدنه کوله، د افريقا ټولو هغو سيمو ته چې وچکالۍ ځپلې وې، د استراليا د اوښانو د لېږلو وړانديز وړاندې کړ، خو د بيې د زياتوالي له امله افريقا او مراکش ته د اوښانو د صادرولو وړانديز عملي نه شو؛ ځکه چې په سودان کې روزل شوي اوښان د دوه سوه يا درې سوه استراليايي ډالرو په بيه د مراکش بازارونو ته وړاندې شول. په دې وروستيو کې يو زيات شمېر استراليايي اوښان په ژوبڼونو او سرکسونو کې د ګټې اخيستلو لپاره امريکا ته صادر شوي دي. څرنګه چې دا اوښان په الوتکو کې امريکا ته لېږدول شوي وو؛ ځکه نو د هر اوښ لپاره لګښت درې زره استراليايي ډالرو ته رسېدلی و، خو څرنګه چې پخوا هم وويل شول، د ۲۰۰۲ کال د جون په مياشت کې له سلو څخه زيات استراليايي اوښان په سعودي عربستان کې وپلورل شول.
لنډه دا چې نن سبا اوښان بيا د هغو څارويو په توګه چې يو وخت له هغو څخه د استراليا د مرکزي برخو په هکله په پلټنو او څېړنو کې کار اخيستل کېده، اوس يو ځل بيا د پاملرنې وړ ګرځېدلي دي، خو د اوښانو چلوونکي افغانان چې د استراليا په سوځنده ببديا وو کې يې کلونه کلونه مزلونه وهل او هر ډول زيارونه به يې ګالل له هېره وتلي. يوازې د اليس سپرنګز د اورګاډي د سټېشن ترخنګ د يو افغان او د هغه د اوښ مجسمه ليدل کېږي چې له ژېړو (Bronze) څخه جوړه شوې ده چې د افغانانو، د هغو د اوښانو او د اورګاډي د هغه سټېشن چې د دوی په نامه ياد ېږي يادونه ژوندي

ساتي. هغه پخوانی اورګاډی هم چې د افغانانو په نامه یادېږي د ښار په یو ګوټ کې د Ghan Preservation Society لخوا ساتل کېږي او زیات سیلانیان یې لیدنې ته ورځي. په Port Augusta کې هم د افغانانو په ویاړ یوه لوحه ځړول شوې ده. د استرالیا د مرکزي برخې په زیاتو موزیمونو کې هم له افغانانو څخه پاتې کالي او نور شیان ساتل کېږي. همداشان د استرالیا په ځینو مرکزي سیمو کې یو شمېر ځایونه هم د هغو افغانانو په نومونو یادېږي چې له لومړنیو څېړونکو سره یې په دې سیمو کې زیارونه ګاللي دي. په دې لړ کې د بیجا غونډۍ Bejah Hill په لوېدیزه استرالیا کې، د حلیم غونډۍ په شمالي منطقه کې، د صالح چینې په شمالي منطقه کې، د صالح د کب نیولو ډنډونه په لوېدیزه استرالیا کې، د الانه غونډۍ Allanah Hill او د کامران څاه په شمالي منطقه کې د یادونې وړ دي.
همداشان الیس سپرنګز ته نژدې یو شمېر غونډۍ شته چې د سعدالدین (Saddadeen Range) په نامه یادېږي. سعدالدین هغه افغان و چې په سیمه کې د سرو زرو له کانونو څخه د ګټې اخیستلو په زمانه کې به یې د اودناداتا Oodnadatta له ګودامونو څخه مالونه د سرو زرو د کانونو سیمو ته د الیس سپرنګز په شمال کې رسول او هره ورځ به له همدې غونډیو څخه تېرېده. هغه وروسته بیا همدلته په الیس سپرنګز کې د ېره شو. په دې وروستیو کې یو ښوونځی هم د ده په نوم نومول شوی دی. همداشان د الیس سپرنګز د ښار یوه برخه هم د ده په نوم یادېږي. په الیس سپرنګز کې زیاتې نورې ودانۍ او کوڅې هم شته چې د پخوانیو افغانانو په نومونو یادېږي، لکه د محمد کور Mahomet House، د خان کور Khan House، د محمد کوڅه Mahomet Street (د پیر محمد په ویاړ کوم چې د لومړنیو افغانانو څخه و چې مرکزي استرالیا ته راغی)، د خالق کوڅه Kharlic Street (د عبدالخالق په نامه د یو بل افغان په ویاړ) او د افغان سړک Ghan Road.
له نورو هغو شیانو څخه چې له افغانانو څخه پاتې دي، یو ډول واښه دي چې اوس یې په مرکزي استرالیا کې پراخه سیمه نیولې ده. افغانانو به له

دي وښو څخه د اوښانو د څرولو او مخصوصاً د اوښانو د کتو (Saddles) په جوړولو کې کار اخيستنه. وروسته بيا نورو استراليايانو هم خپلو څارويو ته د دې وښو ورکول پيل کړل ځکه يې نو زيات رواج وموند.
د خرماوو د ونو زړي د ځنګلونو د پراختيا د څانګې لخوا له سعودي عربستان څخه جنوبي استراليا ته راوړل شول او د ۱۸۸۰ کال په لسيزه کې يې کرنه په تجربوي ډول پيل شوه. داسې وايي چې د خرماوو د ونو کرنه لومړی د افغانانو لخوا پيل شوه او وروسته هم کله چې د حکومت لخوا د دې ونو د رواجولو پروژه له ناکامۍ سره مخامخ شوه، افغانانو د دې ونو کرنې ته دوام ورکړ.
د کرستين ستيونز په وينا، که څه هم د دې افغانانو بچيان او لمسيان اوس هم حياناکه، محافظه کاره او د جلا ژوند خوښونکي دي، خو بيا هم په ځينو سيمو کې له دوی سره تبعيضي چلند کېږي، خو هغه څه چې دوی په پوره باور ورباندې وياړي د دوی پخوانی ميراث او د دوی پلرونه او نيکونه دي، چې د ژوند له ټولو ناخوالو سره سره يې په پوره مېړانې او عزت په دې هېواد کې ژوند کړی او له وياړه ډکې کارنامې يې دوی ته په ميراث پاتې دي.
په استراليا کې د افغانانو هېر شويو خدمتونو ته يو بل استراليايي ليکوال په دې وروستيو کې د صالح محمد هغه ماموريت په هکله چې څلور اوښان يې د استراليا د حکومت په نمايندګۍ د سعودي عربستان پاچا ته د تحفې په توګه رسولي او په دې توګه يې د استراليا او سعودي عربستان ترمنځ د ښو اړيکو ټينګېدو ته زمينه برابره کړې وه، داسې ليکلي دي: «صالح محمد په ۱۹۸۳ کال او څو کاله وروسته تر هغې چې زما او د ده لومړنۍ ليدنه شوې وه وفات شو. زه له ده سره په خبرو کې د ده له ادب څخه د ډکو خبرو او له محبت او صميميت څخه د ډکو کړو وړو تر اغېزې لاندې راغلم.
له ده سره په خبرو کې په دې ډېر ژر پوه شوم چې زه د استراليا د افغانانو د ګوتو په شمېر پاتې کسانو له يو شخصيت سره خبرې کوم، چې د استراليا د

تاریخ یوه مهمه ژوندۍ کړۍ يې بللی شو. له بده مرغه چې د صالح محمد ، د
ده د پلار او د دوی په شان په زرګونو نورو افغانانو هغه ونډه چې دوی د
۱۸۶۰ لسیزې څخه را په دېخوا د استرالیا په پرمختګ کې لرلې، یا خو
ښېخي هېره شوې او که هسې نه وي، نو درناوی خو يې هېڅکله هم نه دی
شوی. ما کله چې د استرالیا په ښوونځیو کې زده کړه کوله، هېڅکله هم د
هغه مهم رول په هکله چې دې با غروره مسلمانانو افغانانو لوبولی، نه څه
اورېدلي او نه څه لوستلي وو. زیاتو استرالیایانو د دوی په اړه هېڅ نه دي
اورېدلي او دا د هغه ناوړه تعصب له امله ده چې تر دې وروستیو پورې
اروپایانو د نورو په مقابل کې درلود.
په استرالیا کې د ښوونځیو هر زده کوونکی د ۱۸۶۰ کال د Burke او
Wills د تحقیقاتي سفرونو په هکله چې په مرکزي استرالیا کې يې سرته
ورسول څه ناڅه پوهېږي. دوی په دې هم ښه پوهېږي چې اوښان په خاص
ډول د همدې څېړنو د سرته رسولو لپاره راوړل شوي وو او که اوښان نه وای
نو دا ډول څېړنې به تر زیاتو کلونو پورې سرته رسېدلي نه وای، خو په دې
اړه چې همدا اوښان د دوست محمد او احسان خان دوه تنو افغانانو لخوا
چلېدل، حتی ډېر صادقه تاریخ پوهان هم پرې چوپه خوله پاتې دي.
همدا شان Thomas Elder توماس ایلډر، د ده د هغه زیارونو له امله چې
استرالیا ته يې د اوښانو په راوړلو کې ګاللي وو، په ۱۸۷۲ کال د قهرمانۍ
لقب تر لاسه کړ، خو هغه وفاداره افغانان چې دا اوښان يې ساتل او ځینو يې
لکه دوست محمد خپل ژوند هم په دې لاره کې له لاسه ورکړی و، چا یاد هم
نکړل. دا یادونه په دې معنا نه ده چې ګویا د افغانانو په هکله به څه لیکل
شوي نه وي. د استرالیا د هغه وخت په مجلو، راپورونو او نورو خپرونو کې
ډېر څه د افغانانو، د دوی د افغاني او اسلامي دودونو، زړورتیا، صداقت
او وفادارۍ په باب خپاره شول او زیاتو څېړونکو چې له دوی سره په
سفرونو کې ملګري وو، د دوی د خدمتونو او دا چې څرنګه يې په زیاتو
حالاتو کې د دوی ژوند ژغورلی و، پخپلو راپورونو کې یادونه کړې وه،

خو له دې ټولو سره سره په رسمي توګه د دوی د خدمتونو څرنګه چې ښايي قدرداني ونه شوه.
دوی ټول عمر په دې هېواد کې زيارونه وګالل. دوی خو لا څه چې حتی د دوی بچيان هم د دې هېواد د تابعيت د پاڼې په اخيستلو بريالي نه شول. په هر حال، دلته په استراليا کې حتی تر اوسه هم ډېرې نښې پاتې دي چې په چوپه خوله د دې مېړنيو افغانانو د سربښندنو، زيارونو، رښتينوليو، صفا او صميميت شاهدي ورکوي.»

***

# د افغانانو کلتوري انحلال

له یو ځای څخه بل ځای ته د خلکو کډه کېدل د کډوالو په منونکي هېواد او پر هغه هېواد چې دا ډول کډوال یې له لاسه ورکړي دي، پر دواړو زیات اثر پرېږدي. دا ډول اغېزې له هر پلوه پخپله پر کډوالو هم د یادونې وړ وي. یو شی چې کډوال یې هرومرو له ځانونو سره نوي هېواد یا چاپېریال ته وړي، د دوی کلتوري مشخصات دي چې البته په منونکي یا مېلمه پال هېواد کې له شته کلتور سره چې لږ یا زیات ورسره توپیر لري مخامخ کېږي. هر څومره چې د دې دوه کلتورونو ترمنځ توپیر زیات وي، په هماغه اندازې د دواړو له تصادم څخه لاسته راغلې نتیجې هم د یادونې وړ وي. په هر حالت کې به کډوال مجبور وي چې یا د مېشته خلکو کلتور کې مدغم شي (Assimilation) یا خپل کلتور کې مدغم وساتي او له مېشته خلکو څخه جلا پاتې شي (Isolation) او یا خپل کلتوري مشخصات څه وساتي او څه له لاسه ورکړي او په دې توګه له کلتوري پلوه له مېشته خلکو سره تطابق وکړي (Adaptation).

د نولسمې پېړۍ افغانان هم کله چې استرالیا ته راغلل، نو په پوره ډول له یوه پردي کلتور سره مخامخ شول؛ دا ځکه چې د دوی دین، ژبې، کالیو، دودونو او حتی نژادي مشخصاتو، لکه رنګ او څېرې له استرالیايي ټولنې څخه توپیر درلود. افغانانو په استرالیا کې د خپل ژوند انه په لومړیو زیاتو کلونو کې د کلتوري جلاوالي (Isolation) پالیسي غوره کړه، خو وروسته بیا مخصوصاً کله چې دوی له استرالیايي ټولنې څخه ودونه وکړل، د دوی بچیانو د نژدې یوې پېړۍ په موده کې په کراره سره خپل کلتوري مشخصات له لاسه ورکړل. لومړی یې کالیو، بیا یې ژبې ورپسې

یې دودونو او په پای کې یې مذهبي عقیدو بدلون وموند. هغو عواملو چې د افغانانو دې ډول کلتوري انحلال ته زمینه برابره کړه هغه ډېر زیات دي، خو موږ یې ځینو ته په لاندې ډول ګوته نیسو.

۱. تر ټولو مهم عامل چې په استرالیا کې یې د افغانانو په کلتور ناوړه اغېزه وکړه، د افغانانو په ګډون د بهرنیانو او یا غیر اروپایي کډوالو په مقابل کې د استرالیا د هغه وخت د اوسېدونکو او حکومتونو تبعیضي چلند و چې وروسته بیا د سپینې استرالیا (White Australia) د پالیسۍ په نامه یاده شوه او له ۱۹۰۱ کال څخه وروسته تر اویایمې لسیزې پورې د استرالیا حکومت د رسمي پالیسۍ په توګه پاتې شوه. د دې پالیسۍ له مخې چې لږ تر لږه تر دوهمې نړیوالې جګړې پورې په ټول شدت سره روانه وه، د ټولو غیر اروپایي خلکو په مقابل کې تبعیضي چلند روان و. د دې پالیسۍ له امله که څه هم د یوې مودې لپاره افغانان جلا پاتې شول او هڅه یې وکړه چې خپل کلتور خوندي وساتي، خو څرنګه چې د دوی کلتور ته په ښه سترګه نه کتل کېدل؛ ځکه نو د لومړي نسل افغانانو له مړینې وروسته د دوی بچیانو ډېر ژر له دې کبله چې د افغاني کلتور په ساتلو سره په ژوند کې له زیاتو ستونزو سره مخامخ وو؛ ځکه نو خپل کلتور ته یې بدلون ورکړ.

۲. یو بل مهم عامل دا و چې استرالیا ته یوازې نرینه افغانان راغلل او د دوی مېرمنې یا د کورنیو غړي ټول د دوی په اصلي ټاټوبي کې پاتې وو، دا ځکه چې نه دوی غوښتل چې خپلې کورنۍ له ځانه سره استرالیا ته راولي او نه هم د استرالیا حکومت دا اجازه ورکوله. دوی په لومړي سر کې دلته د کار لپاره راغلي وو. له دوی سره د کار درې کلن موقتي قراردادونه لاسلیک شوي وو، خو کله چې وروسته بیا دوی د زیاتې مودې لپاره دلته پاتې شول، نو د کورنیو د جوړولو په تکل کې شول. څرنګه چې له افغانستان څخه مېرمنو ته د راتګ اجازه نه ورکول کېده؛ ځکه نو ځینو یې په استرالیا کې ودونه وکړل. د زیاتو پوهانو په نظر دا ډول ودونه د کلتور د

انحلال ډېره ښه وسیله کېدای شي. د افغانانو لپاره هم دا د دوی د کلتور د له لاسه ورکولو پیل و. سره له دې چې د خپل ژوند په دوران کې دوی ډېره هڅه وکړه چې په بریالیتوب سره خپل کلتور خوندي وساتي، خو د دوی له مړیني ځخه وروسته د دوی میندو استرالیایي ټولنې ته ورکړه شول؛ ځکه نو په چټکۍ سره یې هر څه له لاسه ورکړل.

۳. په نولسمې پېړۍ کې تخنیک، مخصوصاً د مخابراتو او مواصلاتو په برخو کې د نن په شان پرمختګ کړی نه و؛ ځکه نو افغانانو له خپلو کورنیو سره د لیکونو او یا ټیلیفون له لارې هېڅ ډول اړیکې نه درلودې؛ ځکه نو کوم وخت چې د دوی د کار د قرارداد له مودې ځخه وروسته دوی خپل ټاټوبي ته ستانه نه شول، د دوی خپلوانو دوی مړه وشمېرل. د مهاجرت لړۍ دوام ونه موند؛ ځکه نو دوی د خلکو خبره له پردیو او د دوی له کلتور سره په مقابلې کې یوازې پاتې شول. ما په بروکن هل کې د شمروز په نامه د یوه افغان لور چې روزان نومېده ولیده. کله چې روزان افغانان د دوی په ملي جامو کې ولیدل، ډېره خوښه شوه او ویل یې چې له شپېتو کلونو وروسته یې د لومړي ځل لپاره بیا افغانان لیدلي دي. شپېته کاله له خپل کلتور ځخه لرې پاتې کېدل زیاته موده وه. روزان او افغانانو دواړو په دې ژړل او خپه وو ځکه چې اوس نو روزان د خپل کلتور هر څه له لاسه ورکړي وو. روزان او د دې کورنۍ اوس عیسوي دین غوره کړی و. روزان ته د خپل پلار له پښتو ژبې ځخه یوازې یوه جمله په یاد وه، خو په معنی یې هم نه پوهېده؛ ځکه چې د خپل پلار له مړیني ځخه وروسته یې له افغانانو سره اړیکې شلېدلې وې.

۴. یو بل عامل چې په دې برخه کې اغېزمن ګڼل کېدای شي، په استرالیا کې د افغانانو خوځنده او کوچیانی ژوند و. د نولسمې پېړۍ افغانان استرالیا ته له خپلو اوښانو سره راغلل. دوی به یوازې او یا په کوچنیو ډلو کې له یو ځای ځخه بل ځای ته تلل او مالونه به یې وړل یا راوړل؛ ځکه نو حتی هغه افغانان چې د مېرمنو او بچیانو خاوندان هم وو، په یو ځای کې

استوګن نه وو او کله کله به له خپلو کورنيو څخه په مياشتو لرې پاتې وو.
**۵.** يو بل نسبتاً مهم عامل په دې برخه کې دا و چې افغانان په هغه عمر کې دلته استراليا ته راغلل چې د کار وړ وو. کله چې به دوی ودونو ته برابرېدل، نو د زياتو عمر به له څلوېښتو کلونو څخه اوښتی و؛ ځکه نو د زياتو به لا بچيان کوچنيان وو چې پلرونه به يې مړه شول.
**۶.** پر دې ټولو سربېره، په استراليا کې مېشته افغانان له يوې کورنۍ، قوم يا سيمې څخه نه وو، په بل عبارت دوی پخپل منځ کې هم يو اغېزمن او منظم ټولنيز نظام نه درلود او د دوی تر منځ اړيکې هغسې چې ښايي ټينګې نه وې، سره له دې چې دوی په جلا کليو کې يو ځای ژوند کاوه او خپلې ټولې لانجې يې هم د پښتني جرګو له لارې حل کولې، په دې کې شک نشته چې افغانانو پخپله تر څو ژوندي وو خپل کلتور ټينګ وساته؛ دا ځکه چې يو خو دوی کوچيان وو او کليوالي ژوند يې درلود او بل دا چې دوی په لوړ عمر کې استراليا ته راغلي وو. زيات شمېر پوهانو د مهاجرو عمر او د دوی د تعليم درجه د کلتوري انحلال په عمليې کې له مهمو عواملو څخه ګڼلې. د دوی په نظر عمر د کلتوري انحلال له عمليې سره معکوس او د تعليم درجه ورسره مستقيم تناسب لري په دې معنی چې کوچيان او تعليم يافته مهاجر خپل کلتور ژر له لاسه ورکوي، پخپله پر افغانانو دې دواړو عواملو مثبت اثر درلود؛ ځکه له يوې خوا د دوی عمرونه د راتګ په وخت کې زيات او له بل پلوه يې د تعليم درجه ټيټه وه. حال دا چې د دوی د بچيانو لپاره شرايط پوره بل ډول شول او له همدې امله د کلتوري انحلال عمليه په هغو کې چټکه شوه.
له پورتنيو مطالبو څخه دا حقيقت په ښکاره ډول څرګند ېږي چې د نولسمې پېړۍ افغانان تر پايه پورې له استراليايي ټولنې څخه جلا پاتې شول؛ ځکه نو سره له دې چې شمېر يې زيات نه و، خو لږ تر لږه تر هغه وخته پورې چې دوی ژوندي وو، د دوی په کورنيو کې افغاني کلتور خوندي پاتې شو. د دوی مېرمنې او بچيان ټول مسلمانان وو. يو ازې په پښتو او يا لږ تر لږه په

پښتو او انګرېزي او حتی خپلو محلي ژبو غږېدل او پښتني دودونه او اسلامي مراسم يې ټول پر ځای کول. د دوی په کليو کې ژوند کټ مټ د افغانستان کليوالي ژوند ته ورته و، هر کلي يو جومات درلود، نرينه به د ورځې له پلوه په جومات کې را غونډېدل، ښځې به د مېړونو په غياب کې له کورونو څخه نه وتلې او له پرديو نرينه وو څخه به يې مخونه پټول، ټول اسلامي احکام لکه لمونځ، روژه او نور يې پر ځای کول، په اخترونو کې به يې نوې جامې اغوستې او د يو بل کورونو ته به تلل او ټولو بچيانو يې افغاني او اسلامي نومونه لرل، خو خبره داوه چې کله دوی مړه شول، نو هر څه په بدلېدو شول. د دوی مېرمنې او بچيان بېرته استراليايي ټولنې ته ورغلل؛ ځکه نو په تدريجي ډول او چټکۍ سره يې خپل ټول افغاني کلتوري خصوصيات له لاسه ورکړل. عجيبه خبره خو دا ده چې د افغانانو زيات شمېر بچيان په دوېم او حتی درېيم او څلورم نسل کې سره له دې چې خپل کلتوري خصوصيات يې هم له لاسه ورکړي، خو بيا هم پخپل افغاني نسب وياړي او درناوی يې کوي. د زياتو په نومونو کې يې همدا اوس هم د خان ټکی ليدل کېږي او حتی يو شمېر يې ځانونه مسلمانان بولي که څه هم په اسلامي احکامو نه پوهېږي. د دې کار يو عامل ممکن داوي چې د افغانانو دا بچيان د استراليا په تور پوستو پورې اړه لري. له يوې خوا د دوی يو شمېر د هغو ظلمونو له امله چې سپين پوستو پر دوی باندې زغملي له هغو څخه کرکه لري او له همدې کبله کله ناکله حتی د عېسويت د دين له منلو څخه هم ډډه کوي. له بل پلوه دوی افغاني کلتور د تورپوستو له کلتور څخه لوړ بولي ځکه نو پر هغه باندې وياړي.

لنډه دا چې که څه هم د افغانانو بچيانو خپل زيات کلتوري خصوصيات لکه ژبه، دين، جامې او دودونه هر څه له لاسه ورکړي، خو بيا هم د افغانانو ځينې ځانګړي خصوصيات په هغو کې پاتې دي چې له نورو څخه توپير لري. يوې استراليايي مېرمنې چې له افغانانو سره نژدې اړيکې لري راته وويل چې دا يو وخت له خپلو بچيانو سره په مرکزي استراليا کې د اليس

سپرنګز Alice Springs ښار ته تللې وه. وايي چې «زه د افغانانو په باب د معلوماتو د راغونډولو په هيله يوه سړي ته چې د خپل کور مخې ته په چوکۍ ناست و ورنژدې شوم او له هغه څخه مې وغوښتل چې په دې ښار کې چې پخوا د افغانانو د استوګنې لوی مرکز و، د هغوی هديره راته وښيي» دا وايي چې «له ما سره زما بچيان هم وو. نوموړي سړي موږ خوړو ته وبللو چې هر څه خواړه مو وخوړل بيا يې نو ماته وويل: راځه چې اوس د افغانانو هديره درته وښيم». په ګډه د هديرې په لور روان شولو. هغه په لاره کې له ما څخه وپوښتل چې د افغانانو هديرې ته څه کوې. ما ورته وويل چې زه له افغانانو او د دوی له تاريخ سره په استراليا کې مينه لرم. له زيات شمېر افغانانو سره پېژندګلوي لرم او اوس چې دلته راغلې يم، نو غواړم چې له وخت څخه په ګټې اخيستلو سره د دوی هديره وګورم. نوموړی سړی ډېر خوښ شو او ما ته يې ويل چې دی پخپله هم د هماغه افغانانو له بچيانو څخه دی. ما ورته وويل چې زه لا پخوا هم په دې پوه شوې وم چې دی افغان دی. هغه سړي له ما څخه وپوښتل چې څرنګه پوه شوې يم چې دی افغان دی. ما ورته وويل چې زه ستا له مېړانې او مېلمه پالنې څخه پوه شوم چې ته افغان يې؛ ځکه دا هغه خصوصيات دي چې يوازې افغانان يې لري او د استراليا په نورو وګړو کې نه ليدل کېږي.

***

# استرالیا ته د افغانانو د هجرت دویم پړاو

له ۱۹۲۰ کال څخه را وروسته، استرالیا ته د موټرو په رسېدو سره دې هېواد ته د افغانانو راتګ په ټپه ودرېد. له دې وخت څخه وروسته هغه ډله افغانان چې ځوانان وو، خو دلته په استرالیا کې ورته د کار موندل ګران وو او ودونه یې هم نه لرل، هغوی بېرته خپل هېواد ته ستانه شول، خو یو زیات شمېر افغانان کومو چې دلته خپلو ځانونو ته د مناسب کار بندوبست کړی و، یا یې دلته ودونه او بچیان لرل او یا د زیات عمر وو او له فزیکي او اقتصادي پلوه یې هېواد ته د تللو امکانات نه لرل همدلته په استرالیا کې پاتې شول، خو چې هر څه وو لږ تر لږه له دې نېټې (له ۱۹۲۰ کال) څخه وروسته د شپېتو کلونو لپاره استرالیا ته د افغانانو مهاجرت بند شو او کرار کرار هغه خلک چې پخوا دې هېواد ته تللي وو له خلکو هېر شول.
استرالیا ته د افغانانو د هجرت دویم پړاو هغه وخت پیل شو چې د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتې له خونړۍ کودتا څخه وروسته کمونستانو په افغانستان کې سیاسي قدرت تر لاسه کړ او په میلیونونو افغانان د دوی د ظلمونو او ناروا وو له امله د نورو هېوادونو په لور هجرت ته اړ شول. په دې مهاجرو کې چې شمېر یې یو وخت په پاکستان او ایران کې نژدې شپږ میلیونه اټکل شوی و، اکثریت خلک له کلیو او یو لږ شمېر له ښارونو څخه وو. ښاري مهاجرو ته په پاکستان او ایران کې ژوند د څو عواملو له امله ډېر ګران و. له ټولنیز پلوه دوی ته ګرانه وه چې د مهاجرو په کمپونو او یا کلیو کې ژوند وکړي. په ښارونو کې ژوند بیا له اقتصادي پلوه ګران و؛ ځکه لومړی خو په ښارونو کې د ملګرو ملتونو د راشن له تر لاسه کولو څخه محروم پاتې کېدل او دویم دا چې د پاکستان په ښارونو کې د ژوند

سطحه د افغانستان د ښارونو په پرتلې لوړه وه؛ ځکه نو د زيات لګښت غوښتنه يې کوله، حال دا چې د مهاجرو زيات شمېر له محدودو مالي امکاناتو سره د خپل هېواد پرېښودلو ته اړ شوي او سربېره پر دې دوی ته په پاکستان او ايران کې د کار امکانات هم ډېر محدود وو. له بل پلوه سياسي چاپېريال هم د دوی د اوسېدو لپاره مساعد نه و. قدرت تړول د بنسټپالو ډلو په لاس کې و چې د وخت له حالاتو سره سم د پاکستان او ايران او حتی لوېديزو هېوادونو حکومتونو هم ترې ملاتړ کاوه؛ ځکه نو له افغانستان څخه د ښاري مهاجرو لپاره د سياسي ژوند او فعاليت ماحول هم ډېر تنګ و. د دې تړلو محدوديتونو ترڅنګ لوېديزو هېوادونو ته د تګ راتګ امکانات ډېر زيات وو او افغانان په زياتو هېوادونو کې په ورين تندي منل کېدل او وروستی خبره يې هم دا چې د لوېديزو د شنو او سرو بڼونو د ليدلو لپاره تلوسه هم له افغانانو سره زياته وه. خلکو د دې جنتونو په هکله زيات څه اورېدلي وو؛ ځکه يې نو هلته د ورتګ لپاره امکانات لټول. لوېديز ته د تګ لړۍ لومړی په هند او پاکستان کې د مېشته مهاجرو لخوا پيل شوه، خو وروسته بيا چې د خلکو خبره نورو هېوادونو ته د ورتګ لاره خلاصه شوه، نو لوېديز ته د مهاجرت مينه والو د هر عامل له امله چې وو په هېواد کې د ننه دغه هېوادونو ته د سفر پلان جوړ کړ. خپل مالونه او جايدادونه به يې په هره بيه چې وو وپلورل او هند يا پاکستان ته به په کډه شول، ځينې خو به د جغرافيايي نږدېوالي له امله لومړی ايران ته ولاړل او له هغه ځايه به بيا پاکستان او يا هند ته چې لوېديز ته د ورتګ امکانات په کې زيات وو ورغلل او له دې هېوادونو څخه به يې بيا په لوېديز کې مطلوب هېواد ته د ورتګ په لټه کې شول. دې ډله افغانانو په هند او يا پاکستان کې اوسېدل نه غوښتل. په لومړي سر کې کله چې غرب ته د مهاجرت امکانات زيات وو، نو دا ډله خلک به د لنډې مودې لپاره په هند يا پاکستان کې پاتې شول، خو وروسته بيا چې د مهاجرو شمېر زيات او د تګ امکانات په محدودېدو شول، نو په هند يا پاکستان کې د دوی د

پاتې کېدو موده هم اوږده شوه. په دې توګه چې په وروستيو کلونو کې به دا ډول خلک حتی د کلونو لپاره بهر ته د تګ په نيت په هند يا پاکستان کې پاتې شول.
سدني ته د راغلو مهاجرو د سروې له مخې د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسيزو کې په سلو کې ۵۲ مهاجر له کمونستي رژيم سره د مخالفتونو په سلو کې ۲، ۲۲ وسله والو پوځونو ته د دوی او يا د دوی د زامنو د جلبولو، په سلو کې ۱۳ د اقتصادي کمزورتيا، په سلو کې ۵، ۱۳ د کورنۍ له غړو سره د يو ځای کېدو او پاتې نور يې د ځينو نورو عواملو له امله د هېواد پرېښودلو ته اړ شوي وو، سره له دې چې په زياتو حالاتو کې ممکن ځو علتونو د خلکو په دا ډول تېښتې کې برخې لرلې وي.
په لومړي سر کې د دې مهاجرو زيات شمېر د امريکا او اروپا پر لور وخوځېدل، خو وروسته بيا چې د دوی شمېر په زياتېدو شو، نو نورو هېوادونو ته يې هم مخه شوه. په کال ۱۹۸۰ کې په ملګرو ملتونو کې د مهاجرو عالي کمشنرۍ د استراليا په ګډون له زياتو هېوادونو څخه د افغان مهاجرو د منلو غوښتنه وکړه، د همدې غوښتنې له مخې د استراليا حکومت هم د هماغه کال د اګست په مياشت کې د افغانانو د منلو پرېکړه وکړه او استراليا ته د راتلونکو مهاجرو په کلني شمېر کې يې د افغانانو لپاره هم جلا ونډه وټاکله. سره له دې چې دا ونډه د هغه شمېر افغانانو په پرتلې چې په نورو هېوادونو لکه امريکا، جرمني او کاناډا کې ومنل شول ډېره کوچنۍ وه. له هند يا پاکستان څخه استراليا ته د مهاجرت عوامل هم زيات وو. د سدني د مهاجرو د څېړنې له مخې د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسيزو کې په سلو کې ۲، ۲۰ دا ډول مهاجر د اقتصادي عواملو له امله، په سلو کې ۵، ۱۵ په افغانستان کې د جګړې د اوږدېدو او د سولې د ټينګېدو لپاره د هيلې د له لاسه ورکولو له امله، په سلو کې ۳، ۲۳ د خپلوانو د هڅونې له امله او يوازې په سلو کې ۲، ۵ په دې هېوادونو کې د امنيت د نشتوالي له امله د پورتنيو هېوادونو پرېښودلو ته اړ شوي وو، حال دا چې په سلو کې

۲۴،۹ مهاجرو څرګنده کړه چې دوی له لومړي وخت څخه په هند یا پاکستان کې د پاتې کېدو لپاره هغو هېوادونو ته ورغلي نه وو. همدا ډله خلک وو چې د ډېرې لنډې مودې لپاره په نوموړو هېوادونو کې پاتې شول. کله چې له همدې مهاجرو څخه استرالیا ته د دوی د راتګ په هکله وپوښتل شول، نو په سلو کې ۷۲،۹ تنو یې له خپلوانو سره د یو ځای کېدو عامل وړاندې کړ، په سلو کې ۱۵،۹ تنو بیا وویل، چې دوی یوازې غوښتل چې بهر ته ولاړ شي؛ ځکه نو دا استرالیا په ټاکنه کې کوم خاص عامل د دوی په نظر کې نه و. تر منل شوي پروګرام لاندې لومړۍ ډله افغانان په ۱۹۸۰ کال او پوره شپېته کاله وروسته له هغه وخت څخه چې استرالیا ته د افغانانو مهاجرت په ټپه درېدلی وو استرالیا ته راغلل، شک نشته چې له دوی څخه پخواهم څو تنه افغانان د کولمبو د پلان تر پروګرام لاندې، چې افغانستان او استرالیا یې غړیتوب درلود، د انګرېزي ژبې د زده کړې لپاره استرالیا ته راغلي او له هغو څخه څو تنه دلته پاتې شوي وو، خو تر یو منظم پروګرام لاندې او د پناه غوښتونکو په توګه استرالیا ته د افغانانو راتګ هماغه له ۱۹۸۰ کال څخه پیل شو چې تر نن پورې یې لړۍ تر مختلفو پروګرامونو لاندې روانه ده. له ۱۹۸۰ کال څخه د ۱۹۹۸ کال تر نیمایي پورې ټول ۷۰۲۲ تنه افغانان په استرالیا کې ومنل شول، چې البته دا شمېر په هماغه موده کې استرالیا ته د راغلو ټولو مهاجرو په سلو کې له ۱،۳۸ څخه نه زیاتېده. د دې مهاجرو زیات شمېر (۴۹،۲٪) په نیو ساوت ویلز او په خاصه توګه د سدني په ښار کې دېره شول. استرالیا ته د راغلو مهاجرو افغانانو شمېر په ټولو کلونو کې یو شان نه و. تر ټولو لږ شمېر یې په ۸۱-۱۹۸۰ کال کې ۳۵ تنه او تر ټولو زیات شمېر یې په ۹۲-۱۹۹۱ کال کې ۹۹۹ تنه و. دا هم باید ووایو چې له پورته مهاجرو څخه په سلو کې له ۸۳ څخه زیات یې د بشري او یا پناه غوښتونکو تر پروګرامونو لاندې په استرالیا کې منل شوي وو. په ۱۹۹۲ کال د سدني پر افغان مهاجرو د دې اثر د لیکوال د یوې علمي څېړنې له مخې د دې ښار له افغاني مهاجرو څخه په سلو کې ۵۹،۹ له پاکستان،

۲۴،۲ له هند ، ۵،۱ له ایران، ۸،۲ له افغانستان او ۲،۷ له نورو هېوادونو لکه فرانسې، ایټالیې، امریکا ، روسیې، جرمنې او تایلنډ څخه دلته استرالیا ته راغلي وو. د همدې څېړنې له مخې دا مهاجر استرالیا ته له راتګ څخه پخوا لږ تر لږه د درې میاشتو او زیات تر زیاته د څوارلس کلونو لپاره په پورتنیو هېوادونو کې پاتې شوي وو ، له دې مهاجرو څخه د دوی اکثریت (۸۱،۳٪) استرالیا ته له راتګ څه پخوا یوازې په یو بل هېواد کې پاتې شوي وو ، حال دا چې ځینې نور یې بیا په دوه (۱۵،۵٪) او حتی زیاتو (۳،۱٪) هېوادونو کې د څه مودې لپاره پاتې شوي وو. د افغان مهاجرو زیات شمېر د دې علمي څېړنې په موده کې د سدني او ملبورن په ښارونو کې دېره شوي وو. په بل عبارت د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسیزو کې هر کال په سلو کې له ۷۵ څخه تر ۹۰ پورې استرالیا ته نوي راغلي مهاجر د سدني او یا ملبورن ښارونو ته تللي وو.

له بله پلوه د دې پر او افغان مهاجرین د پخوانیو مهاجرینو په پرتلې، چې ټول له کلیو څخه استرالیا ته راغلي وو ، ټول ښاري مهاجرین وو. په بل عبارت د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو له مهاجرینو څخه چې استرالیا ته راغلي وو ، په سلو کې نژدې ۹۷ یې په ښارونو کې زېږېدلي او په سلو کې نژدې ۹۱ یې د خپل ژوند له پنځو څخه تر لس کلونو پورې په ښارونو کې تېر کړي وو ، چې په هغو کې هم د کابل ښار ونډه ډېره زیاته وه. دا خلک د دوی د هجرت په لومړي هېواد (پاکستان، هند او ایران) کې هم په ښارونو کې اوسېدلي وو. (۹۲،۲٪) چې په هغو کې هم د پېښور (۳۳،۵٪) اسلام آباد (۲۲،۳٪) او نوي ډیلي (۲۴،۹٪) ونډه د پاملرنې وړ وه.

د عمر له پلوه دا مهاجرین هم د لومړي پړاو د مهاجرینو په شان د ځوان عمر خاوندان وو. د ۱۹۹۲ کال د سر شمېرنې د احصائیو له مخې د افغان مهاجرینو د کورنیو د مشرانو منځنی عمر په نیو ساوت ویلز کې ۲۹،۳ کاله او د ټول افغان مهاجرینو لپاره ۲۳ کاله و ، حال دا چې د هغه په پرتلې منځنی عمر د استرالیا د ټول نفوس لپاره ۳۲ کاله وو. دا څرګنده توپیر دوه

علتونه درلودل، یو دا چې په افغانانو کې د ماشومانو شمېر زیات وو او بل دا چې له افغان کورنیو سره د دوی مشران او زاړه استرالیا ته را نه غلل. د دواړو ډلو مهاجرینو ترمنځ یو بل توپیر هم دا و چې پخوا مهاجرین یوازې نارینه استرالیا ته راغلل، حال دا چې د نوي پړاو مهاجرین ټول له خپلو مېرمنو او بچیانو سره مهاجر شول. د شته احصائیو له مخې د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو په مهاجرو کې د ښځو شمېر د نرینه وو په پرتلې زیات وو (د ۹۸،۹ نرینه وو لپاره د ښځو شمېر د ۱۹۹۲ کال د سر شمېرنې له مخې سل تنه وو).

استرالیا ته د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسیزو کې د راغلیو مهاجرو یو بل ځانګړی خصوصیت د دوی زده کړې دي. د ۱۹۹۲ کال د سر شمېرنې له مخې له هغو مهاجرو څخه چې په افغانستان کې زېږېدلي وو لږ تر لږه په سلو کې ۲۷،۸ یې د دولسم ټولګي د فراغت سند تر لاسه کړی او یا یې ترې پورته زده کړه کړې وې. که څه هم دا شمېر د استرالیا د ټول نفوس (۳۵،۴٪) په پرتلې ټیټ و، خو د ځینو نورو پرمختیایي هېوادونو لکه لبنان (۱۵،۲٪) او ویتنام (۱۲،۳٪) خورا لوړ او د پاملرنې وړ و. سره له دې چې د دوی زیات شمېر له خپلو زده کړو څخه په استرالیا کې څرنګه چې ښایي ګټه وانه خستله؛ دا ځکه چې له بهر او مخصوصاً افغانستان څخه د فراغت تر لاسه شوي سندونه په استرالیا کې نه منل کېږي. بل لوی کړاو، چې افغانان ورسره مخامخ وو ژبه وه؛ ځکه افغانان څرنګه چې ښایي په انګرېزي ژبه نه پوهېدل او له دې امله یې له نورو استرالیایانو سره سیالي کولای نه شوه. په بل عبارت استرالیا ته له راغلو افغانانو څخه یوازې په سلو کې ۹،۳ یې د راتګ په وخت کې یو څه انګرېزي ژبه زده وه.

په عمومي ډول استرالیا ته راغلي دو بمه ډله افغانان د لومړۍ ډلې په پرتلې له استرالیایي چاپېریال او ټولنې سره د تطابق په برخه کې له لږ شمېر کړاوونو سره مخامخ شول. په دې برخه کې اساسي عوامل دا و، چې لومړی خو اوس د مهاجرو پر وړاندې د استرالیا د حکومت سیاست پوره بدل

شوی او اوس نو هغه د سپینې استرالیا پالیسۍ لکه څرنګه چې له ۱۹۰۱ کال څخه را په دېخوا په رسمي ډول روانه وه. په دې هېواد کې نه چلېږي، د ملي او بین المللي شرایطو د ا پالیسي د ۱۹۷۰ لسیزې له نیمايي څخه وروسته بنده شوه او پر ځای یې د ګڼ ملیتي یا Multiculturalism پالیسي په هېواد کې روانه ده، چې د هغې له مخې له هېچا سره تبعیضي چلند روا نه ګڼل کېږي او که څوک ترې سرغړونه وکړي، نو جزا هم ورکول کېدای شي. بله یې دا چې د دوهمې ډلې افغانان ښاري خلک دي. دوی په ښارونو کې په ژوند کولو سره د دې ډول ژوند په خصوصیاتو، چې د استرالیا ټولنه یې هم یوه نمونه ده پوره اشنا دي. دوی له داسې یو چاپېریال څخه دلته راغلي دي، چې هلته د مختلفو قومونو خلک اوسېدل؛ ځکه نو له هر ډول خلکو سره د ژوند پوره تجربه لري. وروسته بیا دوی له خپل هېواد څخه هند، پاکستان او یا ایران ته ولاړل. هلته هم د یوې مودې لپاره په ښارونو کې واوسېدل او په دې ډول دوی په بهرني هېواد کې هم د اوسېدو تجربه تر لاسه کړه. وروستۍ خبره هم دا چې په استرالیا کې طبیعي او ټولنیز چاپېریال د نورو اروپایي هېوادونو او حتی امریکا په پرتله توپیر لري؛ دا ځکه چې لومړی خو دا هېواد له جغرافیايي پلوه په اسیا پورې اړه لري او د خلکو خبره د اسیا د لویې وچې خوی او بوی پکې زیات لیدل کېږي. دوهم دا چې دا هېواد ډېر پراخه دی او له همدې کبله د ښاري او کلیوالي ژوند ټول ډولونه پکې لیدل کېږي، په بل عبارت هر څوک کولای شي د ځان د ژوند لپاره په کې مناسب ځای ومومي.

پورتني مطالب په دې معنی نه دي، چې ګویا افغان مهاجر په استرالیا کې له هېڅ ډول خنډونو سره مخامخ نه دي، هسې خو هجرت او بېځایه کېدل حتی که د یو ښار له یوې څنډې څخه بلې برخې ته هم وي له ځان سره کړاوونه لري او یو وخت غواړي ترڅو خلک له نوي چاپېریال سره ځانونه بلد کړي. زیات پوهان په دې عقیده دي، چې د هجرت د مسافې په زیاتېدو سره معمولاً د مهاجرو کړاوونه هم زیاتېږي دا ځکه چې په دې حالت کې د

طبيعي او ټولنيز چاپېريال توپيرونه هم د اصلي ټاټوبي په پرتلې په زياتېدو وي.
په استراليا کې د هر بل مهاجر په شان د افغان مهاجرو يوه ستونزه، خو دا وه چې دوی له خپل ټولنيز چاپېريال څخه لرې شول. دوستان او خپلوان ور څخه پاتې شول او په يوه نوې چاپېريال کې له داسې خلکو سره چې له کلتوري پلوه يې له دوی سره پوره توپير درلود مخامخ شول. له چاپېريال سره په تطابق کې دوی ته لوی خنډ د دوی ژبه وه؛ ځکه په دې هېواد کې ژبه انګرېزي وه او د افغانانو چې څنګه ښايي انګرېزي زده نه وه. له دې امله دوی د خپل راتګ له لومړۍ شېبې څخه د زده کړې، کار موندلو او حتی د ورځني ژوند په چارو کې له خنډونو سره مخامخ شول. دې کار په اقتصادي او ټولنيزو ستونزو سربېره دوی ته روحي فشار لاندې هم راوستل. د دې ډلې افغانانو دوهمه لويه ستونزه دا وه، چې د دوی د زده کړو اسناد دلته په استراليا کې په رسميت ونه پېژندل شول؛ ځکه نو دوی دې ته اړ شول، چې يا خو د انګرېزي ژبې له زده کړې څخه وروسته نوې زده کړه وکړي او يا خو د ټيټې سويې کارونو ته غاړه کېږدي. بله ستونزه د دوی لوړې غوښتنې او توقعات وو. دوی زيات شمېر پرته له کومې لومړنۍ څېړنې دې هېواد ته مهاجر شول، په دې ډول چې زيات شمېر يې حتی په دې نه پوهېدل، چې استراليا څه ډول هېواد دی، چېرته پروت دی، څوک په کې ژوند کوي، څه ډول تاريخ لري او څه شيان پکې موندل کېږي؟ له دوی څخه يو شمېر چې ژوند يې له خطر سره مخامخ و او يا تر سخت اقتصادي او يا سياسي فشار لاندې وو، غوښتل يې چې هر چېرته وي، خو مقصد له روانو ستونزو څخه وژغورل شي. بلې ډلې چې د لوېديز د شنو او سرو ښونو په هکله يې زيات څه اورېدلي او دې جنتونو ته د رسېدو لپاره لېواله وو، داسې انګېرله چې مقصد يو ځل د لوېديز هر هېواد ته چې وي ځانونه ورسوي، نو بيا به خدای (ج) هر څه سم کړي، خو له بده مرغه چې واقعيت بل ډول و. دلته آزاده ټولنه او د سيالۍ دنيا وه؛ ځکه نو دوی دې ته اړ شول، چې د کار د موندلو لپاره

نورو سره سیالي وکړي، حال دا چې دوی د دې هېواد له پخوانیو او سېدونکو سره چې ژبه یې زده وه، همدلته یې زده کړې ترسره کړې او د کار تجربه یې درلوده، د دې ډول سیالۍ توان نه درلود؛ ځکه نو له دوی څخه یوه ډله ځوانان چې د لږ عمر خاوندان وو او امکانات ورته برابر وو، په زده کړو بوخت شول او پاتې نور یې یا خو په ډېر عادي کارونو بوخت شول او یا خو یې دا غوره وګڼله، چې تر پایه پورې بې روزګاره پاتې شي او د وزګارانو په ډېرو لږو پیسو، چې د حکومت لخوا ورکول کېدې شپې ورځې تېرې کړي.
له بده مرغه چې دا ډله افغانان هم د لومړۍ ډلې افغانانو په شان د خپل کلتور د ساتنې لپاره امکانات په اختیار کې نه لري، ځینې خو لا د دې خبرې هېڅ خیال هم نه ساتي. رښتیا خبره یې دا ده چې نن سبا د دوی د کلتور د له لاسه ورکولو امکانات له پخوا څخه ډېر زیات دي. په پخوا وختونو یعنې نولسمې پېړۍ کې افغانان به په جلا کلیو کې اوسېدل او د استرالیا له اروپایي ټولنې سره یې اړیکې ټینګې نه وې او د اړیکو د ټینګولو امکانات او وسایل هم ډېر محدود وو، خو اوس دوی په ټولنه کې له اروپایي الاصله استرالیایانو او نورو سره ګډ ژوند لري. ماشومان یې ښوونځیو ته ځي او له ټلویزیون، راډیو اونورو وسایلو څخه ګټه اخلي. په لنډ ډول د کلتور د له منځه تللو عملیه په اوسنیو افغانانو کې د پخوانیو په پرتلې ډېره چټکه ده. اصلي خبره دا ده چې د پخوانیو افغانانو لپاره د دوی د کلتور ساتنې تر هرڅه زیات اهمیت درلود. دوی پخپلو اسلامي عقایدو او د پښتونولۍ پر اساساتو ټینګ ولاړ وو او د ساتنې لپاره یې د هر ډول قربانۍ ورکولو ته تیار وو، د دوی مېرمنې ټولې له تور پوستو او یا اروپایانو څخه وې، خو چې کله یې له دوی سره ژوند غوره کړ، نو تر پایه په اسلامي او پښتني دودونو ټینګې ولاړې پاتې شوې. په داسې ډول چې ځینې دا ډول کلتوري ممیزات لکه مېلمه پالنه او نور حتی د دوی په څلورم نسل کې هم لیدلای شو، خو په ډېرې خواشینۍ سره چې په اوسنیو افغانانو

کې واقعيت په کلي ډول د دې پر خلاف دی. او سني افغانان د ژبې، سيمې، مذهب او سياست له پلوه په مختلفو ډلو وېشل شوي دي او ژوند يې په ماديا تو ولاړ دی او د زياتو لپاره د کلتور د ساتنې اهميت په درېيمه او يا څلورمه درجه کې راځي. ځينې خو لا پخپل پخواني کلتور ملنډې وهي او پخپل هويت شرمېږي. د حيرانتيا خبره نه ده، چې که دا لړۍ همداسې روانه وي، نو لږ تر لږه په درېيم نسل کې به د افغاني کلتور ټولې نښې له استراليايي ټولنې څخه ورکې شي. يو علت يې هم دا دی چې له بده مرغه په استراليا کې افغاني ټولنې د خپل کلتور د ساتنې لپاره ډېر لږ څه تر سره کړي دي. اصلاً په کورنيو کې په خاص ډول او په ټولنې کې په عمومي ډول د يووالي او پيوستون کړۍ، چې د افغاني ټولنې ځانګړې خصوصيت و شلېدلې ده. دلته هېڅ داسې هڅه چې ګوندې د افغانانو ويا ړلی کلتور له ورکېدو څخه وژغوري نه ليدل کېږي. دا ښکاره خبره ده چې نن سبا موږ په يوويشتمه پېړۍ کې ژوند کوو؛ ځکه نو د مسلط کلتور له سېلاو سره په مقابله کې د خپل پخواني کلتور ساتنه به څه آسانه کار نه وي، خو ځينې ټولنې شته چې حتی په همدې طوفاني شرايطو کې يې هم خپل کلتوري ځانګړې خصوصيات څه ناڅه ژغورلي او ساتلي دي.

***

| | |
|---|---|
| Book Name | Afghans in Australia |
| Author | Prof Hamidullah Amin |
| Publisher | Afghanic |
| Published | 2016, Second Edittion |
| Copies | 500 |
| Printed at | Sahar Printing Press |

ISBN 978-9936-620-33-9